# د پښتو

www.libtool.com.cn

# پخوانۍ تذکرې

لیکونکی

حبیب الله رفیع

خپرونکی

د افغانستان اکاډیمي

د تاریخ او ادب ټولنه

۱۳۵۰

دتاریخ اوادب ټولنی

خپرونی: نمبر «۱۰۲»

دافغانستان اکاډیمی

خپرونی: نمبر «۸»

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ACKU

د پښتو

# پخوانی تذکری

لیکونکی

جبیب الله رفیع

خپروونکی

دافغانستان اکاډیمی

دتاریخ اوادب ټولنه

کابل- دولتی مطبعه

د۱۳۵۰ کال دوری «۱»

www.libtool.com.cn

# ترون

## دلوی اوخواخوږی پښتون
## «محمد هوتك» لهٔنامه سره

دارساله پهٔ ۱۳۵۰ لمریز کال ددولتی‌مطبعی دلینو تایپ پهٔ‌خانگه‌کی‌ترتیب
اویوزرتوکه خپره شوه.

www.libtool.com.cn

# بسمه تعالی

تذکره نویسی وترتیب کتا بهای شرح احوال وآثار شاعران از زمان قدیم دربین مردم مشرق زمین رسم بوده است.
اگرچه به‌صدها جلد کتاب ازهمین نوع تذکره یا طبقات شعراء یامجموعه ومنتخب و سفینه و بیاض و جنگ (بضمهٔ اول) از زبان عربی ودری و پښتو وغیره درتصاریف روز گار از بین رفته و گم گردیده است.
بازهم آنچه باقی مانده وبدست ما رسیده به‌قول یکی ازفضلاء «اعز من الکبریت الاحمر» است.

درین گونه کتب بسا از نواد راشعار السنهٔ شرقیه باقی مانده واقوال شعرایی را حفظ کرده اند که دواوین ایشان موجود بوده، ولی اکنون مفقود است، مانند دیوان اشعار قدیمترین شاعر شیوا زبان دری حنظلهٔ بادغیسی (۱) وابوعبدالله جعفربن محمد رودکی (۲) وغیرهما.
فن تذکره نویسی در زبان دری بعد از محمد عوفی (۶۲۵ هـ) مؤلف لباب الالباب رواج یافت و صدها کتب تذکرة الشعراء تألیف گردید، ولی کتابهای تذکره که پیش ازمحمدعوفی نوشته بودند، اکنون در دست نیست مثلا مامناقب الشعراء تألیف موفق الدوله ابوطاهر خاتونی وزیر

---

(۱) به قول نظامی عروضی روزی احمد بن عبدالله خجستانی (مقتول ۲۶۲هـ) دوبیت رادردیوان حنظلهٔ باد غیسی خواند (چهار مقاله طبع دکتور معین) وازین برمی آید که وی دیوان اشعار داشت.
(۲) عوفی گوید: اشعار او صدفتر برآمده است (لباب الالباب ۲۴۶) رشیدی گفت: شعر او را من‌شمردم سیزده ره صد هزار؟

سلاجقه (حدود ۵۰۰ ه) راکه یکی از قدیمترین این نوع کتب به زبان دری بود . صرف از قول دو لت شاه (۳) و حاجی خلیفه (٤) می شناسیم ، که در حدود چهار وپنج صد سال بعداز او میزیستند ، واین کتاب گرانبها اکنون مفقود است .

در کتب تذکره واشباه آن بزبان عربی هم ، چنین کتابهای گم شده رابوسیلهٔ مولفات مابعد میشناسیم، مثلا قدیم ترین کتاب طبقات الشعراء تالیف محمد بن داؤد(۵) وبعداز آن طبقات الشعراء(٦) تالیف دعبل بن علی خزاعی (متوفا ۲۷٦ ه ) که ازمهم ترین کتب ادب و شعر عربی بوده اکنون دردست نیست ، باوجودیکه مؤلفان مابعدازوجودآن اطلاع داده وهم استفاده کرده اند .

زبان پښتووتاریخ ادبیات آن بیشتر از تازی ودری بدین فقدان منابع مبتلاست ، زیرا سر زمین گویندگان این زبان قدیم آریائی ، از عصر هخامنشیان واسکندر تا قرن نوزدهم و زمان استعمار انگلیس برهند ، همواره ممر جهان گیران شرقی وغربی بوده واکثر آثار این زبان، درین گیرو دارهای ممتد وطولانی از بین رفته است .

در اوایل قرن دوازده ه هنگامیکه بعداز مجاهدات طولانی مرحوم حاجی میرویس خان ، در قندهار یك حکومت ملی به وجود آمد ومردم بعداز یك قرن دورهٔ اغتشاش واسارت ومبارزه، روی آرامی رادیدند ، منشی در بار شاه حسین هوتك بن میرویس خان که محمد بن داؤد خان هو تك نام داشت ومرد بصیر و نویسندهٔ فاضلی بود ، باین نقص زبان پښتو ملتفت گردید ، وکتابی در تذکرهٔ شعرای پښتو به نام **پټه خزانه** نوشت ۱۱٤۲ ه . که از روی نسخهٔ واحد خطی کتابخانهٔ عامه کابل ، تا کنون دوبار با حواشی و ترتیب وتعلیقات من طبع شده است :

طبع نخستین کابل ۱۳۲۳ ش

طبع دوم تهران ۱۳۳۹ ش

---

(۳) تذکرة الشعراء ۵۸ تالیف ۸۹۲ ه .

(٤) کشف الظنون ۲ر۱۸٤۲

(۵) الفهرست ٤۸ و کتاب الوزراء جهشیاری ۲۵۹

(٦) خزانة الادب ۱۲۱



www.libtool.com.cn

این کتاب به‌مفهوم کامل یک تذکرهٔ شعراست، که‌مابه وسیلهٔ آن چند کتاب دیگری راهم از اشباه‌تذکرهٔ شعرای پښتو شناخته ایم واین کتابها اگرچه مخصوص ذکرشعراء نبوده ولی‌نمونه هایی از اشعار قدیم زبان پښتو داشته است،مانند تذکرهٔ اولیاء تالیف سلیما ن ماکو (۶۱۲ه)وتاریخ سوری‌محمد بن علی بستی (حدود ۶۴۰ ه) وغیره که‌درین کتاب ذکر و معرفی آن به تفصیل آمده است .

باری شرح و تعریف چنین کتاب‌های تذکرهٔ‌شعراء واشباه ونظا ئر آن‌در زبان ملی پښتو همواره‌مطلوب‌بود ،واینك بناغلی حبیب الله رفیع وردگ عضو فعال ودانشمند انجمن‌تاریخ وادب همت گماشت واین رساله رادربارهٔ کتب قدیم پښتو تازمان تألیف پټه خزانه نوشت ،وهر کتاب را به‌صورت تحلیلی دقیق معرفی کرد .

وی‌درصدد آنست که‌جلد دوم‌این‌مبحث رادر شرح کتب تذکره و نظائر آن که‌در قرن اخیر نگاشته شده تکمیل نماید .

انجمن تاریخ وادب چون این‌رساله‌را درموضوع خویش که یک شق تاریخ ادبیات پښتو با شدمفید دید ،به نشر آن اقدام نمود وامیدوار است که در آینده نیز آثار سودمند پښتو رانشر نماید .

۶حوت ۱۳۴۹

**عبدالحی حبیبی**

**رئیس انجمن تاریخ وادب**

# دسر خبري

دا خو ثابته او منل شوی خبره‌ده چې پښتو دافغانستان یــو • لرغونی او تاریخي ژبــه ده چــې دزرگونو کلو نو پـــه اوږدو کــې : افهام او تفهیم پر ی شـــو ی،ډېرلیکو نه پـری لیکـل شـو ی ، شعرونه او سندري پری ویلـــــی‌شوی او رسالي او کتابونه پکـــی لیکلي شوی دی ؛ او پـــه پښتنوګی عالمان او پوهـان تیر شو ی ، لیکوا لان او شاعر ان پکې منـــځته راغلي او دتور ی اوقلم خاوندان یې وار په وار ټولنې ته وړا نـدې‌کړی دی ، چې کار نا مې به‌یې د نـــل له پاره دملي تاریخ پـــه‌رنګینو پاڼو کې په‌زرینو کر ښــو لیک وی .

خوله دی سره ـ سره دپښتنـــو په خاوره باندی دخار جي یرغلګرو او متجاوز ینـو دتـاړا کو نـو اویر غلونو او د داخلي اړ دوړو نـو اوپیښو په‌اثر پښتو ته‌لکه څرنګـه‌چې لازمه وه په هغی اندازه‌پاملرنه نه وه شوی اوهم که دتذ یخ پــه‌ځینی دورو کـــې رو زل شـو ی او پالل شوی وه ، اود لویکانـــو،غوریانو ، سور یانو ، لود یانـو، هو تکیانو او نورو شاهي اوعلمـی‌کورنیو له خوا لوړ مقام ور تــــه ورکړل شوی ؤ خو په ځینی نورودورو کي بیخی له‌نظر ه لو ید لـی وه او حتـی د ځینـی قصـــد ی‌دښمنیو په اثر له صحنی څخــه ایستل شوی او دپخوا نی روزنی‌درو ښانه لمر مخـی تـه یـی هـم وریځی درول شو ی وی .

له‌نیکه مرغه د«تذکرة الاولیاء »،«بټې خزانی» او نـورولـو غـو نو آثارو په پیدا کید لو سره دپښتودرو ښانه ماضی له‌مخ څخه څــه

ناخــــه پرده پور تــه شــوه او داقیمتي آثار د پښتو ژبې دنـــو ی تاریخي دورې سره دهغې دلرغوني‌رو بنسانه تاریخي دورې د ښلو لو دکړي په‌حیث ثابت شو ل چـــي‌دپښتو ژبې تاریخي تسلسل یـــی له تزلزل څخه خو ندی کــړ اوخصوصاً دپټې خزانې له قـیـمتي غمیو څخه دپښتو ژبې په هره‌برخه‌رڼا ولو یـده او دپـښتو ژبـې د سوا بقو ، آثـارو ، اشعـا رو ،لغاتو اونورو دغنا اوپو خوالي پــه باب‌یې ډیر خــه ز موږ تر لاســـه‌را ورسول چـــی په خـپل وار به مفصلي خبرې پرې‌وکړو .

نو :

دا اثــر هم چې دېور تنیـــوقیمتي آثارو په‌رڼا کـــي د پښتو په یو شمیر لرغونو تذکرو رڼا اچوي دپښتـــو د لـرغونـو آثـارو سره دپېژندګلوۍ په منظور لیکلي شوی‌دی .

په دې اثر کې د پښتـــو هغـه‌تذکرې چـی یا خویـی مستقیـمـاً خــــو پاڼې ، یا ټولې لاس ته‌راغلي‌اویا یـی پـه غیر مستــقـیم ډول مطالب مورته را رسید لي او لـــه‌نامه سره یې اشنا شوی یومعرفي کیږي ؛ داهم باید و وایو چــی دپښتو پخوانۍ تـــذ کرې ددې اثر په معر في شوو تذکرو پــو ر ی‌محصور ی نه دي ، بلکه زه بـاور لـــرم چې د پښتو زیات شمیـــرداراز تذکرې اوقیمتي آثاربه ورک ، سوي ، پـه زړو قبرونـوکـی خښ‌او یـا پـه زړو کـو رو نـو کـی د «تبرک» له‌پاره دو دونو ته پرا ته‌وی ؛ همدا راز دپښتو انتخا بـــی آثار او مجمو عې ډیرې زیا تـــی‌دی چې په دې اثر کـــي پـه لنډ ډول خـــو کتا بـو نــه ښـو دل‌کیږي .

ددې سلسلې بلـه برخه اوسنۍ‌هغه تـــذ کرې دي چې او سنیو لیکوالو لیکلي او پخوانې او اسنــی شاعـران او ادیـبان یـی پکـی معرفي کړي دي ؛ دابر خه په‌نو ی‌او انتقادي ډول لیکله کـیږي چـی د دې سلسلې دبشپړ توب له پاره‌به‌یې « دپښتو او سنۍ تذکـرې » په نامه په خپل وار په ځا نګـړي‌تـوګ کـی وړاندې کړو .

حبیب الله «رفیع»
کابل – باغ بالا مینه
۱۷ر٤ر۱۳٤۹

www.libtool.com.cn

# دمطالبو فهرست


| | |
|---|---|
| **سرليك** | مخ |
| **تذكرةالاولياء** | ١ |
| دتذكرةالاولياء دليكلو وخت | ١ |
| دتذكرة الاولياء ليكونكي | ٢ |
| دتذكرة الاولياء محتويات | ٣ |
| دتذة الاولياء نثر | ٣ |
| دتذكرة الاولياء نظم | ٧ |
| دتذةالاولياء سوچه لغات اومحاوري | ٨ |
| دتذكرة الاولياء ليك دود | ٩ |
| دتذكرة الاولياء دنثر نمونه | ١١ |
| له تذكرة الاولياء څخه د نظم نمونه | ١٣ |
| **تاريخ سوری** | ١٥ |
| دتاريخ سوری دليكلو وخت | ١٦ |
| دتاريخ سوری ليكونكي | ١٦ |
| دتاريخ سوری محتويات | ١٦ |
| دتاريخ سوری نظم | ١٧ |
| دتاريخ سوری سوچه لغات | ١٨ |
| دتاريخ سوری دنظم نمونه | ١٨ |
| **اعلام اللوذعی فی اخباراللودی** | ٢٠ |
| داخبار اللودی دليكلو وخت | ٢٠ |
| داخبار اللودی ليكونكي | ٢١ |
| داخبار اللودی محتويات | ٢٢ |
| داخبار اللودی نظم | ٢٢ |
| داخبار اللودی سوچه لغات | ٢٢ |
| داخبار اللودی دنظم نمونه | ٢٣ |

## سرلیك


| | مخ |
| --- | --- |
| **لرغونی پښتانه** | ٢٤ |
| دلرغونی پښتانه دلیکلو وخت | ٢٤ |
| دلرغونی پښتانه لیکونکی | ٢٥ |
| دلرغونی پښتانه محتویات | ٢٥ |
| دلرغونی پښتانه نظم | ٢٥ |
| د لرغونی پښتانه سوچه لغات | ٢٦ |
| دلرغونی پښتانه دنظم نمونه | ٢٦ |
| **غرغښت نامه** | ٢٨ |
| دغرغښت نامي دلیکلو وخت | ٢٨ |
| دغرغښت نامي لیکونکی | ٢٩ |
| دغر غښت نامی محتویات | ٢٩ |
| دغرغښت نامي سوچه لغات | ٣٠ |
| دغرغښت نامي دنظم نمونه | ٣٠ |
| **بستان‌الاولیاء** | ٣١ |
| دبستان الاولیاء لیکونکی | ٣١ |
| دبستان الاولیاء دلیکلو وخت‌اومحتویات | ٣٢ |
| دبستان‌الاولیاء نظم | ٣٣ |
| دبستان‌الاولیاء سوچه لغات | ٣٣ |
| دبستان الاولیاء دنظم نمونه | ٣٤ |
| **تذکرة اولیای افغان** | ٣٥ |
| دلیکلو وخت اولیکونکی | ٣٥ |
| **تحفهٔ صالح** | ٣٧ |
| دتحفهٔ صالح لیکونکی | ٣٧ |
| دتحفهٔ صالح د لیکلووخت اومحتویات | ٣٧ |
| دتحفهٔ صالح نظم | ٣٨ |
| دتحفهٔ صالح دنظم نمونه | ٣٨ |
| **کلید کامرانی** | ٤٠ |
| دکلید کامرانی لیکونکی | ٤١ |
| دکلید کامرانی دلیکلو وخت | ٤١ |
| دکلید کامرانی محتویات | ٤١ |
| دکلید کامرانی دنظم نمونه | ٤١ |

| | |
|---|---|
| **سرلیك** | **مخ** |
| **اولیای افغان** | ٤٢ |
| داولیای افغان لیکونکی | ٤٢ |
| داولیای دافغان دلیکلو وخت | ٤٣ |
| داولیای افغان محتویات | ٤٣ |
| **بیاض** | ٤٤ |
| دبیاض لیکونکی | ٤٤ |
| دبیاض دلیکلووخت اومحتویات | ٤٤ |
| دبیاض نظم | ٤٥ |
| دبیاض دنظم نمونه | ٤٥ |
| **پټه خزانه** | ٤٧ |
| دپټې خزانې لیکونکی | ٤٧ |
| هوتك اودهوتکو دوره | ٤٩ |
| دپټې خزانې دلیکلو وخت | ٥٠ |
| دپټې خزانې محتویات | ٥١ |
| پټه خزانه له‌کومه شوه ؟ | ٥٢ |
| دپټې خزانې قلمی نسخې | ٥٣ |
| دپټې خزانې مآخذ | ٥٧ |
| دپټې خزانې نثر | ٥٨ |
| دپټې خزانې نظم | ٥٩ |
| دپټې خزانې سوچه لغات | ٦٠ |
| د پټې خزانې دنثرنمونه | ٦١ |
| دپټې خزانې دشعر نمونه | ٦١ |
| **ددې دورې هغه آثارچې‌دتذکروحیثیت لری** | ٦٣ |
| مخزن‌الاسلام | ٦٣ |
| دپښتو یوه‌بې‌نومه قلمي‌مجموعه | ٦٤ |
| چمن بی‌نظیر | ٦٤ |
| یوپښتو قلمی جونگ | ٦٥ |
| گلشن روه | ٦٥ |
| کلید افغانی | ٦٨ |
| دپښتونخوا دشعر هاروبهار | ٦٩ |
| بهار گلشن افغانی | ٧٠ |

| سر لیك | مخ |
|---|---|
| جشن نوروزی | ۷۱ |
| بهار نوروزی | ۷۱ |
| بهارستان افغانی | ۷۱ |
| شکرستان افغانی | ۷۲ |
| گلزار مدینه | ۷۲ |
| بهار جانان | ۷۳ |
| **یادونه** | ۷۳ |
| **مآخذ** | ۷٤ |
| **فهرستونه** | ۷۷ |
| دخلکو نومونه | ۷۷ |
| دځایو نومونه | ۸۳ |
| دټبرو نومونه | ۸٤ |
| دکتابو نومونه | ۸٥ |
| متفرق نومونه | ۸۷ |


* * *

www.libtool.com.cn

# سمون ليك

له درنو ټوسټونکوڅخه هيلهده‌چي له ټوستلو نه مخکي به دالاندي غلطۍ سمي اوبيابه په ټوستلو پيل‌وکړی :

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ٥،٢ | ٢٦،١٣ | پښتو | پښتنو |
| ٧ | ٣ | وړکړه | ورکړه |
| ٨ | ١٦ | نظ اونه | نظمونه |
| ٩ | ١٣ | کښي | کي |
| ١٧ | ٣(له‌پای نه) | زبه | ژبه |
| ٢١ | ١٦ | له منځنه | له منځه |
| ٤١،٢٣ | ٦،٧ | شيخ حميد | شيخ رضی |
| ٢٤ | ١٤ | پښانه | پښتانه |
| ٣٢ | ١٤ | وکړي! | به وکړي! |
| ٣٢ | ٢٣ | خولي | له خولي |
| ٤٢ | ١٩ | شيخ قاسم | شيخ‌امام‌الدين |
| ٤٦ | ٨ | باعی | رباعی |
| ٥٩ | ٢(له‌پای نه) | ددي قصيدو | ددری قصيدو |
| ٦٠ | ٤ | يوه | ديوه |
| ٧٠ | ٩ | يي | (زيات دی) |

www.libtool.com.cn

## ((۱))

# تذکرة الاولیاء

«تذکرة الاولیاء» تر اوسه‌دپښتو لومړنی تذکره ده چې موږ یې پیژنو او خو پاڼې یې لاس ته راغلې دي ، تر دی تذکرې دمخه په‌پښتو کې موږته تذکره څه‌چې حتی «دسالووږمه» څخه پرته بل منثور کتاب هم نه‌ؤ معلوم ؛ نو دادی تر ټولو دمخه لازم ګڼم چې تذکرة الاو لیاء و رپیژنو او هغه معلو مات چې ددی کتاب په باب ز موږ محتر م محققینو لیکلی د لته را غو نډ کړم .

## د تذکرة الا و لیاء دلیکلو وخت :

تذکرة الاولیاء له ٦١٢ هـ.ق څخه را ورو سته تألیف شو ی خو دا پوره معلومه نه ده چې په همدی‌پورتنی که په کوم بل را وروسته کال به‌لیکله شوی‌وی؟ خو هو !دلیکلو اود مواد و راغو نډ ولو اقدام خو یې په همدی پورته کال‌شوی دی ؛ ځکه په دی باره کې چې په خپله سلیمان ماکو دتذکری‌لیکو نکی وایي: «.... په سن دوولس شپږ صوه (سوه) دهجری‌تللی وم او دپښتنخا (پښتونخوا) په راغو او کلیو ګر ځیدم اومراقدداولیا او واصلینو می پلټل او په هر لوری می کا ملان موندل او د دوی په خد مت خا کپای اوهر کله په‌سلام ورته ولاړ ، چې له‌دی‌سفره په‌کور کښینستم‌او تنها کی می وچا و دلی دپښو بیاپا خیدو لم او له ښتنه می مرستون شوم چې احوال د هغو کاملا نو وکاږم او دوی چې هغه ویناوی پاته کړی او پښتانه په‌ټولی اوس ... » (۱)



www.libtool.com.cn

زمونږ تذکرة الاولیاء لکه دشیخ عطار تذ کرة الاو لیا ء غوندی یوازی د اولیاؤ د زهد اوتقوی کیسی نه کوی بلکه دهغوی سیر ، اخلاق ، کور نی ، دژوند زمانه او ادبی مقام بیل-بیل رانبیی ؛ همدا رنګه په دی تذکره‌کې هغه مستند معلومات را ټول شوی کوم چی د دی تذ کر ی‌سترګور مولف یاپه خپلو ستر ګو لیدلی اویایی دپښتو نخوا له‌کا ملا نو څخه او رید لی دی اودا تذ کره یی ورو سته له ډیر وپلټنو اولیدنوکتنو لیکلی دهچی‌په‌دی سبب دا دپښتو یوه مستنده اوموثو قه تذکره ده خوله بده مر غه چی پرته له‌اوومخو ددی تذکری‌نوری پاڼی له منځه تللی دی او دا اووه مخه‌هم د هیواد دپیاوړی‌محقق پوهاند عبدالحی «حبیبی» په زیار پیدا شوی او هم دنو مو ړی‌محقق له خواپه لومړی ځل ک «پښتانه شعرا ء » او د ۱۳۱۹ هـ،ش کال په کابل کا لنی کی زینکو ګراف شوی دی . داتذ کره‌سر بیره پردی چی د پښتو او لیا ؤ اوعار فانو اخلاق او احوال‌بیانوی د دوی دکلام نمو نی هم لری اوهم د دوی روحانی مقا مات‌اود تصوف برخه څر ګندوی ؛ نو له‌دی جهته موږ دا تذ کره دتذکرۀ اولیاء او تذ کر ۀ شعراء تر منځ یوه جا معه نسخه ګڼلی‌شو .(۲)

## د تذکرة الاو لیاء لیکونکی :

ددی قیمتی کتاب لیکو نکی‌سلیمان دبار ك خان صا بزی ماکو زوی دی چی دکند هار په‌ارغسان کې او سیده ؛ لکه په دی باره کې چی دی په خپله‌له حمداو نعت‌څخه وروسته وایی: «... امابعد زه‌غریب خاوری سلیمان‌زوی دبارك خان ماکو صابزی چی په ویاله دارغسان هو سیږم او په‌دی مز کو‌پا ئیږ م ... » (۳) د«ماکو» قام په باره‌کی استاد حبیبی‌د پښتو ادبیاتو د تاریخ په دو هم ټوك کی داسی لیکی: «دماکو قو م‌تر اوسه هم لږ تعداد هوری‌اوسی اوپه ابدالیو (درانیو) کی شاملیږی....» (٤)

لکه مو ږ مخکی هم ولو ستل‌چی سلیمان ماکو دتذ کرة الاولیاء د لیکلو له‌پاره په راغو او کلیوګرځید لی ، داو لیا ؤ او واصلینو مرا قدیی پلټلی او په‌هر لور یی‌کا ملان مو ندلی ، هغوی ته په

سلام ولاړ اود هغوی خدمت یې کړی دی چې بالاخره او ورو ستــه لەدی سفره یې دخپل دی گټو راټــرپــه تألیف پیل کــړی او د پښتــو دالو مړنی او قیمتی تــذکره یې دعمل ډگر ته را ایستلی ده ، خــو د افسوس ځای دی چــې دا تــذکره پوره لاس ته نــه ده راغلــی او نیمگړی ده نو که خدای وکړه او ددی تــذکری نوری پاڼې هم لاس ته راغلی د پښتو په ادبی تاریــخ کې به ستره اضافه وی .

## د تذکرة الاولیاء محتویات :

د دی تــذکری په موجوده او ومخو کــې د پښتو دالا نــدی خلور تنه عار فان پیژ ندل شوی او ددوی د کــلام نمو نی راوړلــی شوی دی :

١ ــ قدوة الواصلین شیــخ مشا یخ بیټنی .
٢ ــ شیخ ملکیار .
٣ ــ شیخ اسما عیل .
٤ــ بختیار .

دا هغه خلور تنه د پښتــو عار فان دی چې ددی تــذکری له موجوده پاڼو څخه لاس ته راغلی ، خو هو که داتــذکره ټوله لاس ته راغلی وای ممکن چې ډیرو نورو پښتنو عــار فانــو او ادیبا نــو له خیرو سره هم اشنا شـــو ی وای .

## دتــذکرة الاولیاء نثر:

خرنگه چې دتذکرة الا ولیاء نــه مخکی دموږ لاس ته دپښتو بــل کوم منثور اثر نەدی راغلی نو لــه دی نه دبله نه شو کولای چې دد ی تذکــري نــثر د هغه وخــت لــه نورو نــثرو سره پرتله کــړو ؛خــو ددی تذکری دنثر دپو خوالــی لــه مخــی دومره ویــلای شو چې دپښتو نثر لەدی تذکری نه مخکــی هم اوږده ماضی تیره کــړ ی ده او لکه په دی لــړ کــې چې مــوږته د ٢٠٠ هـ.ق کال پــه حــد ود «دسالو وږمه» په نامه یو بـــل منثور کتاب هم معلــوم دی خــو خرنگه چې دنو مو ړی کتاب متـــن زموږ پەلاس کې نشته او یــوا زی دپټې خزانی دلیکنی په استناد (٥) یې محض په نامه پیژنو اوبس نــو

ځکه دتذ کرة الاولیاء نثر لو مړی نثر دی چی زمو ږ لاس ته راغلی خو بیا هم باید و وایو خرنګه چی دتذ کری تول متن په لاس کي نشته، نو په قطعی تو ګه حتی دتذکری په خپل نثر کي هم قضاوت نه شو کولی اوددی تذکری د نثر تول خصوصیات نه شو بیانو لی خو بیا هم هغه نظریات چی دپښتو محققین یی ددی تذکری دنثر په باب لری دلته سره له خپلو نظر یاتو لیکل غواړم .

پو هاند حبیبی ددی تذکری دنثر په باره کی داسی لیکی : تردی دمخه د پښتو نثر کومه منثوره نمونه موږ ته نه ده معلو مه چی پخوا به دپښتو نثر ځنګه ؤ ؟ اوځه سبك او ډول یی لاره ؟ خودسلیمان ماکود نثر پوخوالي او متانت داراته ځرګندوی چی ددغه عصر نثرونه به دغسی پاخه وو او لکه دپارسی نثر چي هم په دغو غزنوی او غوری دو رو کي متین ، بوخ اوخوږ ؤ ، دپښتو نثر به ښه او د فصاحت اصولو ته نژدی ؤ (٦) بیا ورو سته پسی لیکی : دا نثرونه که په تحلیلی ستر ګه وکتل شی ترد غو درو عوا ملو لاندی یی نشوو نماوا ته ښکار ه کیږی اوپه هغه ادبی محیط کی چی دی نثر وجود موندلیؤ همدا دری عوامل مو جود وو :

١ – دپښتو ژبی خپل اثرچی سلیمان پښتو نؤ او دپښتو ژبی ویو نکی ؤ نو طبیعی ده چی دغه عامل به دده د نثر پرادبی بنیه او جوړ ښت پوره اثر در لوداو ښایی چی تردده دمخه چی کوم نثاران موجود وو دهغو دلیکلوسبك بههم پرده د رو ند اثر لاره .

٢ – په پارسی ژ به کیچی کوم ادبی حرکت مو جود ؤ او دسلیمان ماحو ل یی نیولی ؤضرور بهیی دده پر نثر هم اثر کړی وی . په دغه عصر کیپارسی نثر رشد موندلی ؤ هم په غزنی ، هم په خراسا ن ، هم پههند کی خپل عروج ته رسیدلی ؤ «تاریخ بیهقی» او «زین الاخبار» اود محمد عوفی «لباب الا لباب» او «جوامع الحکا یات» او «تاریخسیستان »او بیا «طبقات نا صر ی» اونور کتب ددغه عصر مهم منثو رآثار دی ځکه چی پښتو هم دد غی

ادبی چاپیر په منځ کی ژو ند کاوه‌نو یی اغیزی هم طبیعی د ی.

۳ ــ په دغه عصر کې عر بی‌ادب او عربی ژبی هم پوره او بشپړ اثر کړی ؤ ، په‌خپله پاړسی نثر هم په ابتدا کې تر دغه اثر لاندی نشو و نما وکړ ه د«۵۰۰هـ» په حدودوکی چی کوم پړسی منثور کتب ولیکل شوه ،دعربی ژبی اغیزی پکې څر ګندی دی ځکه چی پښتنا نه هم دعر بی‌ثقافت سره په دغه زمانه کې پوره ارتباط لری پر پښتو هم دعربی‌اثر شوی دی .

د سلیمان ماکو په حیا تی محیط کی د غه دری سایقه موجود وو ، چی هر یو پر ادبی‌تحول اودلیك اونثر پرډول با ند ی طبعاً اثر کوی اوزه ترهم د غودرو عواملو لاندی دسلیمان نثر تحلیلوم . (۷)

نو مو ړی بنا غلی دا دری‌پور تنی عنوانو نه ( پښتو توب ، دپاړسی او عربی اغیزه) په بشپړډول سره څېړلی خو څر نګه چی دلته دډولو لیکل اوږ دېږی نوځکه‌دهغه بحث لنډ یزلیکم :

د تذکرة الا ولیا ء نثر دپښتو توب له خوا دوه ډوله دی‌چی لومړی یی دادا طرز اوجمله بند ی‌او دوهم یی دعباراتو تلفیق او سره نښلول دی . دپښتو توب له پلوه‌که دده نثر وسپړ و روان او بی تعقیده دی ، جملی یی دور ځنی‌مکالمی رنګك لری ، عبارات یی لنډ ــ لنډ او وا ضح دی اودپښتوډیر زا ړه او مهجو ر کلما ت لری .

همدا رنګه دپاړ سی ژ بی‌اثر هم دتذ کرة الاو لیاء په انشاء کی شته ، په دی نثر کې ځینی تر کیبو نه او جملی شته چی خاص دپاړ سی رنګك لری‌لکه دمضاف الیه دمخه راوړل یاد پاړسی‌کلمو استعما لول اوهمدارنګه‌د تذ کرة الاو لیاء په نثر کی تر پاړسی نه دعر بی اغیزه زیاتــه‌ده او علت یی همدا دی چی عربی په دی وختو کی دپښتو دینی اودرسی ژبه وه؛ مثلا فعل یی تر خپلو متعلقو مفا عیلونه دمخه راوړی‌چی دا دعربی ژبی خاصه ده او همدا رنګه دعر بی کته متهٔ تر جمه‌لکه : «نقل کاوه شی» چی د



www.libtool.com.cn

«نقل» یا «حکی» پښتو تر جمعه‌ده . (۸)

د تذکرة الاولیاء دعر بی‌تر تأثیر لاندی راتلل دپښتو یو بل محقق ښاغلی قیام الدین «خادم» داسی بیان کړی : غټه خبره چی په‌دی نثر کی نظر ته‌راځی داده چی‌په دی کی دعر بی رنګ معلو میږی ، جمله بندی‌او ادایی دعربی دتأثیر لاندی دی ، زه دانه شم ویلای چی هغه‌و خت ګو ندی د پښتو طبیعی آهنګ دغسی و ، بلکه کیدی شی‌چی خپله سلیمان دعر بی تعلیم یافته اوسی نوده چی پښتو نثرلیکلی دی طبعاً دعر بی داثر لاندی راغلی دی ، دسلیمان په عر بی‌تعلیم باندی دا خبره‌هم دلالت‌کوی چی دده په‌نثر کی عربی الفاظ لکه‌قطب ،قدوة الواصلین ، مراقد او داسی نور شته او صحیح‌خبره داده چی په دغه وخت کی پرته له عربی څخه بله د تعلیم‌ذریعه وه‌هم نه .

www.libtool.com.cn

دا چی موږ وویل دده په‌نثر کی دعربی اثر معلو میږی د لاندی جملو څخه ښه ښه څرګندیږی :

۱ ــ وایم حمد او سپاس دلوی خاوند .
۲ ــ نقل کا ندی چی شیخ‌بیټنی هو سیده و په غره دکسی باندی .
۳ــ سړبن نه درلود زامن .
۴ ــ خدای مهربان داسماعیل‌په‌برکت سړ بن ته‌نصیب کړه دونی زامن چی اوس تر وس‌تیرشو ګڼون دهغو .
۵ ــ ډکه شوه مځکه دپښتنخاد دوی په‌کول ...

په پورته جملو کی دعر بی‌رنګ څر ګند دی ، څو ک چی‌د عربی سره اشنایی لری هغوی په خپله پوهیږی . زه‌نه غواړم چی دنحو او جمله بندی داصولوپه بیان چی یو رقم تحصیل د حاصیل یې ګنم ،خپل مضمون اوږدکړم ... هو ! دو مره قدر ی به ووایم چی دغه جملی نن ورځ‌موږ په پښتو کی څه رنګ اداکوو ؟ وګوری ع ! :

۱ــ دلوی خاو نـد حمد اوسپاس وایم .
۲ــ داسی نقل کاندی چی‌شیخ بیټنی د کیسی په غره اوسیده .

٣ ـ سرېبن زا من نه‌در لودل .
٤ ـ مهربان خدای داسماعیل‌په برکت سړ بن ته دو نی زامین
وړکړه چی اوس د هغو گنهو نتروس تېر شو .
٥ ـ د دوی په‌کهول د پښتونخوا مځکه ډکه شوه . (٩)

مطلب داچې دتذکرة الا ولیاءنثر موجز اوله ادبی مزایا ؤ ډك دی له سجع او موا زنی ځخه تروډېره حده په ښنگ دی او لکه د روښنا نیانو او اخوند دروېزه دوی نثر غوندی له تصنع او تکلف ځخه بالکل خالی دی ؛ په ځینی ځایو کې دترنم حروف هم راوړی ـ دتر نم حروف دپښتو په اولسی‌ادبیاتو کې ځای په ځای پیداکېږی خصوصاً په لنډیو کی ستره برخه‌لری او دپښتو زیا تره لنډ ی همدا دترنم په حروفو ختمېږ ی‌لکه په دی لنډ ی‌کی: «دزړه په سر می اور بلیږی * که څوك تو دېږی زما خواته دی راځینه» په تذکرة الاو لیاء کې دتر نم دحروفو په را وړلو سره په هغه کلمو کې ځه نه ځه سجع هم منځته راغلی لیکن داسجع یو طبیعی رنگ لر ی او تکلفی خوا یی کمز وري ده نوځکه په او ریدونکو بنه لگی او لکه د روښانیانواو اخوند درو یزه دوی‌نثر غو ندی سړی یې په ویلو نه ستړی کېږ ی‌او دکوم تکلیف احسا س نه کوی .

## دتذ کرة الاولیاء نظم :

هغه نظمو نه چې په تذکرة الاولیاء کې را غلی خاص ملی رنگ لری او لکه مځکې مو چې‌وویل دتذ کرة الالیاء په نثر کی د عربی او پاړ سی تأثیر ښکار ی‌خو نظمونه‌یی خر نگه چې په داسی وخت کې ویل شوی چې‌هغه و خت دعر بی تأثیر په داسی ځایو ډېر کم ؤ نوځکه دعر بی‌او پاړسی تأثیر نه پکې ښکا رېږی اوبه‌داسی ملی وزم ویل شوی چی‌له ویدی سرو دو نو سره سر لگوی اودنورو آریا یی ژ بوداشعارو په وزن او ترتیب دی او هماغه راز مطالب پکې ځای شو ی‌دی . چې خصو صاً په دې بر خه کې دبیت نیکه شعر دیادو لوو ړ دی مثلا لکه په ویدا کې په چې ویل کیدل : «خدای دژوندون وا کمن دی ، مالك الملك

دی ، دی ښاغلی کورنۍ سرو ته ورکوی ، نو خدایه موږ ستامری یو بې او لا ده بې ښیګڼې‌مومه وژنه ... » (۱۰) نوهمدا رنګه بیت نیکه هم‌ویل :

« داوګړی ډېر کړی خدایه !*لویه خدایه ! لویه خدا یه!» (۱۱)

چې ورو سته به یې په نمو نه‌کې راوړو ؛ یالګه دشیخ ملکیار داحمد سی او رزمی سندره :«ښتن مومل دی» (۱۲) چې په خاص ملی‌وزن او د پښتنی روح‌سره سم ویل شوی ده؛ که څه هم دشیخ اسماعیل پاړکی دعربی‌اودری‌اشعارو په ترتیب دی خو څر نګه چې داپاړکی مذهبی رنګ لری‌او هغه وخت په مذ هبی چا رو کې عربی زیات د خل در لودنو ځکه څه نه څه دعر بی اثر پکې لیدل کیږی خو بیا هم دپښتوزیات سوچه لغات پکې را غلی چې ورو سته به پرې وغږ یږ واوهمدا رنګه دقطب بختیار شعر هم په ملی وزن دی .

هغه نظمو نه چې په‌تذ کرة الاولیاء کې راغلی هر یو هم دموضوع په لحاظ اوهم‌دوزن اوترتیب په لحاظ سره بیل ـ بیل‌دی. مطلب داچې دا ټول نظاونه په سوچه پښتو لغاتو ښکلی شوی ،د پښتو په ملی اوزانو برابر دی اوله‌آریا یی سندرو سره سر لګوی .

## د تذ کرة الاولیاء سو چه‌لغات او محاوری :

تذ کرة الاو لیاء سر ببره‌پردی چې زموږ لاس ته دهغه وخت نظم او نثر را رسو ی، ډیر داسی بوبه پښتو لغات او سو چه محاوری هم راپه‌ګو ته کوی چې‌اوس له استعماله لو ید لی دی .

دبو به لغاتو په برخه کې یې دالاندی لغات د یادولو وړ دی مثلا دګرو هیدل مصدر دګرویدنـاو عقیده کر دن په معنی په تذکرة الاو لیاء کې د همد ی‌څخه « وګرو هېد » په فعلی ډو ل دګرو ید په معنی راغلی دی ، یا«پاړکی» دشعری قطعی په معنی ، همدا رنګه «ستر ښتن» د لو ی‌خدای ، «ګنون» دګڼلو او شمیرلو، «دښن» د دښمن ، «جوبله» دجنګ،«کول» دکور نې او کهول «ستانه» دولی ، «تاتوبی» د مسکن ، «سوبه»دفتح ، «نړی» د دنیا ، «خرڅ» د

خجل او شرمنده ، «میشت» د استوګنی او «هسك» د اسمان په معنی استعمال شوی دی چې پهدی پور تنیو لغاتو کې اکثره داسی لغا ت دی چې او س پهمحاوره کې نشته او که په لیك او ادب کې راننو تی وی هم لههمدی کتاب ځخه ور ته راغلی او ددی کتاب دپاڼو دپیدا کیدو نه مخکی څوك نه وو ور سره اشنا . همدا رنګه ځینی سو چه اصطلا حات او محا ور ی هم یکې راغلې چې دپښتو توب له پلوه دزیات قدرووړدی لکه: «تنهاکیمی وچاو دلی دپښو» چې مطلب یې خپل کورته راتګ ، هو سایی او د سفر د ستړتیا لیری کیدو وختدی، یا مثلا «له ښتنه مې مرستون شوم» چې مر ستو ن دلته دمددغو ښتلو معنی لری او همدا سی نور ...

## د تذ کرة الاو لیاء لیكدود :

په تذ کرة الاو لیاء کښې د پښتو مخصو ص توری لکه : ټ،ځ * ،څ، ډ،ړ،ږ،ښ،او ڼ په همدی اوسنی شکل لیکل شو ی ، دګ توری ته هم کړ ی ورکوی او «ګ» یی لیکی ؛ «و» ، «ه» او «ی» ډیر کم دحر کاتو او خو ځنډوله پاره استعمال شوی دی ؛ د «دی» «می» او «یی» ضمیر ونه بی له «ې»(د،م،ی) لیکی ؛ یوه پهزړه پوری خبره داده چې پهتذ کرة الاولیاء کی د«چی» توری هم په «ی» یعنی « چې» لیکل شو ی چې اوس هم ډیر لیکوال داتور ی په «ی» لیکی چې په دی ډول سره تلفظ ، ادا او ګرامری قوا عد و ته لنډ یږی .

د سلیمان ماکو داملاء نمونه په دی ټوټه کې وګوری ! :
« ... امابعد زه غریب خاوری سلیمان ځو ی دبار ك خان ماکو صابزی چې پ و یاله دارغسانهو سیرم اوپ دمز کو پائیږم پسن

---

* له دی نه بریښی چې دپښتو د «ځ» توری په پخوا و ختو کې هم په همد ی شکل لیکل کیده خو ورو ستهـ ورو سته بیا د «ځ» په شکل او یاد «ج» ( چې لا ندی او پانـد ی یو یو ټکـی لری ) په بنه رواج شوی او پهدیوروستیو و ختو کې بیر ته خپل اصلی شکل ته را اوښتی دی .



د «تذکرةالاولیاء» دقلمی نسخې دلومړی مخ عکس
چې نقل یې په «۹» مخ کې وړاندې شو

دوه لس شپږ صوه د هجری تللی‌وم اود پښتنخاپ راغو او کلیو ګرځیدم او مراقبه د اولیاء اوواصلینوم پلټل اوپ هر لوری م کاملان موندل او ددوی پ خدمت‌خاکپای وم او هر کله پ سلام ور ته ولاړ چې له دسفره پکورکښ کښینستم او تنهاک م وچاودل دپښتو بیا پاخیدو لم او له‌خښتنه م مرستو ن شوم چی‌احوا ل د هغو کا ملانو وکاږم او دوی چی‌هغه ویناو پات کړ د او پښتا نه پ لولی اوس »(۱۳)

له پور تنی املایی نمو نی‌ځخه دارا څر ګند ېږی چې د تذکرة الاولیاء املاء نسبت‌نوروزا وروسته کتابو لکه مخزن الاسلام ، خیر البیان او...ته ډېره‌له اوسنی املا ء سره اړخ‌لګوی خو هو په ځینو ځایو کې داسی‌ځای «ه» یا «ی» دزور او زیر له‌پاره استعمالو ی چې پخوا نیوهیڅ نه ده استعمال کړ ی لکه «له دی سفره» اماپه ډېرو ځا یوکې بیا مجهولی یی ګانې ځه چې حتی معرو فی یې ګانې هم‌نه لیکی لکه په دی جمله کی: «پات کړد» چې ښا یی : «پاتې‌کړی دی » یې لیکلی وا ی چې په «کړ ی» او «دی» کې یې‌معروفی یې‌ګانې پرې ایښی‌دی .
خو په هرحال دده املاء ترده‌را وروسته پښتو کتابو نو نه‌اوسنی املاء ته ډېره ورته ده او خصوصاً‌دپښتو دمخصوصو تورو لیکل چې ټول یې په همدی او سنی شکل‌لیکلی او سره له‌دی چې حتی اوس هم ځینی خلك « ن» د«نړ»«ځ» د «ج» (یو ټکی لاندی او بل باندی ) او «ځ» په شکل او هم«ګ» په دری شکل «ګ» لیکی‌اما دده په املا ء کې یې همدااوسنی کره او منلی اشکال راغلی دی..

## دتذکرة الاولیاء دنثر نمونه :

«نقل هسې کا ندی یار انوچې په روز ګار دشیخ بیتنی کې دده ور ورچې سړبن نو مید او پرشیخ هم خورا ګران ؤ ، نه در لود زامن اوهرکله به (یې) ویل خپل‌ورورته، بیتنی‌خپل زوی اسماعیل ور کاوه او لوی سود سړ بن‌په کاله خدای مهر بان داسما عیل په برکت سړ بن ته نصیب کړه‌دونی زامن چې او س تر و س



د «تذكرة الاولياء» د قلمي نسخې يو بل مخ
چې نقل يې په «۱۱» مخ كې وړاندې شو

www.libtool.com.cn

تېر سو ګنون دهغو ، داسما عیل‌مرقد مبارك واقـــع‌دی د کسی پر غره ، چې زه هلته تللـی وم ، نقل کاندی چې بېتنی سپین‌ږیری شو ، نوده به هر کله خپښتن‌ستایه‌اورب ته‌به (یې) درخواست کـاو . چې زما پـه‌کالـه او دسرېښ اوغر ښتی په کول کې برکت‌کښېږده با دار قبول کـــړه دده درخواست‌چه شوه مزکه د پښتو نخوا د دوی په کهول » (١٤)

## لـه تذ کرة الاو لیاء خخـــه‌دنظم نمونه :

لو یـه خـدایـه ـ لو یـه‌خدایه
ستـایه مینه پـــه هر ځـا یـــه
غـــر و لاړ دی در نـــا وی‌کـــې
وا ړه‌ژ وی پـــه زا ری کـیـــې .
د لـتـــه د ی د غـر و لمنـې
ز موږ کـړدی د ی پـکی پـلـنـې
داوګړی ډېر کړی خدایه
لویه خدایه ـ لویه خدایه
دلته لـږ زمو ږ اور بـل د ی
وړ کورګـی دی ووږبـور جـل دی .
مینه ستا کـبـې مو ږ میشته‌یــو
بـــل‌دچا پـه‌ملـه تلـه نـه یــو
هسك او مځکـه نغښتـــه‌ستا ده
د مـړ و و ده لـــه تـــا ده
دا پالنـه ستاده خدا یـه
لویه خدایه ـ لویه خدایه

«بیټ نیکه» (١٥)

---

### ددی برخی‌حواشی اومراجع :

١ ـ دتـــذ کرة الاو لیاءهغه‌قلمی پانې دی وکتلی شی چـــې د لومړی تـــو ك پښتا نه شعرا ء د٦٤ او ٦٥ مخـــو اود کـــابـــل د ١٣١٩ کال کالنی د ١٧٤ او ١٧٥مخـــو تـــر منځ زینګـــو کـــر اف شوی‌دی. (اوهم‌یې دوه مخه مخکې وړاندې شول) .

٢ ــ دپښتو ادبيا تو تاريـــخ‌دپو هاند حبيبی تـأ ليف ــ دو هم ټوك ، دوهم چاپ ــ ٢١٣مخ .

٣ ــ په پښتانـــه شعـــراء اوكابل كالنۍ كی دی دتذكرةالاولياء قلمی پاڼې وكتلی شی .

٤ ــ دپښتو ادبيا تو تا ريــخ٢١١ مخ .

٥ ــ پټه‌خزانه‌ــ لومړی چاپ‌ــدمحمد هــو تك تأليف ٥٩ او ٦٠ مخونه .

٦ ــ دپښتو ادبيا تو تاريـــخ٢١٣ مخ .

٧ ــ همدا كتاب ٢١٤ مخ .

٨ ــ همدا اثر له ٢١٥ تر٢٢٠مخ پوری لنډيز .

٩ــ دپښتو نثر تا ريــخی تطـورات او دنـثر ليكـو نكو تـذكر ه د١٣١٩ كال كابل كالنۍ ٣٥٢ مخ .

١٠ ــ ريــگويدا ــ ٧ باب ــ٦ فصل او ومه سندر ه ــ داستـــا د حبيبی دپښتو ادبياتو تا ريخ ددوهم‌ټـــوك په حوا له ــ ١٠٨ مخ ؛ همدا رنــگه دا ســنـــدره نـــومـوړی محقـق دپښتو ادبيا تو تاريخ د لـــومړی ټـوك په ٧٦ مـــخ كــې هم‌دعباراتو په‌تغيير ضبطه كړې‌ده .

١١، ١٢ـــ‌بـــشپـــړ شعـــرو نـــه‌دی په پښتانه شعراء او كابـــــل كالنۍ كی دتـــذ كرة الاو لياء پـــه‌زينگو گراف شوو پا ڼـــو كې وكتل شی .

١٣،١٤،١٥ ــ‌په‌نو مـوړو كتا بوكـــې دی دتـــــذ كرة الاو لياء قلمی پاڼی وكتلی شی .

## ((۲))

# تاریخ سوری

له تـذ کرة الاولیاء څخه‌را وروسته «تاریخ سور ی» دوهمه پښتو تـذ کره ده چې مو وډیې پیژنو ، کـه څه هم ددی کتاب متن لاس ته نه دی راغلی خو یوا ز ی د«پټې خزانی» یې د «لـر غو نی پښتانه » (۱) په حوا له مو ږ تـه‌نوم راپه گوته کـړی دی ؛ سره‌له دې چې د دې کتاب له نامه‌څخه‌بریښي چې دابه دسور یانو د کور نۍ عمو می تاریخ ؤ،خو څرنګه‌چې دسور یانو کـو رنۍ له یو ی خوا پښتا نه اوله بلې خوادپښتوادیبان هـم وو او لکـه «امیـر کروړ» * غوندی امیر یکې تېرشوی‌چې هم دتوری خاو ند ؤ او هم دقلم اوتر اوسه پوری په پښتو کې‌له ده څخـه مخکې شاعر نه لرو او هم دسو ری در باری شاعرانود کـلام نمو نې او پېژ ند ګلو ی یکی راغلي نو څـکه غـوا ړو چې‌دا تاریخ دیو ی قیمتی تـذ کر ی په حیث دلته معرفی کړو :

---

* امیر کروړ دسو ری کورنۍ‌یو تکړه او اتل امیر دی چې لـه خپل پلار امیر پولا دنه وروسته‌دغور په مندیشی کـې په ۱۳۹ ه،ق کال امیر شو ،تراوسه دی دپښتولومړی شاعر ګڼل شوی دی ، کـه څـه هم استاد حبیبی د پښتـوادبیاتو دتار یخ پـه دو هم ټو ك کـې دپښتو دوه‌نیم زر کلنی شعرخېړلی اوتحـلیل کـړی دی ، چـې دلوی داریو ش دهخا منشی کورنۍ‌دیوه مشهور پاچا د دوری دی خـو بیاهم تراوسه دسلاست، روا نۍ‌اوسوچـه تـوب له پلـو ه همدا د امیر کروړ شعر دپښتو لو مړ نـۍ‌شعر بللای شو .

## د تاریخ سوری دلیکلو وخت :

لکه مخکې موهم وویل څرنګه چې تاریخ سوری اوس زموږ پهلاس کې نشته او حتی د پټې خزانې دمؤلف په لاس کې هم نه ؤ اوهغه هم دلرغونی پښتانه په وسیله پېژندلی نو ځکه په یقینی ډول ددی کتاب دلیکلو کال نهشو ښودلی خو د تخمین له مخې د و مره و یلای شو څرنګه چې د ۷۵۰ هـ ق پهحدودو کی شیخ کته له دی کتاب څخه اخیستنې کړې د ی او همدارنګه په دې کتاب کې دښکار ندوی ژوند پېژندنه هم شته چې د ۵۸۰ هـ ق کال په شا اوخوا کې یې ژوند کاوه نوځکه په اټکل ویلای شو چې تاریخسوری دې له ۷۰۰ څخه مخکې د ۶۴۰ په شا او خوا کې لیکل شوی وی. (۲) لهپټې خزانې څخه د ومره ښکاری چې تاریخ سوری دې پښتو وی ، داهم باید ووایو چې داتاریخ سر بېره پر دې چې د سوریانو او غوریانو دکورنۍ حربی او سیاسی تاریخ ؤ ، همدا راز ددې کور نۍ ادبی تاریخ هم ؤ او دا قیمتی کتاب د لرغونی پښتانه مؤلف دغور په بالشتان کې موندلی ؤ .

## د تاریخ سوری لیکونکی :

دتاریخ سوری لیکونکی محمد د علی زوی او دبست او سید ونکی ؤ (۳) چې په محمدبستی مشهور دی ؛ دده د ژوند زمانه دپو هاند حبیبی د هیواد دلوی مؤرخ پهتخمین د ۵۸۰_۶۵۰ هـ ق کالو ترمنځ وه(۴) محمدبستی ډېر سترګور اوپوه مؤرخ ؤ او ده په خپل کتاب کې دسوری پاچهانو په سیاسی او حربی کار نامو سر بېره دهغوی دکلام نمو نې هم راوړی دی او دپټې خزانې له یادو نو څخه داښه ترا ښکاری چې دده کتاب یوډېر ګټور او په زړه پوری کتاب ؤ .

## دتاریخ سوری محتویات :

هغه نظمو نه اومطالب چې له دی تاریخ څخه دلرغو نی پښتانه اوله لرغونی پښتانه څخه دپټې خزانې په وسیله موږ ته را رسید لی دی دادی :

۱ـ د امیر کروړ ژوند پېژندنه او دده یوزوړ حماسي شعر .
۲ ـ د اسعد سوري ژوندپېژندنه اودده یوه پخه قصیده .
۳ـ د ښکارندوي ژوند پېژند نه اودده یوه پهزړه پورې بولله (قصیده)

دا شعر او قصیده ئ هغه ادبي نمونې دي چې تر اوسه یې په پښتو کې ساری نه دی لیدل شوی او همدا رنګه تر اوسه دا شعر د پښتو لومړني شعر او دا قصیده د پښتو لومړنۍ قصیده ده ؛ نو په دې سبب ددې تاریخ په واسطه پښتو ادب لو مړۍ هجري پېړۍ ته رسېږي او زموږ د ادب برازنده او وتلې نمونې موږ ته رارسوي .

## د تاریخ سوري نظم :

څرنګه چې ددې تذکرې نثر زموږ په لاس کې نشته نو ځکه یې د نثر له څېړنې څخه تېر یږو او د نظم په شا او خوا کې یې څه لیکل غواړو :

لکه مخکې مو چې هم ووېل ددې کتاب نظمو نه ډېر پاخه او پهزړه پورې ، د پښتو په سوچه لغاتو ډک او له پردو لغاتو څخه تر ډېره حده سا تل شوي دي ؛ ددې لومړنيو لاس ته راغلو اشعارو له پوخوالي څخه دا پوره څرګندېږي چې پښتو شعر د اسلام نه مخکې هم وجود درلود او له اسلام نه ډېر پخوا یې خپلې ابتدایي دورې تر شا کړې څوچې دې پختوب او سلاست ته رارسېدلی دی ؛ همدا رنګه دا نظمونه هغه نظمونه دي چې تول له شاهي دربارو سره اړه لري نو په دې سبب باید ووایو چې د پښتو لومړنی لاس ته راغلي اشعار په شاهي دربارو کې ویل شوي دي خو بیا وروسته د سلطان محمود غزنوي په وخت کې پښتو ادب له دربارو څخه داسې لیرې شو چې د شاه حسین هوتک تر زمانې پورې یې بیا دربار ونه مېنځ ونه لیدل او ځای یې نه پکې درلود چې حتی چا دا خیال هم نه کاوه چې پښتو یو وخت درباری ژبه وه او زیات قرب یې درلود ددې فیمتي تذکرې په برکت له یوه لوی او اوږد راز څخه پرده پورته شوه او دپټې خزانې ستر ګوډ مؤلف تر موږ نه راورسوله .



www.libtool.com.cn

## د تاریخ سوری سو چه لغات:

دلته بیا هم واېو خرنګه چي د تاریخ سوری نثر زموږ په لاس کي نشته نو ځکه ددي تاریخ‌دسو چه لغاتو پهاړ کي هغه لغات راوړو کوم چي ددي تاریخ په‌اشعارو کي راغلی دی ؛ په دي شعروکي دپښتو ډېر سوچه ، بوبه‌لغوني او مهجور لغا ت شته چي لاندي یې یوه بر خه لیکل کېږی :

دا میر کروړ له‌شعر څخه :«اتل = نابغه او پهلوان .من = اراده . میرخمن = دښمن. لوني = اوری. دښن = دښمن. پلن = پلی . زړن = زړور . مخسور = سر خروی . کول = کهول . دریغ = منبر . ستایوال = مداح. یرغانم = یرغل‌کوم .پېژندوی = مخور . ر پی = رپېږی . لوړ اوی = لو ړول . لور = اوریل . بامل = پر ور بښت‌ورکول . »

دا سعد سو ری له بو للي(قصیدي) څخه : «کو کار = فریاد او فغان . زمو لول = شیته کول.واکمن = اختیار دار . برم = عظمت او جلال . اوکوب = عظمت او جلال . تیرو = تېری‌کوونکی. ژوبلور = عسکر او جنګیالی .څغلا = څغاستل . ګرد بښت = ګردش . کراړه . = سخت اوټینګ . نتلی = غمځپلی . ملا = ملاتړی. ټکه = تندر. پلاز = تخت »

د بنکا رندوی له بو للي څخه: « لونل = پاشل .جندی = ګل خونول = نثارول . څلا = رڼا.سینګړ ونه = لانبونه اوسنګلا خ آغلی = ښکلی .جاجل = فکرکول. چوني = بلبل. وړنګن = تحت‌الشّعاع او ځلېدونکی . تیرون = تیر بد ل . هسك = اسمان . ایلایی = اطاعت . سال = سرمه‌ریګ . برمل = ماپښین . لومل = ماز دیګر . ترمل = ماښام .بودتون = بتخانه . »

### د تاریخ سوری دنظم‌نمونه :

د تاریخ سوری دنظم پــــه‌نمونه کي دښکار ندوي له قصید ي څخه دا خــو بیتونه را اخلو :

د پسرلی ښکلو نگی بیاگرهسینگا رونه
بیا یې‌ولو نل‌په غر ونو کې لالـــو نــه

مځکه شنه ، لابنونه شنــه ، لمنې شنې شوې
طیلسـانزمرد ی واغو ستــه غرونــه

دنیسان مشا طې لاس دمچېدودی
مرغلروبانډې وښکلـل بنهـو نـــه

دغټو لو څنډی خا ندی وریدی تـــه
زر غونوبنو کې نا څې زلمی جو نــه

لکه ناوې چې سور ټیك پــه‌تندی وکا
هسې‌وگا نل غټولو سره پسولو نه

مر غلرې چــې او روو خو نولیــه
په څـلاېې سوه زانه خپاره دښتونه

زر غونو مځکو کې څل کالکه‌ستوریه
چې پرهسك‌باندې څلېږی سپین گلونــه

سپینې واورې ویلیده کانـدی‌بهېږی
لکـه‌اوښی دمین په گرېو انو نـــه

هرپلوز نې والې بها نـــدې‌خاندی
له خـــوښمیه سروهی له سینگړ و نه
هر پلو دگلووږم دی لونلی
نه واراغله‌له‌ختنه‌کاروانونه(٥)

---

## حواشی او مراجع :

١ ــ پته خزانه ٢٩ ــ ٣١ــ٣٧ــ٤٧ مخونه لومړی چاپ .د«لرغونی پښتانه» پېژ ندگلوی به‌پړه خپـــل‌وارو لیکله شی .
٢ ــ دپښتو ادبیاتو تا ریـــخ‌دوهم ټوك ٢٢٩ مخ .
٣ ــ پته خزانه ٣١ مخ .
٤ ــ دپښتو ادبیاتو تاریـــخ٢ټ ، ٢٢٩ م .
٥ ــ پته خزانه ٤٩ ــ ٥١ م.



www.libtool.com.cn

## ((۲))

# اعلام اللو ذعی

## فی

## اخبار اللودی

له ذکر شوو دوو تــذ کروـ تذکرة الاولیاء او تاریخ سوری ـ څخه را وروسته دریمــه تــذ کره «اخبار اللودی » ګڼلای شو ؛ ددې کتاب متن هم پهلاس کی نشتـــهاو پټې خزانې یې دکلید کامرا نی په وسیله موږ ته نوم راپه ګــوتــهکــړی دی ؛ داخبار اللودی لهڼا مه څخه څرګندیــږی چــې دا کتــاب دملتان دلود یانو دکورنۍ عمو مــی تاریخ ؤ ، خو څرنګه چې دنوموړې‌کورنــۍ سلا طین اکــثراً شاعـران وو نوځکه یې ســر بېــره د دوی دژوندپه پېښو د دوی اشعار هــم ضبط کړی دی چـــې په دې ترتیب‌داکتاب داد بی تـــذ کرو په ډلــه کــې شمېر لای شو اودلته ترکومه‌حده چـــې امکان ولری پهشاواوخوا کــې یې له تــاسو سره خبرې کوو:

### داخبار اللودی دلیکلو وخت :

اخبار اللودی‌په ۶۸۶هـ ـ ق‌کال‌دلود یانو دکور نۍ په احـــوا ل کې لیکل شوی دی ، هغه و خــت‌چـــې موږ ددې تاریخ له نا مـــه او محتویاتو څخه لانه‌وو خبر نـــوموږ تهداهم نه وه ثابته چــې‌دملتان لودیان پښتانه دی اوکه نه؟یوازی‌محمد قاسم په تاریخ فر شته کــې لیکی چـې : دشیخ حمید لـــو دی‌او لاده پښتانه دی؛ خو څر نــګــه چـــې نوموړی مؤر خ سندنــه دی‌ورکړی نو ځکـــه معلو مه اوڅا بته

نه وه چې دوئ ربښتیا پښتنا نه‌ؤ‌ی او که نه؟ که‌څه هم‌له‌ده نــه را وروسته «حیات افغانی »، «خورشید جهان » او «میلسن» هم لودیان پښتنا نه بللی‌خو نورو پخوانیو مؤرخینو دشیخ حمید دکور نی له‌پښتو نګلو یِ‌څخه انکار کړی دی (۱) او په دې عقیده دی چې داکور نی عــربدی ، خو له‌نیکه مرغه دپټې خزانې له پیدا کېدو څخه راوروسته دلودیانو د کورنۍ له نسب نه هم پرده واوښته اود « اخبار اللودی »غوندی ګټور کتاب نوم‌یې را په ګوته کړاو له هغه‌نه‌یې نه‌یوا زی د لودیانو پښتو نتوب راثابت کړ بلکه دنوموړ ي کور نی دپاچایا نوپښتو خواږه شعرو نه یې هم زموږ لاس‌ته راوستل اوموږ تـه‌دایقیني شوه چې لودیان پښتنا نه وو اوحتی په‌پښتو ژبه یې خواږه ـ خواږه شعرونه ویل .

د«کلید کامرانی»له اقتباس څخه‌معلو مېږی چې ددې کتاب متن لاتر یوولسمی هجری پېړۍ پورې موجود ؤ خو وروسته له هغه یې خرك نه دی لګیدلی ، خدای خبر‌چې ددې‌کتاب نسخه به لکه دڅینو نورو پښتو نسخو غـونـدې‌لاوس هم په کوم زاړه قبر یا زاړه کورکې موجوده وی او که بنه د ناوړو پېښو په اثر له منځنه تللې ، یا به دچاله خوا سویې اومحوه‌شوې وی ؟ .

## داخبار اللودی لیکونکی :

د پټې خزانې په قول چې‌هغه له «کلید کامرانی» څخه رانقل کړی داخبار اللودی لیکو نکی شیخ‌احمد دسعید لودی زوی دی (۲) او څرنګه چې ده خپل داکتاب په ۶۸۶ هق کال لیکلی نو څکه دده د ژوند زمانه هم داوومې هجری پېړۍ اواخر بللای شو، بریښی چې دی په خپله هم د ملتان د لودیانودسلطنتی کور نۍ له بقایا ؤ څخه‌وی اودې حس چې دلودیانو پخوانی‌عظمت دتاریخ په پاڼو کې محفوظ پاتی شی راپارولی چې داګټورتاریخ‌ولیکی؛ خومتأسفانه چې د لودیانو ددې ګټور تاریخ متن په لاس کې‌نشته او یوازې کلید کامرانی څو شعرونه تری رانقل کړی چې موږ‌ته‌پټې خزانی رارسولی دی .



www.libtool.com.cn

## داخبار اللودی محتویات :

له دی گټوری تذکری او تاریخ‌څخه یوازې د لودیانو دگورنۍ ذوه پاخه، خواږه اولرغوني پښتوشعرونه‌لاس ته راغلی دی چی یوداهیر نصر اوبل دهغه دتره شیخ رضی لودی‌دی. داشعرونه که له یوی خواموږته دپښتو زاړه لغات، لرغونتوب اوادبی‌قدرت رانښیی، له بلی خوا په پښتو کی د شعری مناقشې ، مسابقې‌اوجگړی بنسټ ږدی (۳) اوله بله پلوه د «زوه» نه ډیر لیری یعنی په ملتان‌کې‌دپښتنوسلاطینوپښتواوپښتو پالنه راپه گوته کوی‌اودمؤرخینو هغه‌شك چی لودیان پښتانه وو اوکه نه؟ په یقین بدلوی اوسربیره ددوی په‌پښتونتوب ددوی پښتو شعرونه هم زموږ لاس ته راولی .

## داخبار اللودی نظم :

څرنگه چی د اخبار اللودی نثر مستقیماً زموږلاس‌ته‌نه دی‌رارسیدلی اوپتی خزانی‌هم په خپل سبك رانقل‌کړی نوځکه داخبار اللودی د نثر په باب څه نه شو لیکلی؛ البته ددی‌گټوری تذکری نظم ډیر سوچه او پښتو دی؛ د لغاتو، ترکیبو او جملوله پلوه هم ټول پښتو دی او دوزن او آهنگ له پلوه هم دپښتو په‌مخصوص اوملی سبك ویل شوی دی نوځکه سوچه اوپښتو ورته ویلای‌شواوداتری ثابتیږی چی په هغه وخت کی پښتو له غورنه ترملتانه سوچه‌وه، دنورو ژبو تراغیزی لاندی نه‌وه راغلی اوبی له ځینی دینی او مذهبی‌لغاتو څخه چی داسلام له راتگ سره له عربی نه ورته راغلی وو، د نوروعربی لغا تو استعمال هم رواج نه درلود .

## داخبار اللودی سوچه لغات :

کوم نظمونه‌چی داخبار اللودی‌څخه لاس ته راغلی ټول د پښتو په سوچه اولرغونو لغاتو ډك اوددی‌ژبی‌ډیر مهجور او متروك لغات پکی خوندی دی چی د نمونی په توگه‌دشیخ رضی اوامیر نصر له سوالیه او ځوابیه اشعارو څخه ځینې لغات‌له تشریحاتو سره یی دلته را اخلو:
دشیخ رضی له پاړکی څخه :«تر پلل = تیښته او زغا ستل.
گروه = دین او کیش ، کورول = باطلول. رونلی = روښانه‌کړی.



www.libtool.com.cn

زيارنه = كوښښ اوجهد . آړه = بدل. كاوه = كول. رغا = بيزاري.
ورځلوی = لويه ورځ (قيامت)» .

دنصر لودی له ځوابيه پاړكي‌څخه: «تورن = تومتي . تورا =

تومت. دښن = دښمن . هسك = آسمان. تورانی = تهمت كوونكي.
در وهوی = غولوی . مغره = مه اوره.»

## د اخبار اللودی دنظم نمونه :

داخبار اللودی‌دنظم‌په نمونه‌كي‌دشيخ حميد لودی هغه پاړكي چي خپل وزاره نصرلودی ته يي دترټني‌په توگه وراستولی ؤ ، راوړو چي دورازه غبرگون (ځواب) به يي‌دكليدكامرانی په برخه‌كي راوړل شي :

دالحاد په لور دی تر پلل — گروه دی زموږ و كو راوه
موږ رو ډلي په زيار نه — تا په تو رو تو راوه
لر غو ن ولی گرو هيدلی — چي د ی گو ښي ا ړاوه
هغه گروه دی او س آړه كړ — چي پلر و د ی رنهاوه
لودی ستاپه نامه سپك شو — كه هو خو مو در ناوه
نصره ! نه مويی له كهاله — لو د ی نه يي په كاوه

ز موږ رغاده ستا له گروهه
د ورځلوی په رغاوه (٤)

---

**حواشي :**

١ـ دپښتو ادبياتو تاريخ ـ٢ټـ٢چ ـ ٢٣٠ م،
٢ـ پټه خزانه ـ ١چ، ٦٧م.
٣ـ لومړی پاړكي شيخ رضي‌لودی خپل وراره نصر لودی ته دترټني په توگه ورليږلی، نصرلودی‌يي غبرگون كړی اودده داشتباه رفع كولوله پاره يي دامحض د دښمنانوتورگڼلی اوده ته يي اطمينان وركړي چي زه ملحدنه يم .
٤ـ پټه خزانه ٦٩ ـ ٧١ م.



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

## ((٤))

# لرغونی پښتانه

له ذکر شوو تذکرو څخه راوروسته د پښتو بله مهمه او ګټوره تذکره «لرغونی پښتانه» نومیږی، لهبده مرغه ددي ګټوري تذکري متن هم لاس ته نه دی راغلی خو دامهمه تذکره هغه وخت چې په ۱۱٤۱ـ٤٢ هـ ق کال دهیواد فاضل ادیب او مؤرخ محمد هـو تك ـ پټه خزانه لیکله ورسره وه او ځای په ځای یې له دې تذکري څخه استفاده کړي ده .
لرغونی پښتا نه یوه عمومي تذکره وه او د شاعرانو احوال او آثار پکې راغلی وو، خو خدای خبر چې اوس به دا ګټور کتاب چیرته وی؟

## دلرغونی پښتانه دلیکلو وخت:

کـه څه هم دلرغونی پښتانه دلیکلو وخت واضح نه دی او نه دا په یقینی طور معلومه ده چې ددې مهمې تذکري لیکونکی په کومو کلونو کې ژوند کاوه؟ خو د پوهاند حبیبی له تحقیق او تخمین څخه دا راښکاری چې لرغونی پښتا نـه دې داتمې هجـری پیړی په اواسطو کې لیـکلی شوی وی. (۱)

د پټې خزانې (۲) له تذکرڅخه ښکاری چې لرغونی پښتانه د پښتو یوه مهمه او ګټـوره تذکره وه چـې د مختلفو د ورو پښتانه شاعران پکې معرفی شوی او په پښتو لیکله شوې وه؛ له هغو اخیستنو نه چې د پټـې خزانې مؤلف له لرغونی پښتانه څخه کـړي دا سې را ښکاری چـې په دې تذکره کـې د نـامتو پښتنو لکـه: پاچایانو، شاعرانو، جنګیالیو او نورو پېژند ګلوی شوې وه او د هغه دوري د پښتنو ادبی ، سیاسی او اجتماعی تاریخ ګنل کیده ، ددې کتاب نسخه لا په ۱۱٤۲ هـ ق کـال د پټې خزانـې

دیوه مؤلف سره وه اودده په زړه‌پوري مأخذ گڼل کیږی چې په دې تر تیب «لرغونی پښتانه» د پښتـــوادب یوه «لرغوني خزانه» وه .

www.libtool.com.cn

## دلرغونی پښتانه لیکونکی:

د لرغونی پښتانه لیکوال شیخ‌کته دی چې دشیخ یوسف زوی اود شیخ متی (کلات‌بابا) لمسی‌ؤ،دشیخ‌کته مور بی‌بی مراد بخته نومیده اوپه ختهٔ زمنده وه؛ لکه خرنگه‌مخکې‌هم وویل شو له چې د شیخ کته دژوندانه زمانه په یقینی صورت‌نه‌ده‌معلومه خو خر نگه چې شیخ متی په «٦٨٨ هـ ق» کـال وفات شوی (٣)ځکه دمؤرخانو په اتفاق یوه پیړی ددوو پوښتو له پاره‌مقرره ده‌نوښایی‌دشیخ‌کته دژوندانه‌وخت هم د«٧٥٠» هـ ق شاوخوا وگڼل شی. (٤)

## دلرغونی پښتانه محتویات :

دلرغونی پښتانه لاس ته راغلی‌مواد هماغه دتاریخ سوری مواد دی چې‌ده له نوموړی‌تاریخ څخه‌اخیستی؛یوازې دهاشم سروانی بستی اشعار او ژوند پیژندنه مستقیماً د لرغونی‌پښتانه دی‌اودبل مأخذحواله نه‌لری؛ هغه مواد دادی :

۱ـ دجهان پهلوان امیر کروړ‌احوال او اشعار .
۲ـ دشیخ اسعد ژوند پیژندنه‌اوبولله .
۳ـ د ښکارندوی معر فی او دشعر نمونه .
٤ـ د هاشم سروانی بیوگرافی‌اویوشعر .

## دلرغونی پښتانه نظم :

خرنگه چې دامیر کروړ، شیخ‌اسعد او ښکارندوی په اشعارو هـو د تاریخ سوری په بـرخه کې رڼـاواچوله؛ نوځکه په دې برخه‌کې‌یوازې دهاشم سروانی د شعر په شاوخواکې څه لیکل غواړو؛ددې شعر په‌باب څه لیکل یوبل خوند هم لری اوهغه‌دادی چې داشعر پـه دریمـه هجری پیړی‌کې دیوه هغې پښتانه له خـواچې څه عمریې دپښتونخوا نه لیری په عراق‌کې داستاد ابن‌خلاد په‌خدمت‌کې تیر کړی ویل شوی اودنوموړی استاد یو کومیك عربی شعریې پـه‌پښتو اړولی دی؛که څه‌هم دده‌داشعر

له عربی څخه ژباړل شوی خوبیا یې‌هم پښتو ډیره‌پخه اودپښتو داولسی نظمو په وزن‌یې گرځولې ده؛ دپښتونادر لغات اودترنم حروف – چې دپښتوپه اولسی‌نظمو پورې‌مخصوص‌دی– پکې راغلي اودپښتوتوب‌له پلوه هم ډیر پوخ دی اوله دي څخه اندازه‌لگولای شوچې داسلام له راتگ سره پښتو ډیره پخه او ورسره سم چه‌اوپه خپلو پښو ولاړه وه .

داستاد ابن خلاد دهغه شعرمطلع چې هاشم سروانی پښتو کړی، داده :

من‌کان یملك درهمین تعلمت شفتاه انواع‌الکلام فقـالا(٥)

دهاشم سروانی دژباړنې مطلع‌داده :

ژبه هم ښه ویناکاندي چې‌یې‌وینه
دخاوندیه لاس کې زراود رهمونه (٦)

## دلرغونی پښتانه سوچه لغات:

د سوچه لغاتو په لړ کې هـم‌دامیر کروړ، شیخ‌اسعد اونښکارندوی د اشعارو لغات د تاریخ سوری پـه‌برخه‌کې ولیکل شول ، نوځکه دلته یوازې دهاشم سروانی دشعر سوچه‌لغات لیکو : «ژبور = سخنـدان. و یـا ړونـه = افـتـخـارات . نتلی = زبون. خړو = بدی. سونې = دروغ . ربنتیانیـه = راستین.ربنتـون = صادق . تـیرونه = تجاوزات . پرتمونـه = شوکت اوشان. وسلـه = سلاح او دجنـگ اسباب.»

## د لر غـونی پښتانـه د نظـم نمونه :

د نظم په نمونه کې هم دهاشم‌سروانی شعر را اخلو :

ژبه هم ښه وینا کاندي چې‌یې‌وینـه
دخاوندیه لاس کـې زراو درهـمونـه
ژبـور ورلـه ورځی وینا یې اروی
د درهـم‌خاوندان تل وی پـه ویاړونه
که درهم یې ځنې ورك سوسی‌نتـلی
پر نړی‌یـې وی په خـړوپـېژندونـه

که بڼای سوښی وبولی خلق وایی
داویناده ربنتیا نیه له ر ښتونه

که بې وزلی ووایی ربنتیا خبره
نور ووایي دا خو سوښی دی تیرونه

هو درهم ښندی هر چا له لویه برخه
د درهم دخاوند هر ځای پر تمونه

درهم ژبه ده که خوك ژبور کیږی
ده وسله که خوك په کاندي قتالونه(۷)

---

حواشی :

۱ــ د پښتو ادبیاتو تاریخ ــ ۲ټ ــ ۲۳۲ م .
۲ــ پټه خزانه ۲۹، ۴۷، ۵۷ م.
۳ــ همدا کتاب ۲۱ م .
٤ــ دپښتو ادبیاتو تاریخ ۲ټوك ــ ۲۳۲ م .
٥ــ معجم الادباء ــ ۷ټ ــ ٦۱ م .
٦ــ پټه خزانه ٥۹ م
۷ــ همدا کتاب او همدا مخ.



www.libtool.com.cn

## ((۵))

# غرغښت نامه

غرغښت نامه د پښتو ژبې یوه‌منظومه تذکره ده چې لـه اخلاقـي شعرونو سره ـ سره یې دلویانو اوشاعرانو احوال او دکلام نمونې هـم درلودلې؛ داتذکره دپټې خزانې‌دلیکلوپه وخت‌کې د نوموړي تـذکرې لـه لیکونکي سره وه اودی په دې هکله‌داسې لیکي:«...داکتاب چې‌ماولیدی‌ء شیرین بیتونه پـه مثنـوی لری اودغرغښت بابا قدس الله سره الکریم حکایات دی او له رشتینو خلقویـې‌روایات راجمع کړی دی. دغه کتاب زما پلار په توبه‌کې میندلیؤ او زموږکهول‌کې موکوچنیو اوزنیو په سبق لوست.» (۱)

## د غرغښت نامـې د لیـکلو وخت :

غرغښت نامه دپټې خزانې په قول په (۹۲۹ق‌ه) کال په زوب کې لیکله شوې‌ده، داتذکـره په نظـم‌اولنډه مثنوی‌کې وه چې یواخلاقی‌اثر اودغرغښت بابا حکایات پکې راغلي‌وو، همدا راز دځینو شاعرانو احوال اواشعار هم پکې‌وو چې له هغې‌جملې‌څخه د زرغون نورزی ژونه پیژندنه اوساقی نامه‌ده،غرغښت‌نامه وایی‌چې‌زرغون خان د نوزاد نـورزی زوی‌ؤ اوپه کال (۸۹۱) هرات تـه ولاړ، داشعارو دېوان یې درلود چې اوراق‌یې دری سوه وو. دی‌په (۹۲۱) هجری‌په دیراوت کې وفات شو. (۲)

له پورتنی اقتباس څخه پـه ښکاره ډول معلومیږی چـې غرغښت نامه یوه منظومه تذکره وه او دپښتوادب یوه خوږه تاریخی منظومه یـې ګڼلای شو .



www.libtool.com.cn

## د غرغښت نامې ليکونکی :

دغرغښت نامې ليکونکی دوست‌محمد کاکړدی، دی دبابړخان زوی‌ؤ اوپه (۹۱۲) ه ق کال دکاکړبابا دزيارت له‌پاره هرات‌ته ولاړ اوله‌هغه ځايه چې بيرته‌روب ته راغی ـ لکه‌مخکې موچې وويل ـ په (۹۲۹ ه ق) کال‌يې غرغښت نامه نظم کړه، دی‌په غرغښت نامه کې داهم ليکی چې زماپلار بابړخان هم يو کتاب‌په شعرکښلی‌ؤچې نوم‌يې«تذکره غرغښت»ؤ. هغه وخت چې دی وفات شو، زه په‌کوچنی نه وم اونوموړی کتاب‌له‌منځه ولاړ، زه دپلار په مرګ دومره خپه‌نه شوم لکه ددې کتاب په ورکه چې متأثر شوم، ما دهغه کتاب خبري‌اوريدلې اوپه وار ـ وارمې ويلې وې اوهم مې يوڅه له هغه څخه يادوې‌نوماپه خدای توکل وکړ اوهغه‌قصې اوروايات مې بياپه شعر وويل. (۳)

په دې ترتيب ويلای شو چې‌دوست محمد غرغښت نامه دده دپلار د«تذکرهٔغرغښت» مثنی وه اوپه خپله «تذکرهٔغرغښت» هم دتذکرو په ډله‌کې ودريږی .

## دغرغښت نامې محتويات :

ددې‌تذکرې‌محتويات‌دغرغښت‌بابادزوزنه له حالاتو څخه عبارت دی او هم دځينو نورو شاعرانو پيژندګلوی او دکلام نمونې پکې راغلې دی چې پټه خزانه د زرغون خان ژوندپيژندنه اودکلام‌نمونه‌له همدې‌تذکرې څخه را اخلې اودده يوه خوږه ساقی‌نامه موږ ته په‌لاس راکوی چې دوه بيته يې دادی :

| | |
|---|---|
| ساقی پاڅه پياله راکړه | مرور يار مې پخلا کړه |
| اوبه تويې په لنبو کړه | اورمې‌مړپه دې اوبوکړه(٤) |

## دغرغښت نامې نظم :

د غرغښت نامې نظم سليس،روان، خوږ اوله تعقيداتو څخه بالکل خالی دی؛ ژبه يې‌روانه، مقصدونه‌يې‌لنډ ـ لنډ اداکړی، حشو او زوايد نه‌لری اوله ابهامه خالی دی . (۵)غرغښت نامه په لنډه مثنوی ليکله شوې، دپارسی اوعربی اثرهم ډيرپرې لويدلی دی چې له دې نه‌ښکاری په دې وخت کې په پښتودنورو ژبو ډير لغات را ګډ

شوی اومنل شوی وو خو سربیره‌پردي دپښتو ډیر پخواني او متروك لغات هم پکې راغلي دي .

## دغرغښت نامي سوچه لغات :

لکه خرنګه چې پاس هم وویل‌شول په غرغښت نامه‌کې دپښتوډیر پخواني او مهجور لغات راغلي چې‌لاندې یې لیکو: «منښت = منل. لمانځنه = عبادت. ښمانه = بهبود.ملو = ملګریو . ملونه = دمل‌جمع. تول = تولنه . لمانځل = لمونځ‌کول. کړیدن = طواف.لور = لورینه. زبل = لورینه. یون = تګ اونور.

## دغرغښت نامي دنظم نمونه :

دغرغښت نامي‌دنظم په نمونه‌کې‌دهغې حکایت چې پټې خزانې تري رانقل کړی اودکاکړ بابا په باب کې‌دی، یوه برخه را اخلو :

| | |
|---|---|
| لـه نیـکا نـو روایـت دی | هسې تـو ګه حکـایت دی |
| نور محمد کاکـړ راوی دی | چې یې فیض تل جاری دی |
| د نیکـو نو له خولې وایـې | چې منښت یې را ته ښایې: |
| چې کـاکـړ نیـکه زاهد ؤ | لوی خښتن لـه تل عابد ؤ |
| تل تر تـل بـې عبادت کـا | پردې لیاریـې ریاضت کـا |
| شپې یې روڼې په لمانځووې | پـه ژړا او پـه نـارو و ې |
| نه یې خوب نه یې خوراك ؤ | عبادت یې ژوند او ژواك ؤ |
| چې‌به‌کښیښوست په لمانځنه | یابه کښیوت پـه ستا ینه |
| ورځ یې تولـه په قعده وه | شپه یې هم یـوه سجده وه |
| تل بې سیر د لا هوت کـا | په یوه ګـو له یې قوت کـا |

غرق به تل پـه ذکـرالله ؤ
هر سبا او هـرپیګـا ؤ ( ٦ )

---

١ـ پټه خزانه ٨٧ مخ .
٢ـ همدا کتاب ٨١ مخ .
٣ـ همدا کتاب ٨٧ مخ .
٤ـ توله ساقی نامه دې د پټې‌خزانې پـه ٨٧،٨٥،٨٣ مخو کـې ولوستله شی .
٥ـ دپښتو ادبیاتو تاریخ ١٩٤مخ .
٦ـ ټول حکایت دپټې خزانې‌په٨٩، ٩١ مخوکې لوستلای شيء !

## ((٦))

# بستان‌الاولیاء

بستان الاولیاء هم د پښتو یوه‌لرغوني او پخوانۍ تذکره ده، چې داهم اوس نشته‌خو د پټې خزانې‌دلیکونکی ـ محمد هوتك ـ پلار دکندهار په ښوراوك کې دحسن خان‌بریځ په کورکې لیدلې اویاد داشتونه یې ترې اخیستي وو، په‌دې کتاب‌کې‌عموماً د پښتنو اولیاؤ او روحاني شاعرانو احوال راغلي ؤ.

www.libtool.com.cn

### دبستان الاولیاء لیکونکی :

ددې‌کتاب لیکونکی «شیخ‌بستان‌بړیځ» دی اودپټې خزانې مؤلف دده په باب لیکی: «زماپلار علیه الرحمه له قدما څخه روایت کا: محمداکرم رحمة‌الله علیه هم د خدای ولیؤ اودښوراوکه راغی دهلمند پرغاړه په یوه ګوډله کې اوسېدیء اودخالق په‌عبادت بوخت‌ؤ، نقل‌کا : شیخ بستان له پلاره ډېر فیض ومومند اوپه‌ځوانی‌ولاړ هندوستان ته اوهلته به ښار په ښار ګرځېدیء او آثار د قدرت‌به یې تماشا کول ...» (۱) .

همدا راز نعمت‌الله هم چې دشیخ بستان‌هم‌عصروؤ په مخزن‌افغانی کې دده ژوندپېژندنه لیکلې، تفصیلات‌یې ترپټې خزانې زیات او دده دمړینې تاریخ یې‌هم لیکلی دی، دشیخ‌بستان‌له‌وصیت سره سم یې تکفین اوتجهیز هم‌ده‌په خپله کړی اودژوند په باب‌یې لیکی: «... دی په ځوانۍ کې له روه نه هندوستان ته ولاړ اوپه «سمانه» نومی ځای کې اوسېده، ده دتجارت په جامه کې ځان پټ کړی‌اوپه ډېره لږه پانګه یې پلورل او پېرودل کول او دخپل تجارت حلاله‌ګټه یې په خپل خرڅ رسوله، دردمن سړی ؤ سترګې به یې هیڅکله له‌اوښکو نه وې‌و چې اوتل به یې له سوزه ډك آهونه کول، سربېره‌پردې‌درد اوسوز به یې هره ورځ پنځلس سیپارې قرآن کریم تلاوت کاوه اواکثره وخت به یې پښتو شعرونه په داسې زړه غوښونکی ډول ویل چې‌تېره به یې‌هم ژړوله، په پخه‌شپه‌کې

به يې اودس وکړ اودخدای په يـادبه مشغول شو اوپنځه وخته لمانځه ته بهٔيې بېل – بېل اودس کاوه.» (۲)

ځرنګه چې نعمت‌الله هروی دشيخ بستان بړيځ سره معـاصر ؤ نوځکه دده په باب سترګو ليدلی‌حال‌داسې ليکی: «... زه په يوه‌سفرکې چې په درياب‌کې موکاوه ورسره مل‌وم، شپه اوورځ به مې ځينې خوارق له دوی څخه ليدل، يوه شپه درياب‌داسې طوفانی شوچې حتی د بېړۍ تولې سپرلۍ له ژونده لاس ووينځل‌اوهرچادپاك خدای په حضور کې‌دعا اوزاری کوله، ځرنګه چې زماله دوی‌سره مخلصانه رابطه وه نـو په دې وخت‌کې مې ددوی حضورتـه عرض‌وکړچې دمدد وخت دی! موسکا يـې وکړه اوويې فرمايل: هوسا اوسیٔ!خطر نشته ! ددې خبـرې له کېـدو سره‌سم طوفان کښېناست ، دمـرادوړمه په چلېدو شوه اوبېړۍ له دې لوی خطر څخه خـلاصه شوه. چـې‌بېرته راوګرځېده دګجرات احمدآباد ته راغی، يوه ورځ يې ماته وفرمايل:زما وخت پوره دی داسهال رنځ‌راته پېښ شوی اوزما تجهيز او تکفيـن وکړې! ماپه سترګو قبوله کـړه؛ اودی دجمعې په ورځ د «۱۰۰۲ه ق»کال ددوهمې خور (ربيع‌الثانی) پـه يوولسمه نېټه دماسپښين له لمانځه‌څخه وروسته خپل اصلی محبوب ته واصل شو.» (۳)

دپټې خزانې‌په قول شيخ‌بستان‌بړيځ په «۹۹۸ ه ق» کال بېرته وطن ته هم راغلی‌خوځرنګه چې دنعمت‌الله‌په قول‌يې مړينه يقيناً په «۱۰۰۲هق» کال په هندکې پېښه شوې نوښايي‌چې په خپل وطن‌کـې له څه وخـت تېرولو څخه وروسته بېرته هند ته‌تللی اوهم هورې‌له دنيا تېرشوی‌دی.

## دبستان الاولياء دليکلو وخت اومحتويات :

دپټې خزانې مؤلف دخپل پلار خولې ليکی: «... اوهغه وخت چې وطن ته راغی په «۹۹۸» هجری (٤)يې د اولياء الله پـه بيـان کتـاب د«بستان الاولياء» وکيښ اوزما پلاررحمة‌الله عليه دغه کتاب په‌نبوراوك کې د حسن خـان بړيځ په کورکـې‌ليدلی ؤ ، چـې په دې کتاب کـې شيخ‌بستان عليه‌الرحمه دډېرو‌پښتنواولياؤ حالونه او کرامتونه او خوارق دعادات کښلې وو اوډېر – ډېراشعاريې هم را نقـل کـړی وو له نـورو شاعرانو اوخپلو شعروڅخه ...»(٥)

که څه هم دپټې خزانې په قول په دې کتاب کې دډېرو شاعرانو اشعار او احوال راغلي وو خو محمد هوتك بې دشيخ تيمن (رح) له بيو ګرافي او يوه شعر او هم دده له يوه خپل شعر څخه پرته نور څه نه دي ترې رانقل کړي ځومونږ ته رارسيدلي وای. خو څرنګه چې محمد هوتك دا کتاب په خپله نه دی ليدلی نو ګومان کيږي چې دده لاس ته به يې هم نور موادنه وو رغلي ځو يې په پټه خزانه کې خوندي کړي وای .

## دبستان الاولياء نظم :

څرنګه چې دبستان الاولياء نثر په لاس کې نشته نو ځکه يې يوازې دنظم په باب څه ويل غواړو: دبستان الاولياء نظم سوچ پښتو ، په ملي اوزانو برابر اودپرديو ژبو اغيزه يکې ډېره کمه ده ، ددې تذکرې دوه شعرونه چې يو دشيخ تيمن او بل په خپله د شيخ بستان بړيخ دی په پټه خزانه کې خوندي دي؛ دا دواړه شعرونه ډېر پاخه، خواږه، روان، ساده، سليس اودپښتو په لرغونو لغاتو ډك دي . خصوصاً په خپله دشيخ بستان شعر بيخي ملي او اولسي دی، سره له دې چې دی يوزاهداو ګرځند سړی وؤ؛ له عربي، پارسي او هندي سره په تماس کې وؤ بيا يې هم په خپل شعر کې د پښتو مزيت او خوندله لاسه نه دی ورکړی، خپل شعر يې په ملي وزن ويلی اودپښتو په خپلو لغاتو يې پسوللی دی. دبستان الاولياء دالاس ته راغلي شعرونه د پښتوله لرغون ادب سره اړخ لګوی او په پښتو توب او سو چه توب کې دامير کروړ او بيټ نيکه اشعارو ته ورته دي .

## دبستان الاولياء سوچه لغات:

لکه څرنګه چې وموويل: په دې اشعارو کې ډېر سو چه پښتو لغات موجود دی نو ځکه يې دلته هم راوړم:

د شيخ تيمن له شعر څخه : «ګهيځ، وير ، ناره، خپره، ناخاپه، ويرنه، ناورين، زرغون، سادين، نول نوليږم، تاخون ، پېر (نوبت)، يون ،پار ،آغلي. اوربل (کور) ،کړون...»

دشيخ بستان له شعر څخه : «تارونار، ناسور، وير، کرږې، سورې تېکاونه، کړنه، بښندنه، ګوابنل...»

## دبستان‌الاولیاء د نظم نمونه :

دبستان‌الاولیاء دنظم په نمونه‌کې دشیخ تیمن کاکړ دا شعر چې پټې خزانې ترې اخیستی، وړاندې‌کوو :

ګهیځ ړنـا د لمـر خپره سوه | زما په کـور د ویر نـاره سوه
دبیلتون ورځ تـوره تیاره سوه | ږغ سوناخاپه چې بیلتون راغی

* * *

زړه مې له دې ویرني شین دی | پـه ژړا ژاړم خـه نـاورین دی
زرغون له اوښو مې سادین دی | په نول نولېږم چې تاخون راغی

* * *

نه به بیایم نـه بـه بیـاراسی | نه به تیـاره شپه زمـا رڼاسی
نه به شـهی راتـه پـه خلاسی | بیلیری پیرېږي اوس دیون راغـی

* * *

دښمنتن پار دی هیرمې نه کړي | آغلیه مـخ چې په یانـه کـړي
اور بل دې پـرېښوی واته کړي
پرما دبل اورکړوون راغـی (٦)

---

### حواشی او مراجع :

١ــ پټه خزانه ٦٣،٦٥ م .

٢ــ مخزن افغانی دتاریخ ټولنې‌قلمی نسخه .

٣ــ همدا اثر، قلمی نسخه اودپټې خزانې د تعلـیقاتـو په حوالـه ٢٤٧ ــ ٢٤٨ م .

٤ــ پټې خزانې دشیخ تیمن په‌برخه‌کې د بستان‌الاولیـاء د لیکـلو تاریخ (٩٥٦) هم ښودلی خوښـایـی‌دابه دکاتب سهوه وی، څرنګه چـې مخزن دده دوفات تاریخ ١٠٠٢ھ ق کال ښودلی نوځکه بایدهمدا (٩٩٨) کال یقین ته لنډوی اوپه (٩٥٦)کې‌ممکن زموږ شیخ ځوان یـا هلك وی اوهم لکه څرنګه چې نعمت‌الله او په‌خپله پټه خزانه لیـکـی چې ده پـه ځوانی‌کې سیاحت کاوه نوځکه‌به یې‌دتألیف فرصت هم نه درلود (دپټې خزانې حاشیه ٦١ مخ) .

٥ــ. پټه خزانه ٦٥ مخ .

٦ــ پټه خزانه ٦٣ م .

# ((۷))

# تذکرهٔ اولیای افغان

د«تذکرهٔ اولیای افغان» نسخه‌اوس نه ده لیدله شوي ، خــواغلب ګومان دادی چې داکتاب دي د پښتویوه ګټوره تذکره وی. څرنګه چــې په‌هغه‌وخت کې‌دپښتواکثره شاعرانوروحانی شخصیت هم در لود اوهــم دهغه وخت اولیاؤدشعرمینه درلوده؛ نوځکه ویلای شو چې تذکرهٔ اولیاء افغان به د پښتنو روحانی شاعرانویاشاعرو روحانیانو تذکره وه؛ ددې تذکرې یادونه پــه تذکــرة الابرار والاشرار او مخزن افغانی‌کې شوی‌ده چې له دې ذکرشوو کتابو څخه‌استادحبیبی دپښتو ادبیاتو په تاریخ (۱) کې استفاده کړې ده او ددې کتــاب‌دلیکونکی دمعرفی په‌لړکې ددې‌کتاب نوم هم یادوی .

## دلیکلو وخت او لیکونکی :

ددې کتاب لیکونکی شیخ قاسم‌دی چې دشیخ کټه د«لرغونی‌پښتانه» دلیکونکی له اولادې څخــهٔ او دده‌دنسب سلسله‌په لاندې‌ډول شیخ‌کټه ته رسیږی: قاسم دشیخ قدم زوی، دمحمد زاهد لمسی، دمیردادکړوسی، دشیخ سلطان کوسی اودشیخ کټــه‌کودیٔ (۲) دده مور بی‌بی نیکبخته نومېده چې داهم دپښتوعارفه شاعره‌وه، ژوند پېژندنه اودکلام نمونه یې دپټې خزانې په دریمــه خزانه کــې‌راغلې‌ده (۳)شیخ قاسم‌په(۹۵۶هـ،ق) په بدنی‌کې زیږیدلی دی. (٤)

شیخ قاسم دخپلې کورنی پــه‌علمی اوروحانی چاپېرکې ښه وروزه شو په معرفت او روحانیت مشهورشو او ډېر کلك نفوذ یــې ومونــد دمیرزامحمد حکیم‌کورګانی بن‌همایون‌مامورین څنې وبېرېده اوویې غوښتل چې دا پښتون عالم اوعارف مړکړی،شادمان خــان هغه وخت د پېښــور

حکمرانو اودشیخ قاسم دوژلو نیت یې وکړ، شیخ مجبور شو له پښتوره کندهارته ولاړ، له دې ځایه دحرمینوپه زیارت مشرف شو او په قادریه طریقه کې یې لاس نیوی وکړ، تردې سفر وروسته بېرته دپښتور دوابې ته راغی، خپل علمی اوروحانی اقتداریې تېنګ کړ اوپه شیخ قاسم سلیمانی مشهور شو؛ دمغولو پاچاهانو بیاهم دی پرینښود، دعیسی نومی په چغلی اکبر پاچا دی لاهور ته وغوښت خوشیخ قاسم په لاهورکې تر پښور لازیات نفوذ وموند نوجهانګیر دی د«چنارګړ ه » په کلاکې بندی کړ اوهم هورې ددغه پاچا په ظلم کې په(۱۰۱٦ه) تر دنیا تېرشو اومزار یې تراوسه هم هورې مشهور دی. (٥)

اوس څرنګه چې د شیخ قاسم ژوند له «۹٥٦ نه تر ۱۰۱٦ه ق» کال پورې یقینی شو نوښایی چې تذکرة اولیای افغان یې دزرم (۱۰۰۰) هجری کال په شاوخواکې لیکلی وی، نورنوددې ګټور کتاب په باب څه معلومات له ماسره نشته .

---

**حواشي :**

۱ـ دپښتو ادبیاتو تاریخ ۲٤۷م .

۲ـ مخزن افغانی دپښتوادبیاتودتاریخ په حواله اوقلمی نسخه .

۳ـ پټه خزانه ۱۸۱ م .

٤ـ مخزن افغانی اوپټه خزانه، ۱۸۱ م .

٥ـ مخزن افغانی اوتذکرة الابراردپښتو ادبیاتو د تاریخ پــه حوالــه ۲٤۸ م .

# ((۸))

# تحفهٔ صالح

«تحفهٔ صالح» هم د پښتو يوهښکلي تذکره وه چې د «پټې خزانې» دسترګور مؤلف په لاس کې وه خـومتأسفانه چې اوس نشته اوله منځه تللې ده؛ اوداتذکره ملاالله يار دخپل‌استاد اومرشد صالح الکوزی‌په نامه نومـړې او دده او نـورو شاعرانـوسوانح يې پکې ليکلي ده .

## دتحفهٔ صالح ليکونکی :

دتحفهٔ صالح ليکونکی الله يارنوميده، چې په قام الکوزی ؤ اوپـه کندهارکې يې ژوند کاوه، که څه هم‌دده دژوند زمانه پټې خـزانې نه ده ښودلې، خودی دشيخ صالح شاګرداومريدؤ، نوځرنګه چې نوموړی شيخ دپښتو ادبياتو دتاريخ‌په استناددزرم‌هجری کال په شا اوخـواکې ژونـد کاوه (۱) نوله دې کبله دده د ژوندزمانه هم همدا حـدود ګڼـلای شو؛ دالله يار په‌باب دپټې‌خزانې‌له‌رواياتوڅخه ښکاری چې دی يو پـوه ليکوال مؤرخ اومتصوف سړی تيرشوی‌دی .

## دتحفهٔ صائح دليکلو وخت اومحتويات :

ځرنګه چې دالله يار د ژونـدزمانه مودزرم کال په حدودوکې اټکل کړه نوښايی چې «تحفهٔ صالح» هـم‌دهمدې کلو په شاوخوا کـې کښنله شوې وی . همدا راز ځـرنګه چـې‌دتحفهٔ صالح ټول محتويات لاس ته نه دی راغلی نو څکه زياته خبرنـه‌نه شو پکې کولای؛ موجود مواد يـې چې پټې خزانې رانقل کړی نوهغـه‌دشيخ صالح الـکوزی بيوګرافی او داشعارو نمونې او هم دعلـی سرورلودی ژوند پيژندنه اودکلام نمونه‌ده؛ دپټې خزانې له دې اقتباساتو څخـه‌ښکاری چې تحفهٔ صالح يوه ګټـوره

تذکره وه چې الله یار الکوزی دخپل‌پیر اومرشد شیخ صالح الکوزی په نامه کښلې‌وه اوسربېره دده په‌احوال اوافکارو دنورو شاعرانواشعار اواحوال هم پکې راغلي وو .

## دتحفهٔ صالح نظم :

له دې کېبله چې د تحفهٔ صالح‌نثر په لاس‌کې نشته نوځکه يې‌دنظم په باب څه ويل غواړو: کوم شعرونه‌چې له دې تذکرې څخه دېتمې خزانې

په واسطه لاس ته راغلي په هغوکې‌دوه شعرونه د شيخ صالح اويوهم دعلي سرور لودی شعر دی چې‌دادری واړه شعرونه ډېر پاخه،خواږه

اوله خونده ډك دی چې له دې سره،سره ملي رنگك هم لری اوله اولسی

ادب څخه متأثر شوی دی، که څه‌هم‌عربی اودری لغات پکې زيات دی خوبياهم اولسی رنگك او خوند پکې‌له ورايه ښکاری .

## دتحفهٔ صالح دنظم نمونه :

د نظم په نمونه‌کې يې دشيخ‌صالح الکوزی هغه شعر چې دکندهار صوبدار شاه بېگك ته يې (٤) د هغه‌ددرخواست په ځواب کې ور لېږلی دلته را اخلو :

د ليلـی د مينـې فيض هـر سباوړم
بيهوده منت به ولې د بـل چـاوړم

چې اشنای د شپې ناخاپه پـه‌لاس کښېبووت
روښان‌زړه په‌کوگل‌پټ لمرپه سماوړم

پر دنيا کـه تجارت خـوك ددنياکـې
زه دزړه‌په بازار بار دعشق سوداوړم

د ليلـی ليدل دې رب په بهـا،نه کـی
خزانې‌که ددې کـل جهان په شاوړم

که پرتخت مې دسلیمان سپورکړي سرېه !
عاقبت‌خاوروته بنه عمل پیشوا وړم

بې له عشقه خوشالی پر ما حرامه
زه‌صالح که په‌خوله‌خوښ‌په‌زړه‌ژړاوړم(۵)

www.libtool.com.cn

---

**حواشي :**

۱ــ دپښتو ادبیاتو تاریخ، ۲ټ،۲۰٦ م .

۲ــ د صالح الکوزی بیوگرافی‌اواشعار دې دپټې خزانې په ۹۹،۹۷
۱۰۱ مخونوکې ولوستل شي .

۳ــ دعلی‌سرور لودی ژوند پېژندنه اوشعر دپټې خزانې په ۱۰۱،
۱۰۳ مخونوکې لوستلای شيء !

٤ــ «نقل دی : چې شاه بیگ‌خان دقندهارصوبدار شیخ‌محمدصالح وغوښت چې کابل‌ته ولاړسی اوهلته‌خلکوته فیض ورکړی او په تدریس دعلومو طالبانوته هدایت وکا. شیخ‌محمدصالح ورته وکښل:چې ماله‌طمع دعزت نسته اوپه دنیا پسې تگ نه‌غواړم، زما داسې مقصد دی‌چې دنیا ماته راسی، نه چې زه ولاړسم دنیاپسې، که زما عزت غواړې ماپرېږده اوپه دنیاپسې‌مې مه مسافرکوه!ــ چې‌دغه خط ورسېدیء ، شاه بیگ خان وویل: زماهم‌ستاعزت‌مقصود ؤنه بې‌عزتی.» (پټه خزانه ۹۹ مخ) .

۵ــ پټه خزانه ۹۹ مخ .

((۹))

# کلید کامرانی

د«پټې خزانې» له قوله ښکاریږچې کلید کامرانی هم د پښتو یوه مغتنمه اوقیمتي تذکره او د پښتنوشاعرانو احوال او اقوال پکې را ټول شوي وو اوهمېې دپښتو له پخوانیوتذکرو څخه۔ لکه اعلام اللوذعی چې مخکې یې پېژندنه راغله ــ استفاده کړې وه او دپښتو مغتنم او مستند ذخایر پکې موجودوو، خوله بده مرغه چې داتذکره هم اوس په لاس کې نشته اویوازې پټې خزانې یې موږته نوم اوځینې محتویات را رسولي دي .

## دکلید کامرانی لیکونکی :

له نېکه مرغه دکامران سدوزي په باب له دې کبله چې ددوی کورنۍ په کندهارکې حکمرانی درلوده، پوره معلومات په لاس کې شته: کامران خان په قام سدوزی او د سدوزي د لویې کورنۍ د مشر «سدو خان» له پنځه ګونو زامنو څخه ؤ؛ په خپله سدوخان ددوشنبې په ورځ دلوی اختر په ۱۷ په ۹٦۵هـ کال زیږېدلی او زموږ لوی امپراتور لوی احمد شاه د لوی افغانستان مؤسس هم ددې سدوخان له اولادې څخه دی. له تاریخي پلټنو څخه ښکاري چې کامران خان او ده وړور ملک مغدود (مودود) له مغولی پاچا شاه جهان سره (۱۰۳۷ــ۱۰۷٦هـ) هم عصروو اود کندهار له نامتومشرانو څخه ګڼل کېدل .

د عبدالحمید د پادشاه نامې دمؤلف په قول: کامران خان د«۱۰۵۰هـ» کال په لومړۍ خورکې په ډیلی کې ؤاوله هغه وروسته دشاه جهان دکابلي حاکم امیر یحیی له خوا دملك مودوداودنوموړي حاکم سره په جګړه کې په «۱۰۵۳هـ» کال ومړ. (۱)

## دکلید کامرانی دلیکلو وخت :

د پټې خزانې په قول کامـرانخان سدوزی خپل داښکلی اثرکلید کامرانی په کال ۱۰۳۸ هـ ق په ښهرصفاکې وکیښ (۲) اوداخبار اللودی نه يې‌هم ځينې ادبی مواد را نقـل کړل .

## د کلید کامرانی محتویات :

د کلید کامرانی ټول محتویات‌لاس ته نه دی راغلی، پټې خزانې‌يې يوازې دنصر لودی او شيخ حمیـدلودی دژوند حال اوهغه اشعار چـې «اعلام اللوذعی فـی اخبار اللودی» ثبت کړی، را اخیستی‌دی؛ ښايي‌چې ډېر نور مغتنم مواد به هم پـکې ووخومتأسفانه چې اوس په لاس کـې نشته. نظم‌يې داخبار اللودی په‌برخه‌کې خپړل شوی اوسوچه لغات يې‌هم په نوموړې برخه‌کې راغلی دی .

## د کلید کامرانی دنظم نمونه :

د کلید کامرانی دنظم په نمونه‌کې د امیر نصر لودی هغه ځوابیـه پاړکی‌چې دخپل تره شيخ رضی‌لودی‌په غبرګون‌کې يې ویلی دلته رانقلوو ځوله یوې خوا دشيخ رضی لـودی‌دشعر مکمل او له بلـې خوا ګـران لوستونکی په خپله دلودیانو دشاهی‌کورنی دکلام جاج ترې واخلی:

| | |
|---|---|
| د الحاد پـه تـور تون سوم | زه لـرغـون خو ملحد نه یم |
| زما د ښنه هسې تو راکړی | که ملحد یـم د د ښنه یـم |
| له اسلا مه نـه تـر پلـمه | تورانـو ځخه پـه تر پله یم |
| ګـر وه مې هغه لرغونی دی | اوس هم کروړ په لرغونه یم |
| د اسلام پـه هسك به ځلم | و تـورا نـو تـه تیـاره یم |
| د لـودی زوی سنـتـی یـم | د حمید لـه لوړ کهـاله یم |
| تـورانی د ښن چې وایـی | زه لـه ګـرو هه په آړه یم |
| وایـی تور تاسې در وهوی | زه مـؤمن ستاسې په تله یم |

د دښنـو ویـنـا و ې مـغـبږ ه
زه لـودی یمـه ځـو زه یـم (۳)

---

۱ــ دپټې خزانې تعلیقات ۲۵۰ـ۲۵۱ م .
۲ــ پټه خزانه ۶۷ م .        ۳ــ پټه خزانه ۷۱ ــ ۷۳ م .

## ((۱۰))

# اولیای افغان

اولیای افغان هم هغه تذکره ده‌چې اوس په لاس کې نشته خوپه دوولسمه هجری پېړۍ کې دپټې‌خزانې مؤلف ـ محمد هوتك ـ دخپل پوه پلار په روایت استفاده ترې کړې‌اود مېرمن نېکبختې احوال یې ترې رانقل کړی دی، ښکاری چې «اولیای‌افغان» یوه په زړه پورې تذکره وه خو متأسفانه چې اوس نشته او لکه‌دپښتو د نورو قیمتی آثارو غوندې ورکه اوله منځه تللې ده .

## داولیای افغان لیکونکی :

ددې تذ کرې لیکو نکی شیخ‌امام‌الدین‌خلیل غوریاخېل دشیخ‌کبیر چې په بالاپیر مشهوروؤ، زوی او دوړاندې ذکر شوی شیخ قاسم ـ دتذکرهٔ اولیای افغان لیکونکی ـ لمسی دی، دشیخ متی په علمی او روحانی کورنۍ کې دنیا ته راغلی‌اولکه د خپلو نورو اسلافو غوندې: عالم، پوه او دیوه روحانی شخصیت‌خاوندؤ دده مور تاج بی‌بی وه چې دملك درویزلور او دخلیلو له نامتوکورنۍ څخه وه . دی په بدنی‌کې د«۱۰۲۰ هـ ق» کال دمحرم په میاشت‌کې د دوشنبې په شپه زېږیدلی او د«۱۰٦۰ هـ ق» کال دهمدې میاشتې‌په ۲۳ دچهار شنبې په شپه له دنیا ولاړ اوپه پېښورکې خښ دی. (۱)

شیخ قاسم سربېره پر اولیای‌افغان یوبل کتاب د «تاریخ افغانی» په نامه هم لیکلی دی چې دتاریخ په‌معتبرو کتابونو استناد لری او خپل مآخذ یې دکتاب په دیباچه‌کې ښودلی‌دی. (۲)

## داولیای افغان دلیکلو وخت :

څرنګه چې شیخ امام الدین له«۱۰۲۰ تر ۱۰۶۰ ه ق» کال پورې ژوند کړی چې په دې حساب ددهعمرخلوېښت کاله ؤ نو بنایی ده دې داکتاب د ۳۰ کلنی په شاوخواکې لیکلی وی چې د ۱۰۵۰ ه حدودیې ګڼلای شو .

## د اولیای افغان محتویات :

ددې تذکرې له محتویاتو څخهچې مونږته رارسیدلې یوازې د بی‌بی نېکبختې بیوګرافی‌ده،چې دابیوګرافی‌دېتې خزانې‌دلیکونکی دپلارمحمدداؤد هوتك له خواترې رانقل شوې او په‌پټه خزانه‌کې‌محفوظه ده، بنایی‌دډېرو نورو پښتنو روحانیونو او شاعرانواحوال هم پکې راغلی او د بی‌بی نېکبختې اشعار یې هم را نقل کړی‌وی، خوپه پټه خزانه‌کې یې بل ځای ذکر نشته او هم د بی‌بی نېکبختې‌دکلام نمونه دده له تذکرې څخه نه بلکه ددې له خپل دیوان نه ــ چې«ارشاد الفقراء» نومیده او تصوفی اواخلاقی‌شعرونه پکې‌وو– رااخیستل‌شوې ده؛ ددې تذکرې په باب هم له دې زیات معلومات نشته . (۳)

---

**حواشي :**

۱ــ مخزن افغانی اود میا نعیم‌ددیوان خاتمه دپټې خزانې دتعلیقاتو په حواله ، ۲۱۴ م .

۲ــ دتاریخ افغانی قلمی نسخه‌دپټې خزانې د تعلیقاتو په حواله ۲۱۴ م .

۳ــ دبی‌بی نېکبختې احوال اواشعار دپټې خزانې په ۱۸۱ مخ کې لوستلای شیء !



www.libtool.com.cn

((۱۱))

# بیاض

بیاض هم د پښتو په تذکروکې‌شمېرل کېږی، چې دا هم دپټې‌خزانې دمؤلف په لاس‌کې‌ؤ اودخوشال خان‌خټك، رحمان‌باباوځینو نوروشاعرانو لکه سلطان بهلول لودی اوخلیل‌خان‌نیازی په معرفي‌کې‌یې زیاته استفاده ترې کړې او موادېې ترې اقتباس‌کړی‌دی. له بده مرغه چې بیاض هم اوس په لاس کې نشته اویوازی‌دپټې خزانې په وسیله یې پېژنو .

## دبیاض لیکونکی :

د بیاض لیکونکی محمد رسول‌دی چې دکلات اوسېدونکی اوپه قام هوتك‌ؤ، ده ددولسمې هجری پېړی‌په اوایلوکې ژوند کاوه اودپټې‌خزانې له یوې جملې څخه داښکاری چې دی‌دپټې خزانې د لیکلو په وخت (۱۱٤۱ ـ ۱۱٤۲هـ) وفات شوی‌ؤ، هلته چې محمد هوتك د رحمان بابا دپېژندګلوی په‌برخه‌کې دمحمدرسول‌کتاب یادوی نو دده له نامه سره د«علیه الرحمه» جمله کاږی اولیکی:«محمد رسول هوتك علیه الرحمه په خپل بیاض‌کې‌داسې لیکلی‌دی...» (۱)او هم دا ثابته ده چې نوموړی مؤرخ په ۱۱۱۸ هـ ق کال ژوندی ؤ ځکه چې ده په خپل بیاض کې درحمان‌بابا د مړینې په برخه کې‌همدا پورتنی سنه ضبطه کړې ده. له پورتنیو اسنادو څخه داراوزی‌چې‌محمدرسول دې د۱۱۱۸ ـ ۱۱٤۱هـ ق

کلو ترمنځ وفات شوی وی .

## دبیاض دلیکلو وخت او محتویات :

ځرنګه‌چې محمد رسول‌کلاتوال‌په ۱۱۱۸ هـ ق کال یقینی ژوندی او له ۱۱٤۱ هـ ق کال نه مخکې وفات‌شوی دی، له دې کبله دبیاض دلیکلو وخت هم ددې کلونو ترمنځ‌له۱۱۱۸هـ‌کال څخه راوروسته اټکلولای شو .

داکتاب یوه مغتنمه او قیمتي تذکره ګڼله کېږی چې ډېر مهم اسناد پکې ثبت شوی دی اودسلطان بهلول لودی، خلیل خان نیازی، خوشالخان ختټك اورحمان بابا بیوګرافي اواشعاریې ضبط کړی چې دپټې خزانې په وسیله زموږ لاس ته رارسېدلي دي؛ بنایي چې په دې بیاض کې به ډېر نور قیمتي اسناد هم موجود وو، خومتأسفانه چې زموږ لاس ته نه دی رارسیدلي او داپورتني مواد هم دپټې خزانې په واسطه خوندي شوی دي؛ داهم باید ووایو چې دپټې خزانې له پیداکېدو نه مخکې دپښتو دلوی اوغیب اللسان شاعر رحمان بابا دزیږیدو او مړینې یقیني تاریخونه په لاس کې نه وو خو دهمدې بیاض په مرسته او د پټې خزانې په وسیله د «رحمان بابا» په ژوند پېژندنه کې یوه مهمه اضافه وشوه او دپښتو ادب ددې صوفي بابا دژوند له مهمو نکتو څخه پرده پورته شوه .

## د بیاض نظم :

څرنګه چې د بیاض نثر په لاس کې نشته نوځکه یې دنثر له څېړنې څخه تېر او دنظم په باب یې څه ویل غواړو :

داخو ښکاره خبره ده چې په پښتو ادب کې درحمان بابا اوخوشالخان ختټك شعرونه د هرچا له اشعارونه پاخه، خواږه، ښه، درانه، مشهور اوله هرراز ادبي ښکلاوۀ ډك دی اوپه خپله خوشال خان او رحمان بابا دپښتو ادب پلرونه بلل کیږی اودوی دپښتو ادب د آسمان هغه ځلانده ستوری دی چې دنورو ټولو ستوروړنایې تته کړې اوترتأثیر لاندې یې راوستلي دي، نوڅرنګه چې په بیاض کې هم دخوشال خان او رحمان بابا نظمونه اوسوانح ثبت دی، ځکه زیات ددوی داشعارو په باب څه نه شوویلی اوکه څه وواېو هم نوهغه دلمرپه مخ کې به د ډېوې بلـولو مثال ولری. همدا راز د سلطان بهلول لودی اوخلیل خان نیازی دوه څلوریځې چې پکې راغلي په نمونه کې یې وړاندې کوو څو یې دپخوالي او سلاست جاج په خپله لوستونکي واخلي .

## دبیاض دنظم نمونه :

دخلیل خان نیازی رباعی (۲) :

خـړې وریځی ژاړی لـه پاسه    کو یله ږغ کا بېلتون له لاسه

په هغه لونی ګوهر په خول‌ستا     دامرحبا کا ستا زموږموواسه(۳)
د سلطان بهلول ر باعی(٤) :

ملك‌به زرغون کړم‌په‌ورکړه‌راسه     ګوره اوریځې د داد له پاسه
خول مې دعدل په دوروڼ دی     جهان‌به زیب‌مومی‌زماله لاسه(٥)

---

## حواشي :

۱ــ پته خزانه ۹۳ م .

۲ــ «په هندوستان کې دبرسات‌په موسم خلیل خان نیازی هسې باعی انشاء کړه او دسلطان بهلول‌پادشاه په مخه کې وویله ...» (پته خزانه ۷۵ مخ) .

۳ــ پته خزانه ۷۷ م.

٤ــ «سلطان بهلول علیه‌الرحمه‌چې دارباعی (د خلیل خان) ونغوږه په ځواب‌یې دارباعی سمدستی‌وویله»(پته خزانه ۷۷ م.)

٥ــ پته خزانه ۷۷ م.



www.libtool.com.cn

## ((۱۲))

# پټه خزانه

پټه خزانه د پښتو د پخوانیو تذکرو په لړ کې تر اوسه پوري یوازینۍ بشپړه تذکره ده چې زموږ لاس ته رارسیدلې ده؛ پټه خزانه لکه چې نوم یې پټه خزانه دی همدا راز د پښتو ډیر پټ رازونه پکې پټ دي؛ دې تذکرې نه یوازې داچې د پښتو تحریري ادب او شعر لومړۍ هجري پېړۍ ته ورساوه بلکه دا یې هم ثابته کړه چې پښتو له ډیر پخوا درباري، شعري او ادبي ژبه وه او د پښتو اکثره پاچایان د پښتو شاعران هم وو؛ ددې خبرې لوی یې نمونې د سوریانو، غوریانو ، لودیانو او هوتکیانو کورنۍ دي چې هم ددې خاورې سلاطین او ټولواکان او هم د پښتو ادب روزونکي پالونکي او حتی په خپله ادیبان و و چې په دې لړ کې امیر کروړ، نصر لودي او شاه حسین هوتک دیادولو وړ دي .

همدا راز دې کتاب د پښتو یوه زیاته اندازه لرغون کلمات او لغات هم زموږ لاس ته راوستل چې اوس یې اکثره متروك او له منځه تللي دي؛ همدا رنګه دې تذکرې د پښتو دیوه زیات شمېر کتابونو نومونه راپه ګوته کړل چې په هغو کې «د پښتو پخوانۍ تذکرې» هم شاملې دي او موږ مخکې په خپل خپل وار معرفي کړې.

### د پټې خزانې لیکونکی :

د پټې خزانې لیکونکی د پښتو یو پوه، عالم ، سترګور او فاضل ادیب ، مؤرخ او لیکوال خدای بښلی «محمد هوتك» دی ،له نیکه مرغه دې دانشمند لیکوال داکثره لیکونکو په خلاف په خپله تذکره کې سر بېره نورو شاعرانو او ادیبانو په سوانح خپله پېژندګلوی هم لیکلې ده او دادی دده سوانح دده له خپلې خولې لیکم:

«وایي محمدزوی د داؤد خان‌زوی دقادر خان په قوم هوتك، چې: زموږ دکهول اصل ځای مرغه وه، چې‌زمانیکه قادرخان له هغه ځایه راغی سیوری ته اوهلته راورسېدی، پسله‌خومدته په تقاضا د نصیب اوقسمت راغی او دکندهار پخواکې په کلي‌دکوکران استوګنه کوله اوپېشه‌یې ؤ زراعت .

... زما راتګ دې نابودې‌دنیاته یعنی تولد مې واقع سوی‌ؤ په (۱۳) درجب المرجب سنه (۱۰۸۴هـ) پـه‌کوکران کې اوسن‌ته دتمیزورسېدم، نومې پلار درس راتـه شروع کـاوتراتلسم کاله د عمر مې ولوستل احکام ددین اوفقه اواصول اوتفسیراودفصاحت علوم لکه قافیه اوعروض او بیان اومعانی اونور . چې زما پلارمرحوم وفـات سو اوزه پـه تقاضا دپـادشاه ظـل الله د امت سلطنـه‌شاه حسین راغلم د قندهار ښارته، تراوسه په نظر کیمیا اثر د پادشاه‌اسلام ښادیم او هرکلـه په احسان او مرحمت ددې خـانـدان عالیشان‌سربلند یم، عمرمې‌تېرېږی په‌لوستلو اوکښلو دکتابو، له نعمتو د جهـان‌بله بهره نه لرم اوزړه‌مې هم خوښی نه کاږیله دې اشغالوپه بل‌څه. په دې‌اوقاتو دعمر چې مې تېرکړل یو څه کتابونه مې وکښل ، چې یوله دغـوڅخه دغـه خزانـه ده او نور دادی: یوکتاب مې کښلی دی په بیان‌دعلوم‌د فصاحت چـې «خلاصة الفصاحت» باله شی اوپه دغه کتاب مې ټول‌علوم‌دفصاحت په پښتو د خپلو پښتنـو طالبانو دپاره خلاصه کړل. بل‌کتاب‌مې کښلی دی په بیان دطبابت‌اوعلاج چې «خلاصة الطب» یې نوم دی، په‌سنه ۱۱۳۹ هجری چې مې دغه کتاب دپادشاه عـالم پنـاه مدظله مخ تـه‌پیش کا، سل طلاوې یې ماته صله‌کا اوهرکله داسې مراحم دپادشاه ددې‌فقیر، غریب په حق ډېر دی اوارکان ددولت ابد مد ت هم پـردې فقیـردمرحمت نظرکا، خاص بیابهادر خان عالی مکا ن چې نـن ورځ په قندهاردغرباؤ په سرظل درحمت دی، خالق دې عمر ډېر کـا. مـاله یو دېـوان‌داشعاروهم سته چې په دې وخت‌کې مردف اومدون سوی دی او غزلونـه‌او قصاید اورباعی لری، کله چې‌طبع قاصر میل دشعر اووېناکا، شعرونه‌کاږم اوموزونان دروزګار یې‌خوښوی. ځکه چې دځـان ستاینه ښه نـه ده‌اوپوهان‌له دې‌کاره عارکا، نوپه‌خزانه کښې مې خپل احوال وکیښ ، چـې‌ددې کتاب ویونـکی ما ته دعا وکـا اوهروقت مې په دعا یادکا» (۱) .

داؤ تاسو د محمد هوتك ژوندده له خپلې خولې ولوست اوموږته دانتیجه په لاس راکوی چې محمدهوتك دشاه‌حسین هوتك په‌دربارکې زیات قرب درلود اوپه خپله دپاچاورته ډېر عقیدتؤ لکه دوه ځل یې په دوو کتابونو زر ـ زر طلاوې‌صله هم ور کړې وه چې یویې خلاصة‌الطب اوبل یې همدا خزانه‌ده.

دمحمد هوتك دمړینې نیټه‌نه ده‌معلومه، دی د پټې خزانې د لیکلو په وخت‌کې د۴۸کلوپه عمرؤاوځرنگه‌چې‌په ۱۱۵۰ ه ق کال نادر افشار دکندهار له حملې نه وروسته دشاه‌حسین هوتك دربار ړنگ اودرباریان یې تیت اوپرك کړل په خپله شاه‌حسین‌یې بندی‌کړ؛ په دې اړودوړکې دشاه حسین ددربار عالمانو اوادیبانوله زیاتې مېرانې او غیرت څخه کار واخیست، کتابونه او قلمونه یې‌کېښودل اوپه عوض کې یې‌په‌توروواو ډالونو ځان سینگار کړ اوپه ډېرەمېړانه یې دغلیم مقابله کوله چې اکثره یې په همدې اړاودوړ کې‌له منځه ولاړل نوځکه گومان کېږی چې محمدهوتك‌دې هم په دې‌وخت‌کې‌یاله منځه تللی وی اویاکه پاتې وی هم چېرته یې ذکر نشته چې په دې‌ترتیب دمحمد هوتك وروستنی ژوند تراوسه مجهول دی .

## هوتك او دهوتکو دوره :

ځرنگه چې پټه خزانه د هوتکوپه‌دوره‌کې اوهم د یوه هوتك له خوا کښلی شوې د ه‌نوځکه بې‌ځایه‌نه‌گڼم‌چې دهوتکو اوددوی ددورې په ادبی کارنامو یوڅغلند نظر واچوم :

هوتك دپښتنو غلجیو یوه‌پښه‌ده چې د هوتکانو لومړی پلار «هوتك بابا» د «بارو» زوی «بارو»د«تولر» زوی او د «تولر» پلار «بابا غلجی» ؤ چې په دې ترتیب«هوتك بابا» د «غلجی بابا» کړوسی کېده، دزېږیدو نیټه یې «۶۶۱ه» اودمړینې نیټه یې «۷۴۰ه» ده. (۲)

هوتك بابا هم دتورې ښبتنؤاوهم دقلم، هم‌یې‌غزاوې کړې اوهم‌یې رزمی اوحماسی معرونه‌ویلی دی‌چې‌په دې‌وسیلې سره دهوتکو ښبنته په شعر اوادب اېښودل شوی‌ده،له‌هوتك‌بابا نه درې پېړۍ راوروسته‌په دې کوزنۍ کې یو بل ځلانده ستوری‌وځلېدچې دالوی شخص د افغانستان

لوی ملی مشر «میرویس خان» هوتک‌دی. میرویس خان هو تک په افغانستان کې یوازینی ملی مشر دی‌چې رسمی پاچایی یې نه ده کړې اودیوه ملی مشر په صفت یې‌دمملکت‌اداره او واګې پـه لاس نیولې دی. ددوی لویه کار نامه د ظالم ګرګین‌له ظلم څخه د کنـدهار خلاصول او دافغانی خاورې تمامیت ؤ. میرویس‌خان هـوتک کـه څه هم په خپله شعر نه وایه خو‌دشعر اوادب‌سره‌یې‌زیاته علاقه وه اوډېره عقیده یې‌ورته درلوده‌چې نمونه‌یې هماغه‌درحمان‌باباپه دېوان دفالونو نیول دی چې پټې خزانې ذکـر کړی دی ؛ بیـا دده کشرزوی شاه‌حسین‌هوتک هغه وخت چې دکندهار دسلطنت واګې‌په‌لاس کې‌ونیولې دپښتو ادب پالنې اوروزنې‌ته ډېـره زیاته تـوجه وکـړه او لـکه‌څرنګه چې دسلطان محمود غزنـوی په دوره‌کې ددری شعر اوادب بازارګرم‌ؤ، همدا راز دشاه حسین هوتک ددورې پښتو پالنه هم ورسره‌سمه‌ده‌اوترې کمه نه‌ده؛ دی پـه خپله هـم شاعر ؤ اودربار بـه یې هم تل لـه‌شاعرانو اوادیبانو ډک ؤ چې تل‌به‌یې ادباؤ اوفضلاؤ ته صلې اوجایزې هم‌ورکولې؛ دی په «۱۱۱٤هـ» کال (۳) زیږیدلـی اود ۱۱۵۲ هـ کال دبرات‌دمیاشتې په لسم په مازندران کـې وفات شوی دی(٤) چې دده‌په‌له‌منځه‌تګ سره د هوتکو دورې هم سقوط وکړ اوبیاله‌دوی وروسته‌په هوتکو کې‌دادیبانو اوشاعرانونوم هم ډېر کـم اورو .

## پټې خزانې دلیکلو وخت :

پټه خزانه محمد هوتک د شاه‌حسین هوتک په تشو یق اوامر پـه ۱۱٤۱ ــ ٤۲ هـ ق کلوکې لیکلې اوترتیب کړې ده، دی پټې خزانـې له لیکلو نه حتی دیر ش کاله مخکې‌دپښتنو شاعرانو په ژونـد پېژندنه پسې ځاروؤ او په دې هکله دپټـې‌خزانې په سریزه کې داسې کاږی:

«... داډېر وختونه تېر سول‌چې ماغوښته چې‌زه دپښتنوشاعرانو تذکره وکاږم او ددوی احـوال سره‌راټول کاندم، مګر زمانې ماته فـراغ نه راکاوه اوداهیله مې په زړه‌کې‌وچه‌سوه، ځکه چې پرقندهار د ظلـم او جفاتورتم پروت‌ؤ‌اوهېچا آرام‌نه‌درلوداونه فراغ ، ګاهې به مغولو چپاوونه کړل اوګاهې به د ګرګـین دستـم‌سوران ؤ... هغه وقت چـې زمالـه ارادې خبر سو زموږ د پښتونخـوادسترګـو تور امـام المسلمین وابن



www.libtool.com.cn

قاتل الرفضة والكافرين شاه حسين، ادام‌الله دولته الى يوم‌الدين. بيت:

| | |
|---|---|
| دپښتنو پادشاه حسين هوتك | په ملكانو كې دى، دى‌لوى‌ملك |
| دحاجي ميرغښتلى‌زوى ګرندى | خالقه تل دېوى ځلاند داغمى |

نوېي زه وغوښتم خپل دربارته‌اوماته يې تشويق كا اوالطاف يې ښكاره كا، چې داخپله اراده پوره‌كاندم اودپښتنو شاعرانو حال سره راټول كاندم، ځكه چې زموږ پادشاه‌اودښالم خپلو دزړه سر، شاه حسين خلدالله ملكه وسلطنته ، پخپله هم‌دښې وينا خاوند اودپښتنو د شعر شوقمن دى، نوما وغوښته چې ژرترژره داكتاب وكښلى سى اودپښتنو دشاعرانو احوال ټول كړسى .

ښكاره دې وى، چې ماله‌ديرشوكالو راهيسې ، د ډېرو شاعرانو دپښتنو ، احوالونه راټول كړى دى‌اوهغه وقتونه چې دپښتونخوا پرلټو ګرځېدم ، له وګړيو څخه مې ډېرښه حالونه اورېدلى دى او اوس‌هغه ټول دخپل پادشاه ظل‌الله په‌غوښتنې‌كاږم، ددې كتاب نوم دى «پټه‌خزانه» ځكه چې دلته هغه احوالونه راغلى‌دى‌چې پټ وو اونه وو ښكاره، خالق تعالى دې ټوله مسلمان و بخښى اوزموږ دپادشاه سيورى دې تل وى اودايم، په دغه كتاب چې ماپه كښلوابتداوكا ، ورځ وه د جمعې ١٦ دجمادى‌الثانى، سنه‌وه ١١٤١هجرى»(٥) همدا راز دپټې خزانې ليكل د١١٤٢ ه ق كال دشوال المكرم په‌پنځه ويشتم تمام شوى (٦) چې‌په‌دې ترتيب د پټې خزانې راغونډولو، ترتيبولو اوليكلو «١٦»مياشتې او«٩» ورځې نيولې دى .

## دپټې خزانې محتويات :

پټه خزانه په لومړى سركې‌په دريو خزانو وېشله شوې ده :

لومړۍ خزانه: دهغو شاعرانوپه پېژندګلوى‌كې چې پخوا‌تېرشوى.

دوهمه خزانه: دمؤلف دمعاصروشاعرانو بيوګرافى .

دريمه خزانه : دهغو ښځو په‌پېژند ګلوى بناده كومو چې په پښتوكې شعرونه ويلى دى .

خاتمه : دمؤلف دپلار اودده لەخپلي پیژندگلوی ځخه عبارت ده.

په لومړی خزانه کې: باباهوتك، شیخ ملکیار، اسماعیل ، خربنبون شیخ متی، امیر کروړ، شیخ اسعدسوری، ښکارندوی، ابومحمد هاشم، شیخ تیمن، شیخ بستان بړیځ، شیخ رضی لودی، نصر لودی، شیخ عیسی مشوانی ، سلطان بهلو ل لودی، خلیل خان نیازی ، خوشالخان ختك زرغون خان ، دوست محمد کاکړ، رحمان بابا ، شیخ محمد صالح او علی سرور معرفی شوی دی .

په دوهمه خزانه کې: ملا بازتوخی، شاه حسین هوتك، ملازعفران محمدیونس خان، محمد گل مسعود، عبدالقادر خان ختك ، بهادر خان، ملامحمد صدیق پوپلزی، ملاپیرمحمدمیاجی، اللهیار افریدی ، بابو جان بابی، ریدی خان مهمند، ملامحمدعادل بړیځ، محمدطاهر جمریانی، محمدعمر ملامحمد ایاز نیازی ، ملامحمد حافظبارکزی ، نصر الدین خان اندړ ملانور محمدغلجی، عبداللطیف اخکزی او سیدال خان تا صر پیژندل شوی دی .

په دریمه خزانه کې : نازوانا، حلیمه حافظه ، بی بی نیکبخته بی بی زینب، زرغونه او رابعه معرفی شوي دی .

اوپه خاتمه کې: داؤد خان هوتك دمحمدهوتك پلاراوپه خپله محمدهوتك معرفی شوی اوکتاب سرته رسیدلی دی؛ چې په دې ترتیب په پټه خزانه کې ټول «٥١» تنه شاعران او شاعرانې معرفی شوی اوپه دې قیمتی خزانه کې دیوپنځوس تنو پښتنو ادیبانو ژوندپیژندنه او داشعارو ملغلرې خوندی دی .

## پټه خزانه له کومه شوه ؟ :

له کومه وخته چې پټه خزانه رابرسیره شوې نو دځینو کسانو له خوا یو لړ پټې خبرې هم پسې شروع شوې او کیږی؛ چې وایی: «پټه خزانه ساختگی اوجعلی ده»(!!) که څه هم ددې راز بې اساسه خبرو په ځواب کې څه ویل بې ځایه وخت ضایع کول دی ځکه داکسان که په پښتوسم وپوهیږی اوپټه خزانه په غور ولولی نو بیا به هیڅکله هم دا

نامعقول اوبې اساسه سوال ددوی‌په‌دماغ‌کې ونه گرځی، ځکه چې په پټه خزانه کې دومره ادبی قدرت اومتره‌موجوده ده چې داوسنیو لیکوالو لـه قدرته د داسې ښکـلی اثـر جوړول‌بېخی خارج اووتلی دی، او دومـره تاریخی اسناد یکې موجود دی چـې‌په نورځای‌کې هېڅ نشته. خوبیا هم ددې دپاره چې په موضوع ښه رڼاچول شوې وی‌دپټې خزانې‌دپیدا کېدو سوابق په لاندې ډول لیکل کېږی :

د کوټیټې معاصر لیکوال ښاغلی‌محمد جعفر اخکزی په خـپله یـوه کوچنۍ تذکـره کـې چې «ونـدر»نومېږی اوپه «۱۹۵۹ ع» کال خپره شوې د عـلامه عبدالعلي دبیوگرافی‌په لړ کې لیکي: دعبدالعلی څه (څخه) دبهترینو کتابو یوه اعـلی‌خزینـه‌موجوده وه، په هغه‌کې دده یوه قلمی نسخه «پټه خزانه» وه، چې حکومت‌افغانستان چاپ کړه اودپښتو دتاریخ یوه اهمه اوقیمتی‌حصه‌یې‌محفوظه کړه...» (۷) کوم‌وخت‌چې‌ماپه دې‌باره‌کې دپټې خزانې له محشی‌اوناشر استادعبدالحی «حبیبی» صاحب‌سره خبری وکړې اوله دوی نه مې دپټې خزانې‌دسوابقو په‌باب پوښتنه وکړه‌نودوی راته دپټې خزانې دلاس ته راتلو په‌باب وویل چـې : علامـه عبدالعلـی دخوانۍ په وخت په کند هـار کـې‌اوسېده ، او وروسته زمـا ورسره تګ ـ راتګـ دوستی او علاقه ومـدکندهار د استـوگنې په باب یـې محمدجعفراخکزی‌هم غږېدلی‌دی‌ـ (۸)دی له کندهاره بېرته کوټې ته ولاړ، اوهغه وخت چې زه د «طلوع افغان»مدیروم، احوال یې راواستاوه: «چې ماله چاسره داسې تذکره لیدلې ده!»خوزه مؤفق نه شوم چـې یـاورشم اویادبل چاپه واسطه دا تذکره ترې‌راوغواړم؛ خوچې زه کابل‌ته راغلـم اودلته مقرر شوم نوپه دې وخت‌کې‌زه دهغه وخت دپوهنې‌دوزیرپه اجازه کوټې‌ته ولاړم اودعلامه عبدالعلی‌کاکړ‌په واسطه مې دپټې‌خزانې خطی‌نسخه له اصلی‌مالکه څخه دپیسوپه بدل‌کې‌واخیسته؛ وروسته له دې مـې ددې تذکرې په تحشیه، تعلیق او ترجمه‌لاس پورې کړ خوچې په ۱۳۲۲هـ ش کال مې دپښتو ټولنې له خوا خپره‌کړه .

## دپټې خزانې قلمی نسخې :

د پټې خـزانې لومړۍ قلمـی‌نسخه په‌خپله مؤلف‌لیکلې اودنسخې په پای‌کې داسې لیکی: «کتاب تمام‌سو په ورځ دجمعې۲٤ دشوال‌المکرم

سنه (۱۱٤۲) هجری په قندهار کې اومؤلف محمدهوتك هم فارغ البال سو، الحمدلله حمداً کثیراً.» (۹)

دمؤلف دلیکلې نسخې له مخې ددوهم ځل له پاره نورمحمد خروټي دسردار مهردل خان له پاره قلمي کړې اولیکي : «بتاریخ دهم ماه ربیع الاول سنه یکهزار و دوصد وشصت وپنج هجری گذشته بود از هجرت رسول خدا صلی الله علیه وسلم بدستخط حقیر فقیر کثیر التقصیر نورمحمد خروټي برای عالیجاه، رفعت جایگاه سردار عالی تبار سردار مهردل خان قلمی گردید .

هرکه خواند دعا طمع دارم زانکه من بنده گنهکارم» (۱۰)

بیا ددریم ځل له پاره ددوهمې نسخې له مخې محمد عباس کاسي په کوټه کې دحاجی محمداکبر هوتکي له پاره قلمي کړې ده او لیکي: «این کتاب را احقرالناس محمدعباس قوم کاسی درشهر کویته بلوچستان خاص از برای عالیجاه تجارت نشان حاجی محمد اکبر قوم هوتکی قلمی کرد ، سنه ۱۳۰۳ هجری باستعجال تمام قلمی شد.» (۱۱)

په دې ترتیب پټه خزانه لومړی په ۱۱٤۲ هـ ق کال دمؤلف له خوا دوهم ځل په ۱۲٦٥ هـ ق کال دنورمحمد خروټي اودریم ځل په ۱۳۰۳هق کال دمحمدعباس کاسي په قلم قلمي شوې ده .

اوس ددې ګټور کتاب دلومړی اودوهمې نسخې پته نشته خودریمه نسخه ــ چې چاپ هم دهمدې نسخې له مخې شوی ــ دافغانستان د خطي نسخو په کتابخانه کې خوندي ده او «۱۱۲» مخونه لري. (*)

---

(*) ځني خلك دخاصو اغراضو په سبب داسې وایي: چې دپټې خزانې قدیمه نسخه نسته ، نوځکه دشبهې وړده. اوهغه پخواني پښتو کتابونه چې په پټه خزانه کې ذکر سوي دي، هم اوس نسته، نودمنلو وړندي .

دلته باید داخبره روښانه کو، چې ګرده هغه کتابونه چې په پټه خزانه کې ذکر سوي دي، ورك ندي، اوځني یې اوس هم سته ، لکه مخزن افغاني اوحدیقهٔ ختك اودرحمان بابا دېوان چې دري سره چاپ سوي هم دي. نوځکه چې دمحمدهوتك له مأخذوڅخه دغه درې کتابونه موجود دي «پاتې د۵۷ مخ په لمن کې»


بسم الله الرحمن الرحيم

بیت

www.libtool.com.cn

دپټې خزانې دقلمـــی نسخی دلومړی مخ عکس



دپټې خزانې د قلمي نسخې دوروستي مخ عکس

## دپټې خزانې مآخذ :

له نیکه مرغه دپټې خزانې پوه‌مؤلف دخپل کتاب دمآخذو ذکر ځای په ځای کړی اودهر قول مأخذ یې‌که روایت دی یاعنعنه یاله کوم‌کتابه اخذ دی ټول یې ښودلی دی چې‌دپټې‌خزانې ټول مآخذ په لومړی سر کې په څلورو لاندې برخو ویشلای‌شو :

۱ــ هغه مآخذ چې محمدهوتک‌مستقیماً کتلی؛ استفاده یې ترې‌کړې اوپه لاس کې یې وو .

---

«د٥٤ مخ پاتې»

هغه نور کتابونه چې‌ده یاد کړی دی،هم صحیح دی .

دوهمه خبره داده چې که دیوه‌کتاب زړه نسخه موجوده نه وی نودلیل ددې نه گرزی چې دا کتاب‌به مجعول وی. دفارسی ژبی لومړی تذکره لباب‌الالباب ده،چې محمدعوفی‌په اوم هجری قرن‌کې تالیف کړېده مگر ددې کتاب‌دواړی موجودی‌نسخې‌ترلسمی پېړۍ دمخه ندی نوپه دې دلیل موږ لباب الالباب کوم مجعول‌کتاب نه بولو .

داکتاب تر ۱۰۰۰هـ کاله پوری‌هیچانه پېژاند ، تردې حده چې د«بزم آرا» مؤلف سیدعلی هغه ټوله‌غلاکې‌ء اوپخپل نامه یې ترتیب‌کې‌ء.

ترلباب دمخه یوه بله فارسی‌تذکره د مناقب الشعراء په نامه ابوطاهر خاتونی د۵۰۰هـ په شاوخواکې تألیف کړې وه، چې دولتشاه‌یې یادوی، مگر داکتاب اوس بیخی ورک‌دی‌ء. خو موږیې ددولتشاه په حواله پېژنو اومنویې .

نوهغه څوک چې دلباب اومناقب‌وجود منی، اولباب د فارسی ادبی تاریخ لوی اومعتمد اوثقه منبع گڼی،دوی ولی‌پټې خزانې‌ته‌په هغه سترگه نه گوری؟

دعربی اوفارسی په ادبی تاریخ‌کې په سوو داسی کتابونه شته چې نوم یې په یوه کتاب کې راغلی وی،خواوس یې نسخې نسته، مگر موږ دهغو کتابوله وجوده انکار نه کوو،دادبیاتو تاریخونه په داسی بحثونو ډکوو. نوکه د پټې خزانې د انکارکوونکو فارمولا پردغوعربی اوفارسی ورکو کتابو باندی تطبیق کو، بنایی‌چې دتاریخ ادبیات اکثری برخې به له منځه ولاړی سی . **(حبیبی)**

۲ـ هغه مآخذ چې محمدهوتك دخپل پلار يانورو په روايت استفاده ترې كړې اوبل چا ـ خصوصاً ده‌پلار محمد داؤد هوتك ـ كتلى دى.

۳ـ هغه آثار چې دمحمدهوتك‌مستقيمو مأخذونو استفاده ترې كړې اوحواله يې وركړې ده .

٤ـ شفاهي روايات اوده‌خپلې‌ليدنې ، كتنې او پوښتنې چې له شاعرانو اواديبانو نه‌يې كړې‌دى.چې موږيې دلته دلوړيو درې ډولو مأخذو نومونه په لاندې ډول ليكو :

۱ـ هغه مآخذ چې محمدهوتك‌مستقيماً كتلى‌دى دادى:افضل‌الطرايق بياض، تحفهٔ صالح، تحفهٔ واعظ ، حديقهٔ ختك، د رحمان بابا ديوان دمحمدهوتك خپل ديوان، دشاه‌حسين‌ديوان، محاسن الصلوة، غرغښت‌نامه قصص العاشقين (شها او گلان)،گلدستهٔ زعفرانى ، لرغونى پښتانه مخزن افغانى ، پښتو محمود نامه اونافع مسلمين . كه څه هم ځينې نور آثاريې‌هم ذكركړى ـخودانيستنې‌اشاره نه لرى .

۲ـ هغه مآخذ چې محمدهوتك‌دنورو په روايت استفاده ترې كړې ده دادى:اولياى‌افغان، ارشادالفقراء،پښتو بوستان ، بستان الاولياء دخداى مينه، د الليهيار اودنازو ديوانونه .

۳ـ هغه آثارچې د محمدهوتك‌مأخذو اخذ ترې كړى دادى: اعلام‌ـ اللوذعى فى اخبار اللودى او تاريخ‌سورى. (۱۲)

## دپټې خزانې نثر :

تراوسه دپښتو لومړنى لاس‌ته‌راغلى نثر هماغه د سليمان ماكود «تذكرةالاولياء» نثردى‌ـ چې ددې‌اثرپه لومړى برخه كې پرې وغږيدو اودانثر تاسو پخوا ولوست ـ له دې‌نه وروسته د پير روښان اواخون درويزه په عصركې د پښتو نثر ډيرپيچيده، مغلق او مسجع شو، چې بياوروسته ـ وروسته دختكوپه دوره‌كې ببرته دپښتو نثر دتصنع‌اوسجع مخه څه نه څه ونيوله شوه، خوبياهم‌اغلاق اوپيچيدگى ترې وركه نه‌شوه، ځوچې ددوولسمې پېړى په اوايلوكې‌محمدهوتك په پښتو نثر كې يونوى روح پوك واهه او يونوى سبك يې‌منځ‌ته راووړ؛ دمحمدهوتك نثر ډير

پوخ، متین، له تصنع او پیچیدګـي څخه خلاص اودسجع اووزن د روند زنځیریې په غاړه کې نه دی اچولی،همدا راز ترډېره حده دنورو ژبو له تأثیر اواغیزې څخه زغورل شوی‌اوپه روانـه پښتو، تر ډېره ځایـه له محـاورې سره سم لیکـل شوی‌اودپښتوپه سوچه لغاتو اواصطلاحاتو پسولل شوی دی .

دمحمد هوتك له نثر نه راوروسته په پښتوکې بیاهم مسجع‌نثرونه لیکل شوی‌چې دشمس‌الدین «خلاصةالمریدین» د نمونې په توګه یادولای شو، همدا راز د ملاشرف «دپښتـوعروض» نثرهم ترډېره ځایه د عربی اوپارسی‌ژ بی تر تأثیر لاندې لیکـل‌شوی دی ؛ د محمـد هـوتك نثـر دځو‌رلسمې هجری پېړۍ‌په اوایلوکې‌مرحوم مولوی «احمـد جان» بېرتـه راژوندی کړ اوبنه یې وپاله خوځې‌تردې وخته پورې ورو ــ ورو په مخ ولاړ او اوس ــ اوس دپښتـو نثـرله ګرامری اوژبنی دود سره‌سم‌لیکل کیږی چې پـه دې ترتیب د پښتـوداوسنی نثر بنسټ هماغه د مرحوم محمدهوتك نثر ګڼلای شو.

## دپټې خزانې نظم :

څرنګه چې دپټې خزانې‌له‌پیداکېدو نه مخکې دپښتو تحریری او معلوم نظم له‌څلورمې هجری پېړۍ‌څخه مخته نه‌ته ،نودا دپټې خزانې یولوی کار و چې دپښتو تحریری‌ادب‌یې دلومړۍ‌هجری پېړۍ اواخرو او ددوهمې پېړۍ اوایلوته ورساوه؛همدا راز ددې کـتاب په واسطه :

۱ــ دپښتو یولـړ مـخصوص‌اشعار ــ چې‌نه‌داوسنیو اولسی‌اشعارو په ډله کې ودرېږی اونـه د عروضی‌اشعارو سره اړخ لګوی ــ راپه ګوته شول او دااشعار تر زیاتې اندازې دموضوع‌اوداله‌پلوه‌له آریایی‌سرودونو سره سر خوری چې د امیر کـروړ،خر بنبون او ...اشعار یې نـمونې ګڼلای شو .

۲ــ دپښتو درنې او پخې بوللې(قصیدې) یې زموږ لاس ته راوستې چې دغوریانو په‌دربار کې ویلې شوې‌دی ، اودایې راته څرګـنده کـړه :
هغه وخت لکه څرنګه چې دغزنویانو په دربارکې ددې قصیدوبازار تودوو همداراز دغوریانو په دربارکې پښتنو شاعـرانـو پخې قصیدې

درلودي ،چې پټې‌خزانې خوندي کړې‌دی لــکه دشیخ‌اسعد او بنګارندوی بوللي .

۳ــ په پښتوکې یې دژباړل‌شوواشعارو نمونې‌زموږلاس‌ته راورسولې چې په‌دي لړ کې داستاد ابن‌خلاد یوه کــومیډی شعر ترجمه ده چې د نوموړي د شاګرد «ابومحمد هاشم سرواني» له خوا شوی ده .

www.libtool.com.cn

٤ــ په پښتوکــې یې د پخوانیومشاعرو پته راکړه چې دشیخ‌رضی او نصر لودی ، اسماعیل اوخربنبون،خلیل خان‌نیازی اوسلطان‌بهلول‌لودی او نورو مشاعري یې نمونې دی .

٥ــ د پښتو لومړنی شاهنامې‌او ساقی نامې یې لاس‌ته راوستې‌چې شاه نامه‌دمحمودنامې‌په نامه‌دریدیخان‌هومند له‌خوا دشاه‌محمود هوتکی په نامه لیکله شوي اوساقی نامه زرغون‌خان ویلې ده .

٦ــ دپښتو داولسی شعرښکلې‌نمونې یې موږته راپه ګوته کړې چې لومړی نمونه یې دشیخ بستان‌بړیخ بدله ده .

۷ــ دپښتو د عروضی اشعارولومړنی نمونې‌یې را معلومې‌اوپه‌لاس راکړې .

مطلب داچې دپښتو دراز ــ رازاشعارو لکه پخوانی شعرونه، اولسی شعرونه ، عروضی شعرونه او ددې‌دری ډلــو اشعارو نــوري ریښې او څانګې یې زموږ لاس‌ته راوستې اوهم‌یې دمعنی له پلوه له: حماسی،عشقی اجتماعی، مذهبی، انتقادی، انتباهی،کومیډی، مراثــی ، توصیفی، اخلاقی دینی، تصوفی ، فلسفی، فولکلوری،اونور راز ــ راز او بېــلو ــ بېــلو موضوعاتو سره ــ چې پــه پښتــوشعرکې راغلی ــ اشنا کړو اودپښتو ژبې دادب قیمتی ذخایرېې موږ تــه‌راورسول .

## دپټې خزانې سوچه لغات :

دپټې خزانې بل لوی کــار دپښتو دسوچه لغاتو لاس‌ته راوستل اوخوندی کول دی چې لانــدې یــې‌دنمونې په توګه یولړ لرغونی لغات لیکــم :

اتل، اوجاړ، اغیزه، او خــار،اغلی، اشلوك، ایږ، آږه، بړ، برغــه باړی، بامل، بولله ، برمل، بودتون،بلپړد، پاسوال، پرتمین، پنغ،پاړکی پلاز، پسولل، پړر، تره، تون، تیرو،ترمل، تاخون، تورا، ټپکنه، ټپکاونه جنډی، جوپه، جاجل ، جګړن، چړ،چونړی، ځلوریځ، ځوری، ځوار،ځواك ځری، ځغلا، ځلا، خونول ، خاتیځ،دریځ، درمــل ، دښنــه، دوه ئیــخ ډونګونه، روده، ریږدله ، رپی، رغا،ربل، زړه، زرغا، زلما، زغل، ژوبلور ژبور، سوران، سوده، سوان،سوب،ستایوال، سینګړ ، شخړه ، ښنهانه ښخمنې، غوړن، غبرګون ، غــرل،کرغه، کړونګی ، کــروړ ، کویلــه ګوانبل، ګروه، لته، لجند، لرغونی،لویدیځ، لرمل،لمانځنه، لیږدنه،ملونه مراندې، میرځی، منبنت ، نیزوړی،نمنځنه، نــغوړل ، نجتل ، نمــزدك ویرژلی، ویاړنــه ، ودنه، ویرنــه، وړنګن، ورځلوی، هسك، یرغل،یون.

## دپټې خزانې دنثر نمونه :

دپټې خزانې دنثر په نمونه کې دشیخ‌متی‌بابا دپیژندګلوی یوه برخه را اخلم :

«شیخ متی دشیخ عباس‌زوی‌ؤ،چې عباس دعمر اوعمر دخلیل زوی‌ؤ خلیل د غوریــا، غــوریا د کندابــن‌خرښبون زوی‌ؤ چې دحضرت سړبنی قدس‌الله سره له زامنو څخه‌ؤ، زمــاپلار علیه‌الرحمه وماته داسې‌نقل‌وکا: چې د خرښبون علیه‌الرحمه مرګ پەمرغه کې‌ؤ او اولادې‌هم په ارغستان اومرغه اوپښین‌کې سره خپاره سول،ځینې ولاړل دږوب او کوږك غروتــه اوامران اوحسن د شیخ متی ورونه،پرهغه غــرو اوسپدل چې ورومتــه دمشر ورور په نــامه مشهور سو د«خواجه امران غر»؛ اوبی‌بی‌خالادوی خور په پښین‌کې وه چې هورې یې زیارت‌دی، یوبل ورورېې په‌کرمام‌کې خښ دی .

نقل کا: چې شیخ‌متی‌قدس‌الله‌سره په کال هجری سنــه (۶۲۳) زیږیدلی‌ؤ اوپه عمر د پــنځه شپېتو کالو دترناك پرغاړه وفات سو، اوپه هغه غونډۍ لوړ خښ دی چې کــلات‌باله سی.» (۱۳)

## دپټې خزانې دشعر نمونه :

دپټې خزانې‌دشعر په نمونه‌کې‌په خپله دمحمدهوتك شعر را اخلم:

ساقي پاڅه دسرو ملوډك يوجام را
ستاله غمه نا آرامه يم آرام را

بې له ميو د بهار نندارې څه‌کړم
پسرلى سو د خوښۍ بنه پيغام را

دنيا پاته‌ده بنيادى مويوکړى دى
يوګړى‌مې خوښ کړه مې ګړى انعام‌را

دبېلتون په تاريکوکې مې زړه‌شين سو
رڼا‌لمر دجام د ميو په ظلام را

ناکاميو ددنيا مې تام راتريخ‌کا
چې مې‌خوږ کا، کام، ترخه‌وما ناکام‌را

نه نشاط سته، نه مستي سته،نه رندى‌سته
چې‌سمړند هغه او به على‌الدوام را

په اوبومې سوړ زړګى لږ څه راتو دکه
محمد ته داور ډك‌يوهسې جام را (١٤)

---

## حواشي اومراجع :

١ــ پټه خزانه ١٩٥، ١٩٩، ٢٠١مخونه .

٢ــ پټه خزانه ١١،٧م . ٣ــ پټه خزانه ١٠٧ م.

٤ــ هوتکيان دعبدالرؤف بېنواتأليف، دتاريخ ټولنې له نشراتوڅخه ١٤١ مـخ .

٥ــ پټه خزانه ٥،٣ م . ٦ــ پټه خزانه ٢٠١ م .

٧ــ وندر ــ دمحمدجعفراځکزى‌تأليف ٥٤م .

٨ــ وندر ــ ٤٨، ٤٩ م .

٩ــ پټه خزانه ٢٠١ چاپى مخ‌او«١١١» قلمى مخ چې په پټه‌خزانه‌کې اوهم دهمدې رسالې په ٥٦ مخ کې‌زينکوګراف شوى دى .

١٠ــ پټه خزانه ٢٠١ م . ١١ــ پټه خزانه ٢٠٣ م .

١٢ــ دپټې خزانې داعلامو پـه‌فهرست‌کې دکتابونو دفهرست څخه دپټې خزانې داخـذ مخونه موندلاى‌شيء !

١٣ــ پټه خزانه ٢١ مخ .

١٤ــ پټه خزانه ٢٠١ چاپى مخ‌او«١١١» قلمى زينکوګراف‌شوى مخ.



www.libtool.com.cn

## ((۱۳))

# ددی دوری هغه آثارچی دتذکرو حیثیت لری

www.libtool.com.cn

تردي ځایه مو «دپښتوپخوانی‌تذکرې» معرفی کړې، څرنګه چې په دي دوره‌کې یولړ داسې آثار هم‌شته‌چې ظاهراً د تـذکرې بڼه نه لـری خوڅرنګه چې دبېلو ــ بېلو شاعرانواولیکوالو شعرونه اولیکنې پکې‌راټول شوی دی نوزموږ په شعری اوادبی‌تاریخ‌کې دروښانه ډېوې کار ورکوی اود «اوسنیو تذکرو» دمآخذو حیثیت‌لری له دې کبله بې‌ځایه نه ګڼم چې ددې آثارو یوه برخه په لنډه توګـه‌معرفی کړم. «رفیع»

### ۱ــ مخزن الاسلام :

مخزن‌الاسلام دپښتو دیوولسمې‌هجری پېړۍ یو مغتنم اثر دی چـې دپښتو نامتولیکوال‌اومبلغ اخون‌احمد«درویزه» او دده پیروانو لیـکلی او دپښتو دمسجع نثر ، نیمګړی نظـم‌او پوره نظم نمونې پکې راغلې دی؛ څرنګه چې دااثر داخون درویزه اودده دپیروانو د آثارو یولـړ زیاتـې نمونې لری نوپه دې سبب دتذکرې‌حیثیت پیداکوی .

ددې کتاب قلمی نسخې ډېرې‌موندل کېږی‌اوهم‌په هند اوپېښورکې خپور شوی‌دی؛ ددې کتاب یووېشت‌قلمی نسخې یوازې دلندن‌په بریتیش موزیم او نورو کتابخانوکې خونـدی‌دی (۱) ددې کتا ب ټـولې نسخـې یوله بله توپیر سره لـری چې پـه‌مجموعی توګه په مخزن‌کې ددې‌لاندې کسانو آثار اوافکار راغلی دی: اخون‌درویزه ــ زیاته برخه ــ، عبدالکریم داخون درویزه زوی ــ ، عبدالحلیم‌ــداخون درویزه لمسی ــ ، مصطفـی محمد، ملااصغر ، عبدالسلام ، عمرخان، شیـر مـحمـد ، ر حیـمـداد عبدالرحیم او ... (۲)

## ۲ـ د پښتو یوه بې‌نومه قلمي‌مجموعه :

دا دپښتو یوه هغه مجموعه ده‌چې دمخزن الاسلام غوندي د اخون درویزه او یو شمېر نورو پښتنوشاعرانو اونثارانو آثار پکې راټول شوي دی. ددې کتاب‌یوه قلمي‌نسخه‌چې په ډېر ښکلي خط لیك، میناتور اوطلا کاري شوي ده د کلتور اواطلاعاتو د وزارت د خطي نسخو په کتابخانه کې‌شته؛ ددې مجموعې‌ضخامت دوې سانتي ، اوږده اتلس سانتي اوسورلس سانتي متره دی؛خط یې نسخ، دحاشیو جداول یې طلاکاري اومیناتور او دمخو شمېر یې«۳۷۰» ته رسېږي؛ درویشت برخې لري چې په هره برخه‌کې یې دبېلو‌ـبېلو کسانو اشعار او نثرونه راغلي دي؛ کوم کسان چې‌په دې مجموعه‌کې‌یې آثارراغلي دادي: احمد ـ چې داخون در ویزه اصلي نوم دی‌ـ،خواجه محمد، عبدالرحیم ، ارزاني ـ دپیرروښان له پیروانو ښځه دی‌ـ،شیخ محمد سعید، گل‌محمد، سیفي، علیخان، نعیم‌اومحمد.چې‌په دې‌ترتیب‌داهم دپښتو یوګټور اثردی اودپښتو تذکرو په لیکنه کې زیاته استفاده‌ترې کېدای شي.

## ۳ـ چمن بې نظیر :

چمن بې‌نظیر دپښتو د مختلفوشاعرانو د ښکلو او رنګینو اشعارو یوه ښکلې اوپه زړه‌پورې مجموعه‌ده، په دې‌مجموعه‌کې‌عموماً دهغوشاعرانو اشعار راغلي دي‌چې دزرم هجري‌کال‌نه راوروسته بیا د دوولسمې پېړۍ تر اواخر پورې یې ژوندکړی دی؛په دې شاعرانوکې یوشمېر ددېوانو خاوندان او مشهور کسان دی اوبله‌ډله یې هغه شاعران دی چې یوازې څو ـ څو شعرونه ترې راپاتې دی‌اونورېې ورك اوپه لاس‌کې نشته .

دچمن بې‌نظیر یوه قلمي نسخه‌په بریتش موزیم‌کې په «۲۸۷۴»نمره قیدده چې ۱۱۹ پاڼې لري، ۱۹ × ۲٤سم اوپه نولسمه پېړۍ‌کې لیك‌شوې ده، دپښتو دنه وپشتو بېلو ـ‌بېلو‌شاعرانو اشعار پکې راټول شوي‌چې په لاندې ډول ښودل کېږي :

عبد الغفور ـ ٤ـ شعرونه‌ـ،عبدالحمید ـ ۳٤ ش ـ، عبدالقادر ۲٥ ش ـ، عبدل ـ ۱۲ ش‌ـ، عبدالرحمن ـ ۲۲ ش ـ، صمد ـ ٦ش‌ـ، افضل ـ ۲ ش ـ، علیم ـ ٤ش ـ، اشرف ـ ۲۰ ش ـ ، اشرفخان هجري ـ ۲ش‌ـ، دولت ـ ۷ ش‌ـ،دوست محمد ـ ۳ش ـ ، فاضل‌ـ

۲٤ــ ش ــ، فضيل ــ ۱ ش ــ، حسين ــ۲ش ــ، ابراهيم ــ ۳ش ــ، عصام ــ ۵ش ــ، قلندر ــ ۵ش ــ، کامګار خانختك ــ ۳۱ش ــ، کاظم ــ ۳ ش ــ، مهين ــ ۳ش، ميرزا خان انصاری ــ۲ش ــ، معزالله ــ ۳ش ــ، صدرخان ختك ــ ۱۲ش ــ، صديق ــ ۱۷ش ــ،سکندر خان ختك ٤ ش ــ، عثمان ــ ۵ش ــ، خوشالخان ــ ٤ش ــ، يونس ــ۳۷ ش ــ . (۳)

دچمن بی نظير يوه برخه «پادری هيوز» په «کليد افغانی» کې ــ چې تفصيل به يې وروسته راشی ــ هم ضبطه کړې ده چې له هغه نه دبريتش موزيم دنسخی شعرونه زيات دی اوهم د ځينې شاعرانو شعرونه لکه: دعبدالرحمن، افضل اودوست محمد په کليد افغانی کی نشته او دبريتش موزيم په قلمي نسخه کې راغلی؛ همداراز د يو شمير نورو شاعرانو شعرونه چې دبريتش موزيم په نسخه کې نشته دلته زيات راغلی لکه: محمدی، پير محمد ، خواجه محمد، احمدشاه او احمد. څرنګه چې دچمن بې نظير دقلمی نسخې شاعران اکثره ددوولسمې پېړی داواخرونه را وروسته نه دی نو ځکه ګومان کېږی چې داوروستنی شاعران لکه احمدشاه بابا پيرمحمد کاکړ او نور به وروسته دبل چا له خوا پکې زيات شوی وی. چمن بې نظير يو ګټور اثردی چې دلومړی توك «پښتانه شعراء» يو معتبر اومهم مأخذ تشکيلوی .

## ٤ــ يوپښتو قلمی جونګ :

دا اثر د لومړی توك پښتانه شعراء مؤلف استاد حبيبی دنوموړی اثر دمآخذو په لړکې ښودلی؛ دشاه حسين هوتك داشعارو دنمونې په برخه کې يې استفاده ترې کړې او دکندهار دکوکران په کلی کې يې دنوموړی تولواك يوه اولسی سندرمترې رانقله کړې ده ، ښکاری چې په دې جونګ کې به دپښتو دنورو شاعرانو اشعار هم موجود وو .

## ۵ــ ګلشن روه :

ګلشن روه دپښتو ژبې د نظم اونثر دانتخاباتو يوه ښکلې اورنګينه مجموعه ده ، چې انګليسی نامتومستشرق ميجر راورټی راټوله کړې اودپښتو د بېلو ــ بېلو نثارانو اوشاعرانو دکلام انتخابات يې پکې راغونډ کړی دی .

داکتاب دوې برخې لرى چې لومړۍ برخه يې دنثر اودوهمه برخه يې دنظم انتخابات دى :

دنثر په برخه کې دالاندې آثارراغلي:

١ـ دافضل خان ختهك د تاريخ مرصع يوه برخه .
٢ـ داخوند محمد قاسم دفوايدالشريعة يوه برخه .
٣ـ دافضل خان ختهك دکليلې دمنې يا «علم خانهٔ دانش» يوه برخه
٤ـ دبابو جان د کتاب يوه برخه .

٥ـ داخون درويزه دمخزن يوه برخه .
٦ـ د عبدالقادر خان ختهك د گلدستې ـ چې د شيخ سعدى دگلستان ترجمه ده ـ يوه برخه .

دنظم په برخه کې دا لاندې انتخابات راغلى دى :

١ـ د رحمان بابا ددېوان يوه برخه .
٢ـ د خوشالخان ختهك ددېوان يوه برخه .
٣ـ د حميدبابا د دېوان يوه برخه .
٤ـ دخواجه محمدبنګښ ددېوان يوه برخه .
٥ـ دميرزاخان انصارى ددېوان يوه برخه .

٦ـ دکاظم شيدا ددېوان يوه برخه ..
٧ـ داشرفخان هجرى د دېوان يوه برخه .
٨ـ د عبدالقادر خان ختهك ديوسف اوزليخا دمنظومې کيسې يوه برخه .

٩ـ دعبدالقادرخان ختهك ددېوان يوه برخه .
١٠ـ داحمدشاه ابدالى ددېوان يوه برخه .

دکتاب ټول مخونه ٣١٢ دى چې ١٨٦ مخونه يې نثر او ١٢٦ پاتې مخونه يې اشعارو نيولى دى؛ همدارازيوه پښتو اويوه انګليسى مقدمه لرى اويه «١٨٦٠ع» کال په هرتفورد کې دستيون آستين په مطبعه کې خپور شوى دى، قطع يې اويه او $26\frac{1}{2} \times 19$ سم ، ده .

څرنګه چې میجر راورټي پهدېسربېره د پښتو ژبې له پاره نــور نه هېرېدونکی اودقدر وړ خدمتونههمکړی نوځکه لازم ګڼم چې د نوموړی پوهاند لنډه پېژند ګلوی اود آثاروفهرست هم دلته ولیکم :

راورټي د ۱۸۲۵ ع کال د مېدمیاشتې په ۳۱ دنیاته راغی، پلاریې پیټر راورټي نومېده، ده په فالموت‌اوبنزانس کې درس ولوست اوپــه ۱۸۴۳ع کال د بمبئی ایسټ اندیــاکمپنی دپیاده لښکر په دریمه‌قطعه‌کې شامل شو، په ۱۸۶۳ع‌کال دمیجری‌رتبې‌ته ورسېد اوپه ۱۸۶۴ ع کال‌له نظامی وظیفـوڅخه متقاعــد شو.دراورټي دنظامی دورې خدمتونه په ملتان‌کې په ۱۸۴۸ع، په پنجاب کې‌په ۱۸۴۹ع کال اوپه ګجرات، سوات اودهند په شمال لویدیځ سرحد کې‌په ۱۸۵۰ع کال‌کې وو. راورټي پــه ۱۸۵۰ع کال د پېښور ښار دضلعواوبقعو شرح ولیکــله ، له ۱۸۵۲ ــ ۱۸۵۹ع کال نه یې ــ چې په پنجاب‌کې دحکمران مرستیال‌ؤ ــ په ختیځو ژبوکې مطالعه وکړه اوددې ژبودعالی‌متخصص په حیث و پېژنــدل شو، دراورټي یولړ هغه آثار چې دپښتوپه باره‌کې دی په لاندې ډول ښودل کیږی :

۱ــ پښتوګرامر: چې په۱۸۵۵ کال په کلکته‌کې‌په ۲۶۵ مخونوکې خپور شوی اودپښتودصرف اونحوې‌ډېر ښکلی کتاب دی .

۲ــ منتخبات اشعار افغانی:چې‌په ۱۸۶۲ع کال په ۳۸۰ مخونو کې خپور شوی اوپه دې کتاب کې یــې‌دپښتنو شاعرانو زیات شمېر اشعار په انګلیسی ترجمه او منظوم کــړی‌دی .

۳ــ قاموس:ــ پښتوپه انګلیسی‌ــ په ۱۸۶۰ع کال په هرتفورډ کــې په ۱۱۶۶ مخونوکې خپور شوی دی.

۴ــ په ۱۶ پېړی کــې پښتــواشعار:ــ له انګریزی ترجمې سره‌ــ چې دخوشالخان خټک‌اکثره شعرونه‌یې ترجمه کړی اویوه‌ګټوره مقدمه‌یې پرې لیکلې ده .

۵ــ دایسف الحکیم داستان : پخوانی مشهورې کیسې یې په‌پښتو ژباړلې اوپه ۱۸۷۱ع کال یې‌دګلبرټ‌په مطبعه‌کې خپرې کړې دی.



www.libtool.com.cn

٦ـ قاموس :ـ انگلیسی په پښتو ـ په ۱۸۹۷ع کال یې لیکلی دی.

٧ـ پښتو مینول .

٨ـ همدا کتاب (گلشن روه).

همدا راز د تخنیکی اصطلاحاتوهندی او انگلیسی فرهنگ، دطبقات ناصری انگریزی ژباړه اودافغانستان‌اوبلوچستان په باب یاد داشتونه هم دنوموړی له آثارو څخه دی. دمړینې‌نیټه یې معلومه نه ده خوگومان‌کېږی چې د شلمې پېړۍ تـراوایلـو(۱۹۰۰ع کال) پورې به ژوندیؤ؛ ده دپښتونو ، سوات اوهند په سفرکې‌یولړ زیاتې قلمی نسخې راټولې‌کړې دی‌چې د بریتانیا د موزې په ختیځه‌څانگه کـې یـو ځانـگړی او خاص کلکسیون د نوموړی په نامه موجوددی. (٤)

## ٦ـ کلید افغانی :

په کلید افغانی‌کې دپښتودبېلوـ بېلو نثارانواوشاعرانو دنثرنمونې اودشعر انتخابات د نامتو مستشرق‌پاوری هیوزله خوا راټول شوی دی اودپښتو دانتخابی کتابونو په لړکې‌یوپه زړه پورې اوښکلی اثر دی .

داکتاب‌په لومړی سرکې په‌دریولویو برخو ویشل شوی دی: لومړی برخه یې د نثر انتخابات ، دوهمه‌برخه یې دشعر خوښمونې او دریمه برخه یې دانشاء مختلفې نمونې دی.

په لومړی برخه‌کې : دمولوی‌احمد دگنج پښتو یوه برخه،دمولوی احمدجان د تـاریخ سلطان محمـودغزنوی یوه برخه اودافضل خان‌خټک دتاریخ مرصع یوه برخه راغلی دی.

په دوهمه بـرخه کې : دفیاض‌دشاهزاده بهرام اوگل اندامی‌کیسه، درحمان بابا ددیوان یـوه بـرخه، دخوشالخان خټک د دیوان یوه حصه اوچمن بې نظیر ـ چې تفصیل یـې‌مخکې راغی ـ اودپښتو دبېلو ـ بېلو شاعرانو اشعار خوندی دی .

په دریمه برخه‌کې:دپښتودانشاءمختلفې اوبېلې ـ بېلې نمونې دی‌چې دپښتو «۱۹» مختلف‌النوع مراسلې‌اولیکونه پکې راټول شوی دی .

کلید افغانی ٤١٨ مخونه لری‌چې ٢٤٠ مخه یې د نثر انتخاباتو ١٦٢ مخه یې د نظم انتخاباتو او١٦مخونه یې دپښتو لیکونو نیولی دی.

کلید افغانی په ١٨٧٢ع کـال‌دلاهور په سرکاری مطبعه کې خپور شوی چې کاپی نویس‌یې غلام‌جیلانی‌پېښوری دی، قطع یې لویه٢٩ × ٢٢ سم، ده اویوه انګریزی سریزه هـم‌لری .

## ٧ـ د پښتونخـوا دشعر هـاروبهار :

«د پښتونخوا دشعر هاروبهار»هم یوښکلی انتخابی اثــر دی چــې فرانسوی مستشرق ډارمستتردپښتوغزلې، چاربیتــې ، متلونــه، کیسې مصراعې (لنډۍ)، سندرې اونورپکې‌راټول کړی‌اوددې ذخایرودراغونډولو له پاره دپښتونخوا په لتولګرځېدلی‌اودپېښتور په ښــهر دایبټ آباد پــه چاونۍ کې یې دفرانسیس سرکار په‌حکم په ١٣٠٣ هجری ق کال راټول کړی اودپاریس دختیځ ژولني په‌خرڅ‌په سرکاری مطبعه‌کې په ١٨٨٨ع‌کال په پاریس‌کې خپور شوی اوقطع یې٢٥ × ١٥سم، ده .

ددې کتاب پښتوبرخه ٢٢٨مخه‌ده، په دې برخه‌کې لومړی د پښتو جنګی، رزمــی او حماسی چاربیتــې‌راټولې شوې چې داچار بیتې اکثــره تاریخی اودمغولو، انګریزانو او نوروخاینانو او غاصبینــو په غنــدنه او دغازیانو، مجاهدانو اوملی قهرمانانوپه ستاینه‌کې ویلې شوې دی؛ په‌دې لړکې دډېرو ملی شاعرانو چار بیتې‌خوندی دی‌چې دویونکو لنډه ـ لنډه بیوګرافی هم ورسره‌شته؛ څرنګه‌چې‌داچاربیتې زموږ دتاریخ یوروڼ باب تشکیلوی نوځکه لازم ګڼم چې دهغه‌عناوین اوموضوعات دلته ولیکم‌اوکوم شاعران چې په دې بــرخه کې یــې‌چاربیتې راغلې دی یادکړم چې‌دادی:

د «برهان» غزل دلوی احمدشاه‌بابا دهغه جنګ په باره کــې چــې له مرهټه‌ؤ سره‌یې کړی‌ؤ، دنوره‌دین‌چاربیته ـ دیــار محمدخان درانــی دجنګ په باب چې لــه سید بادشاه‌سره‌یې په هندکې کړی‌ؤ، دنوره دین بله چاربیته چــې د فیض‌الله خــان‌مومند ملی خان پــه مرثیه کې یــې ویلې‌ده، دګل‌محمد شاعر چاربیته ـ چې داحمدشاه غازی د هغه جنګ په باب ده‌کوم‌چې نوموړی په‌بالاکوټ‌کې‌له سکانو سره کړی‌ؤ، د برهــان چاربیته ـ د فیروز خان ختټک دزوی‌خواص خان په مرثیه کې، داحمدګل



www.libtool.com.cn

چاربیته ـ دامیر دوست محمد خان‌دجنګ په باره‌کې چې له سکانو سره یې کړی‌ؤ، د احمدګل بله چاربیته ـ چې‌دسوات صاحب‌په مدحه‌کې یې ویلې اودده هغه جنګ یې‌ستایلی‌کوم چې له انګریزانو سره یې په بنیرکې کړی‌ؤ، د حمید دجنګ چاربیته، دنواب دبنیر دجنګ چار بیته دطالب ګل دبنیر دجنګ چاربیته،دپاپاب دپښتون او انګریز دجنګ غزل، دعنوان‌الدین کاکا خیل هغه‌ابیات چې دسوات دملك د حالاتو په باب یې ویلی دی او د ۱۸۸۲ کال‌دمارچ داتلسم تاریخ له پېښې سره اړه لري،دجلال آباد دیوه شاعر هغه‌چاربیته چې دکابل دجنګ په باب یې ویلې‌ده‌اودملي مجاهدینو په‌ستاینه‌اودانګریزانو په غندنه‌کې ده،دپاپاب دکابل دجنګ چاربیته ، د عبدالله‌دکابل دجنګ چاربیته ، دچارمیتي چاربیته چې د غازیانو په مدح‌اودشهیدانو په مرثیه‌کې ده، دکابل دجنګ بله چاربیته، د یوه نامعلوم‌شاعر دکابل دجنګ یوه بله‌چاربیته، دمحمددین چاربیته‌دمحمدجانخان‌غازي‌په ستاینه‌کې. دغریبي چې دننګرهار دبتې کوټ اوسېدونکی‌ؤ هغه‌چاربیته‌چې د غازي محمدجان خان وردګ دوژلې په باب یې ویلې ده،دعزیزخان‌صوبدار د مرثیې یوه چار بیته، د محمود مرغزي دانګریز دانصاف‌په نوم یوه طنزیه چاربیته ، د ارسلا چاربیته دخدوخېلو په‌باب اوداکبرخان‌په مرګ ویرنه .

له دې تاریخي چار بیتونه‌راوروسته دیو شمېر اولسي‌شاعرانو راز ـ راز دیني ، عشقي، تصوفي، نعتیه او نوري چاربیتې راغلې دي له دې نه راوروسته دپښتني‌فولکلوریوه برخه‌چې دمیندومنظومې اودښځو ساندې یکې دي ضبطه شوې، بیادپښتو یو شمېر لنډۍ ، له هغه نه وروسته متلونه ، بیاکیسې اوپه‌پای کې یولړ لنډۍ فولکلوري‌کیسې راغلې دي .

## ۸ـ بهار ګلشن افغاني :

بهار ګلشن دپښتو د مختلفوشاعرانو د اشعارو مجموعه ده ټولوونکی یې معلوم نه دی اودګهرك‌سنګه په فرمایش او مصرف خپره شوې ده، په دې مجموعه کې دپښتودلاندنیو شاعرانو شعرونه راغلي‌دي:

نعمت‌الله، نوروز، محمد رفیق، محمددین ، توکل ، عبدالعظیم ملااحمد جان، غازالدین، حمیدګل، سیداحمد، شاه افضل، اعظم‌الدین

شاه پسند، داد محمد، خیری، قمرالدین، محمداکرم، نورالدین، شاه‌عالم سلطان پېښوری، شهنواز، مطیع‌الله،عبدالرحمن ، خدابخش ، میرا شاه افضل، میرفقیر، داراشاه، گل‌احمد ، سید میر ، زین الدین او سعدالدین .

داکتاب په ۱۳۵۱ هـ ق کال دمنشي برکت علی په اهتمام دلاهور په انارکلی نومی مطبعه کې چاپ شوی دی ، قطع یې برابره او $25 \times 16\frac{1}{2}$ سم ده .

## ۹ـ جشن نوروزی :

داهم دپښتو ـ پښتو شاعرانو داشعارو یوه ښکلې اوړنگینه مجموعه ده چې څوځل په هندکې د کتابوودتاجرانو له‌خوا خپره شوې،تولوونکی یې معلوم نه دی خو زیاته برخه‌شعرونه یې د ملك نوروز دی نوځکه په جشن نوروزی سره نومل‌شوې‌ده، په دې مجموعه کې سربېره دیوشمېر مشهورو شاعرانو په کلام‌دیوشمېر نامشهورو شاعرانوشعرونه هم راغلي چې دپښتو تذکره لیکنې‌په لاره‌کې زیاته مرسته‌کوی اوددېرو شاعرانو شعرونه او د کلام نمونې‌راترگوتو کوی چې یو گټور اثر گڼل کېږی .

## ۱۰ـ بهار نوروزی :

داکتاب له جشن نوروزی څخه‌پرته یوبل اثردی چې په دې‌کې هم دنوروز اووده د نورو همعصرو اوپخوانیو مشهورو او نا مشهورو شاعرانو دکلام نمونې راغلي اوددیارلسمي پېړۍ په اواخرو کې لیکلی شوی اوغوندی شوی دی؛ دااثر هم‌څوځل په هند کې چاپ شوی اوغوندوونکی یې معلوم نه دی .

## ۱۱ـ بهارستان افغانی :

داکتاب هم دپښتو د نظم اونثرښکلی اوپه زړه پورې انتخابات دی چې ابوالصفا قاضي میر احمد شاه رضوانی پېښوری دلاهورکالج پنجاب یونیورسټی دزده کوونکو له پاره کړی دی .

ددې کوچنۍ مجموعې دنثر په‌برخه‌کې دافضل خان خټك د تاریخ مرصع، داخوندقاسم دفوائدالشریعت داخون درویزه دمخزن اوداحمدشاه

درانی نو می تاریخ ښخه انتخابات‌شوی دی .

دشعر په برخه‌کي: درحمان بابا، عبدالقادر خان ختټك ، بابوجان عليخان، قلندر، احمدشاه بابا، خوشالخان ختټك ، کاظم خان شیدا اشرفخان هجری، عبدالحمید، خواجه‌محمد بنگښ او رضوانی له دواوینو ښخه خوښونې شوي دی .

د کتاب قطع کوچنی ۱۷ × ۱۳سم، ده او ۱۰۴ مخونه لري؛ داکتاب په ۱۸۹۸ع کال دلاهور په مطبع‌مفیدعام‌کي خپور شوی دی .

## ۱۲ـ شکرستان افغانی :

شکرستان افغانی هم د قاضي‌میراحمد شاه رضوانی د خوښونو مجموعه ده چي داهم ددرسی‌سلسلې‌له پاره لیکله شوي اوپه ۱۹۰۵ع‌کال خپره شوي ده، ددي مجموعي په مقدمه کي دپښتو د رسم‌الخط او مخصوصو توريو په باب هم یو لړ معلومات شته اولنډې صرفي‌اونحوی لارښودني هم لري؛ د پښتو متلونه، لنډۍ اوفولکلوری کیسي هم پکي شته اوله دي راوروسته دافضل خان‌ختټك له علم خانهٔ دانش، دعبدالقادر خان ختټك له گلدستې اودافضل خان‌ختټك له تاریخ مرصع ښخه خوښونې شوي اوداحمدشاه بابا، عبدالقادرخان، اشرف خان هجری، کاظم‌خان‌شیدا میرزا خان انصاری ، خواجه محمدبنگښ، عبدالحمید مومند ، رضوانی عبدالرحمن سړبنی، خوشالخان‌ختټك،مسعود گل ، احمد اخون خیل عبدالعظیم اوبابو جان لغمانی شعری‌انتخابات دی.درسالي قطع‌دبهارستان په اندازه ده چي ۶۰ + ۵۲ = ۱۱۲مخونه لری .

## ۱۳ـ گلزار مدینه :

گلزار مدینه دیوي هغې‌سلسلې‌منظومو کتابونو نوم دی چي دپښتو دکثیرالکلام او لغت ويونکی شاعرحاجی محمدامین له خوا لیکل شوی دی. خوددي سلسلي دیوه ټوك یوه‌برخه دنورو شاعرانو دکلام هم شته چي د: «اشعار شعرای‌متفرق» په‌نامه‌معرفی شوي اوپه دي برخه‌کي‌دپښتو دیوشمیر نومورکو او نامتو شاعرانونعتی کلام موجود دی اودپښتودشعر اوادب داسمان له یو شمیر ورکوستورو سره مومخامخ کوی چي‌له دي کبله په دي‌لړ کي، دیادوني‌حق لری.

### ۱٤- بهار جانان :

بهار جانان دکندهار دهغو بېلو-بېلو اولسی‌شاعرانو چې‌دخورلسمې پېړۍ په اوايلوکې يې ژوند کاوه‌داولسی اشعارو او نغمو يوه ښکلې اوپه زړه پورې مجموعه ده؛ دا اثرمولوی محمدشريف چې تخلص يې جانان دی‌په ۱۳٤۹ه ق کال ددوهمې‌خور (ربيع‌الثانی) په شلورم‌په‌کندهار کې دمولوی عبدالله تاجر په تشويق‌راغونډ کړی او نوموړی تاجر په ۱۳۵۰ ه ق کال دلاهور دصابر په‌مطبعه کې د منشی ذاکر حسين په اهتمام خپور کړی دی. درسالې ټول‌مخونه پنځوس چې په هغه‌کې۳٦مخه پښتو اونور دری دی، قطع‌یې لويه،کاغذ ژړاو دډبرې چاپ دی .

په دې کتاب کې د لاندينيو‌شاعرانو شعرونه راغلی دی: مخلص ملامحمد کريم، ملازاهد ، کمال بابا،برخوردار ، شمس‌الدين، حاجی اختر امير، سعادت، حليم بابا، غلام‌صديق، پردل، سليم بابا، ملا عبدالرحمن زميندا‌وری ، عبد السلام کرزی ، محمد ايوب ، ملاميران ، عبدالله، فيض‌الله، صديق‌اخوندزاده،ملاخواجه‌اوملا محمد شريف جانان .

## يادونه

دپښتو تذکرو دوهم ټوک«دپښتواوضنی تذکرې» نومېږی؛ دا ټوک په نوی اوانتقادی ډول‌ليکل کېږی‌اوددې‌تذکرو د معرفی او دليکوونکو په پېژندگلوی سر بېره د کتاب په محتوياتو او ترتيب ژور بحث لری اودانتقاد ورتګی اومطالب يې ددلايلواواسنادو په اساس په‌گوته کيږی؛ چې په خپل وار به دپښتو دادب اوادبی تاريخ دمينانو او علاقه مندانو حضورته وړاندې شی .      «پای»

---

۱- دلندن‌دبريټش موزيم‌دپښتوقلمی نسخو کتلاک د ۱۹٦۵ کال چاپ، له لومړی مخ نه تر۲۸ مخ‌پورې .

۲- دپښتو دادب تاريخ‌دښاغلی‌رښتين تاليف له ٤٠ مخ‌نه وروسته.

3-Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles 1965, pp: 93-94.

٤- ددوهم ټوک طبقات ناصری‌تعليقات، دپوهاند عبدالحی حبيبی په قلم، په کابل کې دتاريخ ټولنې چاپ، ۱۳٤۲ کال، له ٦۷٤ تر٦۷٦ مخ‌پورې.

# مآخذ

که څه هم ددې رسالې دهر کتاب په برخه کې دحواشي او مراجعو ترعنوان لاندې مآخذ دمخونو په قيدښودل شوی خو بيا هم لازم ګڼم دبشپړې يادونې په غرض هغه آثارچې په دې رساله کې ترې په مستقيم يا غير مستقيم ډول استفاده شوې ، دلته په عمومي ډول راوړم .

۱ــ پټه خزانه: چې په ۱۱٤۱ــ٤۲ ق کلوکې دمحمد هوتك له خوا ليکل شوې اوپه ۱۳۲۳ هـ ش کال دپښتو ټولنې له خوا داستاد عبدالحی حبيبی په تصحيح، تحشيه او تعليق خپره شوې ده .

۲ــ مخزن افغانی : دنعمت الله هروی ليکنه، دتاريخ ټولنې دکتابخانې قلمی نسخه .

۳ــ تذکرة الاولياء : په ٦۱۲ هـ ق کال سليمان ماکو ليکلې چې اته پاڼې يې لاس ته راغلې اود ۱۳۱۹ کال په کابل کالنۍ اولومړی ټوك پښتانه شعراء کې داستاد حبيبي له خوا زينکوګراف شوې دی .

٤ــ هوتکيان : دعبدالرؤف بېنوا تأليف، چې په ۱۳٤٥ هـ ش کال د تاريخ ټولنې له خوا خپور شوی دی.

٥ــ پښتانه شعراء : ــ لومړی ټوك ــ داستاد حبيبي تأليف چې په ۱۳۲۲ هـ ق کال دپښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی .

٦ــ دپښتو نثر تاريخي تطورات او دنثر ليکونکو تذکره: د۱۳۱۹ کال په کابل کالنۍ کې دښاغلي قيام الدين خادم په قلم .

۷ــ د پښتو ادبياتو تاريخ :ــ لومړی ټوك ــ داستاد حبيبي تأليف چې په ۱۳۲٥ هـ ش کال د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي له خوا خپور شوی دی .

۸ـ دپښتو ادبیاتو تاریخ : ـ دوهم ټوک ـ داستاد حبیبی تألیف چې په ۱۳٤۲ هـ ش کال دپښتو ټولنې له خوا د دوهم ځل له پاره خپور شوی دی .

۹ـ دپښتو د ادب تاریخ: دښاغلی رښتین تألیف چې په ۱۳۲۵ کال د پښتو ټولنې لـه خوا خپورشوی دی .

۱۰ـ وندر: دمحمدجعفر اخکزی تألیف چې په ۱۹۵۹ع کال په کوئټه کې خپور شوی دی .

۱۱ـ طبقات ناصری :ـ دوهم ټوک، تعلیقات ـ د پوهاند حبیبی په قلم چې په ۱۳٤۲ کال د تاریخ ټولنې له خوا خپور شوی دی .

۱۲ـ دلندن دبریټش موزیم دپښتو قلمی نسخو کتلاګ، د۱۹٦۵ع کـال چاپ .

۱۳ـ دپښتو یوه بې نومه قلمی مجموعه: د کلتور او اطلاعاتو دخطی کتابخانې قلمی نسخه .

۱٤ـ د پښتونخوا د شعرهارو بهار: د ډارمسټټر فرانسوی ټولونه په ۱۸۸۸ع کال دپاریس چاپ .

۱۵ـ ګـلشن روه : دراورټـې ټولونه، په ۱۸٦۰ع کال دهرتفورډ چاپ.

۱٦ـ کلید افغانی : د پادری هیوز ټولونه، په ۱۸۷۲ع کال دلاهور دسرکاری مطبعې چاپ.

۱۷ـ رشیدالبیان :ـ دملا عبدالرشید او نـورو لیکوالو لـیکنـه دهند چاپ .

۱۸ـ بهار ګلشن افغانی :ـ دمنشی برکت علی په اهتمام د لاهور په انارکلی مطبعه کې په ۱۳۵۱ هـ ق کال خپور شوی دی .

۱۹ـ جشن نـوروزی : د هندچاپ .

۲۰ـ بهـار نوروزی : د هندچاپ .

۲۱ـ بهارستان افغانی : ـ دقاضی میراحمد شاه رضوانی ټولونه په ۱۸۹۸ع کال دلاهور په مطبع‌مفیدعام‌کې خپور شوی دی .

۲۲ـ شکرستان افغانی:ـ داهم‌دقاضی رضوانی د انتخاباتو مجموعه ده چې په ۱۹۰۵ع کال خپره‌شوې‌ده.

۲۳ـ ګلزار مدینه : ـ د حاجی‌محمدامین اونورو شاعرانودنعتیه‌کلام مجموعه چې په هندکې خپره شوې‌ده .

۲٤ـ بهار جانان :ـ د ملامحمدشریف جانان ټولونه چې په ۱۳۵۰ کال دلاهور د صابر په مطبعه کې‌خپور شوی دی .

۲۵ـ معجم‌الادباء :ـ اووم ټوک، دیاقوت حموی تألیف .

www.libtool.com.cn

# دنومونو فهرستونه

## «۱» دخلکونومونه


الف
ابراهیم ٦٥
ابن خلاد (استاذ) ٢٥، ٢٦، ٦٠
ابوطاهر خاتونی ٥٧
ابومحمدهاشم شروانی بستی ٢٥، ٢٦، ٥٢، ٦٠
احمد ٦٥
احمد اخون خیل ٧٢
احمدجان (ملا) ٧٠
احمدجان (مولوی) ٥٩، ٦٨
احمدشاه بابا ٤٠، ٦٥، ٦٦، ٦٩، ٧٤
احمدگل ٦٩، ٧٠
احمد (مولوی) ٦٨
اختر محمد (حاجی) ٧٣
ارزانی ٦٤
ارسلا ٧٠
اسعد سوری (شیخ) ١٧، ١٨، ٣٥، ٢٦، ٥٢، ٦٠
اسماعیل (شیخ) ٤، ٦، ٧، ٨، ١١، ١٣، ٥٢، ٦٠
اشرف ٦٤
اشرف خان هجری ٦٤، ٦٦، ٧٢
اصغر (ملا) ٦٣
اعظم الدین ٧٠
افضل ٦٤
افضل خان ختك ٦٦، ٦٨، ٧١، ٧٢
اکبر (پاچا) ٣٦
اکبر خان ٧٢
اللهیار افریدی ٥٢
الله یار الکوزی (ملا) ٣٧، ٣٨
امام الدین (شیخ) ٤٢، ٤٣
امران ٦١
امیر ٧٣
امیر پولاد ١٥
امیر کروړ ١٥، ١٧، ١٨، ٢٥، ٢٦، ٣٣، ٤٧، ٥٢، ٥٩
امیر یحیی ٤٠
ب
باباغلجی ٤٩
بابر خان ٢٩
بابو جان ٦٦
بابوجان بابی ٥٢
بابوجان لغمانی ٧٢
بارك خان ٢، ٩
بارو ٤٩
بازتوخی (ملا) ٥٠٢

بختیار (قطب) ۲، ۳، ۸
برخور دار ۷۳
برکت علی ۷۱
برهان ۶۹
بستان بریخ (شیخ) ۳۱ ، ۳۲،
۶۰،۵۲
بهادرخان ۵۲،۴۸
بهلول لودی (سلطان) ٤٤ تر٤٦،
۶۰،۵۲
بی‌بی‌خالا ۶۱
بیټنی (شیخ مشایخ) ۳، ۶، ۱۱،
۱۲
بیټ نیکه ۷، ۸، ۱۳، ۳۳
بېنوا (عبدالرؤف) ۶۲
پ
پادری هیوز ۶۵، ۶۸
پایاب ۷۰
پردل ۷۳
پیتر راورتی ۶۷
پیرروښان ۵۸، ٦٤
پیرمحمد کاکړ ۶۵
پیرمحمد میاجی (ملا) ۵۲
ت
تاج بی‌بی ٤۲
توکل ۷۰
تولر ٤۹
تیمن کاکړ (شیخ) ۳۳، ۳٤، ۵۲
ج
جانان (مولوی محمدشریف) ۷۳
جهانګیر ۳۶
ح
حاجی میر (ر،و: میرویس‌خان) ۵۱
حبیبی (پوهاندعبدالحی) ۲، ٤، ۱٤
تر ۱۶، ۲٤، ۳۵، ۵۳، ۵۷، ۶۵، ۷۳
حسن ۶۱
حسن خان بریخ ۳۱ تر ۳۳
حسین ۶۵
حلیم بابا ۷۳
حلیمهٔ حافظه ۵۲
حمید ۷۰
حمیدګل ۷۰
حمید لودی (شیخ ) ۲۰، ۲۱، ٤۱
خ
خادم (قیام‌الدین) ۶
خدابخش ۷۱
خرښبون ۵۲، ۵۹، ۶۰، ۶۱
خلیل ۶۱
خلیل خان نیازی ٤٤ تر٤٦، ۵۲،
۶۰
خواجه محمد ۶٤، ۶۵
خواجه محمد بنګښ ۶۶، ۷۲
خواص خان ۶۹
خوشالخان ختک ٤٤، ٤۵، ۵۲،
۶۵، ۶۶، ۶۷، ۷۲
خیری ۷۱
چ
چارمیتی ۷۰
د
داد محمد ۷۱
داراشاه ۷۱
داریوش ۱۵
داؤدخان هوتك ۵۲، ۵۸
در ویزه (اخـوند احمد) ۷، ۵۸،
۶۳، ۶٤، ۶۶، ۷۱

دوست محمد ٦٤
دوست محمد خان (امیر) ٧٠
دوست محمد کاکړ ٢٩، ٥٢
دولت ٦٤
دولت شاه ٥٧
ډ
ډارمستتر ٦٩
ذ
ذاکر حسین (منشي) ٧٣
ر
رابعه ٥٢
راورټی ٦٥، ٦٧
رحمان بابا ٤٤، ٤٥، ٥٠، ٥٢، ٦٤، ٦٦، ٧٢
رحیمداد ٦٣
رسول خدا (ص) ٥٤
ربښتین (صدیق‌الله خان) ٧٣
رضواني (قاضي میراحمد شاه) ٧١، ٧٢
رفیع (حبیب‌الله) ٦٣
ریدی خان مهمند ٥٢، ٦٠
ز
زاهد (ملا) ٧٣
زرغون خان نورزی ٢٨، ٢٩، ٥٢، ٦٠
زرغونه ٥٢
زعفران (ملا) ٥٢
زین‌الدین ٧١
زینب (بي‌بي) ٥٢
س
سدو خان ٤٠
سړبن ٦، ٧، ١١، ١٣
سړبنی ٦١
سعادت ٧٣
سعدالدین ٧١
سعدی (شیخ) ٦٦
سعید لودی ٢١
سکندر خان خټک ٦٥
سلطان پینبوری ٧١
سلیمان (پیغمبر) ٣٩
سلیمان ماکو ١، ٢، ٤، ٥، ٩، ٥٨
سلیم بابا ٧٣
سوات صاحب ٧٠
سیداحمد ٧٠
سیدال خان ناصر ٥٢
سیه بادشاه ٦٩
سیدعلی ٥٧
سیدمیر ٥١
سیفی ٦٤
ش
شادمان خان ٣٥
شاه افضل ٧٠، ٧١
شاه بیک ٣٨، ٣٩
شاه پسند ٧١
شاه جهان ٤٠
شاه حسین هوتك ٤٧، ٧١ تر ٥٢، ٦٥
شاه عالم ٧١
شرف (ملا) ٥٩
شمس‌الدین (شاعر) ٧٣
شمس‌الدین (مؤلف) ٥٩
شهنواز ٧١
شیخ احمد ٢١



www.libtool.com.cn

شیخ رضی لودی ۲۰، ۲۲، ۲۳، ۴۱، ۶۰، ۵۲
شیخ سلطان ۳۵
شیخ عباس ۶۷
شیخ عطار ۲
شیخ قاسم سلیمانی ۳۵، ۳۶، ۴۲
شیخ کبیر (بلاپیر) ۴۲
شیخ کته ۱۶، ۲۹، ۳۵
شیخ متی ۲۵، ۴۲، ۵۲، ۶۱
شیخ یوسف ۵۵
شیرمحمد ۶۳
ښ
ښکارندوی ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۲۵، ۲۶، ۶۰، ۵۲
ص
صالح الکوزی (شیخ) ۳۷، ۳۸، ۵۲، ۳۹
صدرخان ختک ۶۵
صدیق ۶۵
صدیق اخوندزاده ۷۳
صمد ۶۴
ط
طالب گل ۷۰
ع
عبدالحلیم ۶۳
عبدالحمید (مؤلف) ۴۷
عبدالحمید مومند ۶۴، ۶۶، ۷۲
عبدالرحمن زمینداوری (ملا) ۷۳
عبدالرحمن سربنی (ر،و: رحمان بابا) ۷۱، ۷۲
عبدالرحیم ۶۳، ۶۴
عبدالسلام ۶۳
عبدالسلام کرزی ۷۳
عبدالعظیم ۷۰، ۷۲
عبدالعلی (علامه) ۵۳
عبدالغفور ۶۴
عبدالقادر خان ختک ۵۲، ۶۴، ۶۶، ۷۲
عبدالکریم ۶۳
عبدالله ۷۰
عبدالله ۷۳
عبدالله تاجر (مولوی) ۷۳
عبداللطیف اخکزی ۵۲
عبدل ۶۴
عثمان ۶۵
عزیز خان (صوبدار) ۷۰
عصام ۶۵
علیخان ۶۴
علیخان ۷۲
علی (دمحمد بستی پلار) ۱۶
علی سرور لودی ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۵۲
علیم ۶۴
عمر ۶۱
عمرخان ۶۳
عنوان الدین کاکاخیل ۷۰
عیسی ۷۰
عیسی مشوانی (شیخ) ۷۲
غ
غازالدین ۷۰
غربنتی ۱۳
غرغبنت بابا ۲۸، ۲۹
غلام جیلانی پیبنوری ۶۹
غلام صدیق ۷۳
غوریا ۶۱

ف
فاضل ٦٤
فضیل ٦٥
فیاض ٦٨
فیروزخان ختك ٦٩
فیض‌الله ٧٣
فیض‌الله مومند ٦٩
ق
قادرخان هوتك ٤٨
قدم ٣٥
قلندر ٦٥، ٧٣
قمرالدین ٧١
ك
کاظم خان شیدا ٦٥، ٦٦، ٧٢
کاکړ بابا ٢٩، ٣٠
کامران‌خان سدوزی ٤٠، ٤١
کامگار خان ختك ٦٥
کلات‌بابا (ر،و: شیخ متی) ٢٥
کمال بابا ٧٣
کند ٦١
گ
گرگین ٥٠
گل‌احمد ٧١
گل‌محمد ٦٤
گل‌محمد ٦٩
گهرگ سنگه ٧٠
ل
لیلی ٣٨
م
محمد ٦٣، ٦٤
محمداکبر هوتکی (حاجی) ٥٤
محمداکرم (شاعر) ٧٢
محمداکرم (عارف) ٣١
محمدامین (خاجی) ٧٢
محمداياز نیازی (ملا) ٥٢
محمدایوب ٧٣
محمدبستی ١٦
محمدجان‌خان وردگ (غازی) ٧٠
محمدجعفر اڅکزی ٥٣، ٦٢
محمد حافظ بارکزی (ملا) ٥٢
محمدکورگانی (میرزا) ٣٥
محمدداؤد هوتك ٤٣، ٤٨
محمددین ٧٠
محمدرسول هوتك ٤٤
محمدرفیق ٧٠
محمدزاهد ٣٥
محمدسعید (شیخ) ٦٤
محمدصدیق پوپلزی (ملا) ٥٢
محمدطاهر جمریانی ٥٢
محمدعادل بړیڅ (ملا) ٥٢
محمد عباس کاسی ٥٤
محمدعمر ٥٢
محمدعوفی ٤، ٥٧
محمدقاسم ٢٠
محمد قاسم (اخوند) ٦٦، ٧١
محمدکریم (ملا) ٧٣
محمدگل مسعود ٥٢
محمد هوتك ١٤، ٢٤، ٣١، ٣٣، ٤٢، ٤٤، ٤٧تر ٥٠، ٥٢، ٥٤، ٥٧ تر ٥٩، ٦١، ٦٢
محمدی ٦٥
محمدیونس خان ٥٢
محمود غزنوی (سلطان) ١٧، ٥٠
محمود مرغزی ٧٠

محمود هوتکی (شاه) ٦٠
مخلص ٧٣
مراد بخته (بی‌بی) ٢٥
مسعودگل ٧٢
مصطفی ٦٣
مطیع‌الله ٧١
معزالله ٦٥
مغدود (مودود، ملك) ٤٠
ملا خواجه ٧٣
ملکیار (شیخ) ٥٢،٨،٣
مهردل خان (سردار) ٥٤
مهین ٦٥
میرا ٧١
میران (ملا) ٧٣
میرداد ٣٥
میرزاخان انصاری ٧٢،٦٦،٦٥
میرفقیر ٧١
میرویس خان ٥٠
میلسن ٢١
ن
نادرافشار ٤٨
نازوانا ٥٢
نصرالدین خان انلر ٥٢
نصر لودی (امیر) ٢٢،٢٣، ٤١، ٦٠،٥٢،٤٧
نعمت‌الله (شاعر) ٧٠
نعمت‌الله هروی ٣٤،٣٢،٣١
نعیم ٦٤
نواب ٧٠
نورالدین ٧١
نورمحمد خروتی ٥٤
نورمحمد غلبجی (ملا) ٥٢
نورمحمد کاکړ ٣٠
نوروز ٧١،٧٠
نوره دین ٦٩
نوزاد نورزي ٢٨
نیکبخته (بی‌بی) ٤٣،٤٢،٣٥، ٥٢
ه
همایون ٣٥
هوتك بابا ٥٢،٤٩
ي
یارمحمد خان درانی ٦٩
یونس ٦٥

• • •

## «٢» دځایونو نومونه

الف
احمد آباد ٣٢
ارغسان (ر،و: ارغستان) ٩،٢
ارغستان ٦١
افغانستان ٦٨،٥٢،٥٠،٤٩
انارکلی ٧١
ایبټ آباد ٦٩
ب
بالاکوټ ٦٩
بالشتان ١٦
بتی‌کوټ ٧٠
بدنی ٤٢،٣٥
بریتانیا ٦٨
بست ١٦

بلوچستان ٦٨،٥٤
بمبئی ٦٧
بنزانس ٦٧
بنیر ٧٠
پ
پاریس ٦٩
پښتونخوا (پښتنخا) ١، ٢،٦،٧،
١١،١٣،٢٥،٥٠،٥١،٦٩
پښین ٦١
پنجاب ٦٧
پېښور ٣٥،٣٦،٤٢، ٦٣،٦٧،٦٨،
٦٩،٧١
ت
ترناك (ترنك) ٦١
توبه ٢٨
ج
جلال‌آباد ٧٠
ح
حرمین ٣٦
خ
خراسان ٤
خواجه امران غر ٦١
چ
چنارگرم ٣٦
د
دوابه ٣٦
دیراوت ٢٨
ډ
ډیلی ٤٠
ر
روه ٢٢،٣٩
ږ
ږوب ٢٨،٢٩،٦١
س
سمانه ٣١
سوات ٦٧،٦٨،٧٠
میسوری ٤٨
ښ
ښوراوك ٣١،٣٢
ښهرصفا ٤١
ع
عراق ٢٥
غ
غزنی ٤
غور ١٥،١٦،٢٢
ف
فالموت ٦٧
فرانسه ٦٩
ق
قندهار (ر،و: کندهار) ٣٩،٤٨،
٥٠،٥٤
ك
کابل ٣٩،٤٠،٥٣،٧٠،٧٣
کرمام ٦١
کلات ٤٤
کلات غونډی ٦١
کلکته ٦٧
کندهار ٢،٣١،٣٦،٣٧،٣٨، ٤٠،
٤٨، ٤٩،٥٠،٥٣، ٦٥، ٧٣
کوزك ٦١
کوکران ٦٥، ٦٨
کوئیته ٥٣، ٥٤
کیسې غر ٦،١٣
گ
گجرات ٣٢،٦٧

ل
لاهور ۳۶، ۷۱، ۷۲، ۶۹، ۷۲
لندن ۶۳، ۷۳
لوی افغانستان (ر،و: افغانستان)
۴۰
م
مازندران ۵۰
مرغه ۴۸، ۶۱
ملتان ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۶۷
منديش ۱۵
ن
ننگرهار ۷۰
و
وياله ۲، ۹
ه
هرات ۲۸، ۲۹
هرتفورد ۶۶، ۶۷
هلمند ۳۱
هند (همر،و: هندوستان) ۴، ۳۲، ۶۳، ۶۷، ۶۸، ۶۹، ۷۱
هندوستان ۳۱، ۴۶

## «۳» دتبرونـومونه

الف
ابدالی ۲
الكوزی ۳۷
انگریزان ۹۶، ۷۰
انگلیس (هم ر،و: انگریزان) ۶۵
پ
پښتانه ۱ تر ۳، ۵، ۱۲، ۱۵، ۲۰ تر ۲۲، ۲۴، ۲۵، ۳۱، ۳۲، ۳۵، ۴۰، ۴۸ تر ۵۲
پښتون (ر،و: پښتانه) ۴، ۳۵، ۷۰
خ
خدوخیل ۷۰
خلیل ۴۲
د
درانی ۲
ر
روښانیان ۷
ز
زمند ۲۵
س
سدوزی ۴۰
سکان ۶۹، ۷۰
سوریان ۱۵، ۱۶، ۴۷
ښ
ښالم خیل ۵۱
ص
صابزی ۲، ۹
ع
عرب ۲۱
غ
غزنوی (ر،و: غزنویان) ۴
غزنویان ۵۹
غلجی ۴۹
غوریاخیل ۴۲
غوری (غوریان) ۴
غوریان ۱۶، ۴۷، ۴۹
ك
کاسی ۵۴

ل
لودیان ۲۰تر۲۳،۴۱،۴۷
م
ماکو ۱،۲،۹
مرهته ۶۹
مغول ۳۶،۴۰،۵۰،۶۹

ه
هخامنشیان ۱۵
هوتك (هم ر،و: هوتـکیان) ۴۴، ۴۸،۴۹،۵۰،۵۱،۵۴
هوتکیان ۴۷،۴۹،۵۰

• • •

## «۴» دکتابونومونه

الف
اخبار اللودی ۲۰، ۲۱،۲۲، ۲۳، ۴۱،۵۸
ارشادالفقراء ۴۳،۵۸
اعلام اللوذعی (هم ر،و:) اخبـار اللودی ۴۰
افضل الطرایق ۵۸
اولیای افغان ۴۲، ۵۸
ب
بزم آرا ۵۷
بستان الاولیاء ۳۱،۳۲ تر۳۴،۵۸
بهار جانان ۷۳
بهارستان افغانی ۷۱،۷۲
بهارگلشن افغانی ۷۰
بهار نوروزی ۷۱
بیاض ۴۴،۴۵،۵۸
پ
پادشاه نامه ۴۰
پټه خزانه ۳،۱۴ تر۱۷،۱۹تر۲۴، ۲۷ تر ۶۲
پښتانه شعراء ۲،۱۳،۱۴،۶۵
پښتو بوستان ۵۸
پښتو گرامر ۶۷
پښتو محمود نامه ۵۸
پښتو مینول ۶۸
په ۱۶ پیړۍ کې پښتو اشعار ۶۷
ت
تاریخ احمدشاه درانی ۷۱
تاریخ افغانی ۴۲
تاریخ بیهقی ۴
تاریخ سلطان محمود غزنوی ۶۸
تاریخ سوری ۱۵ تر۱۸،۲۰،۲۵، ۲۶،۵۸
تاریخ سیستان ۴
تاریخ فرشته ۲۰
تاریخ مرصع ۶۶،۶۸،۷۱،۷۲
تحفهٔ صالح ۳۷،۳۸،۵۸
تحفهٔ واعظ ۵۸
تذکرةالابرار والاشرار ۳۵،۳۶
تذکرةالاولیاء ۱تر۱۵،۲۰،۵۸
تذکرةالاولیاء عطار ۲
تذکرهٔ اولیای افغان ۳۵،۳۶،۴۲
تذکرهٔ غرغښت ۲۹
ج
جشن نوروزی ۷۱
جوامع الحکایات ۴



www.libtool.com.cn

ح
حديقهٔ ختك ۵۸،۵٤
حيات افغاني ۲۱
خ
خلاصةالطب ٤۹،٤۸
خلاصة الفصاحت ٤۸
خلاصةالمريدين ۵۹
خورشيد جهان ۲۱
خيرالبيـــان ۱۱
چ
چمن بی نظير ٦۸،٦٤
د
داحمدشاه ابدالی ديوان ٦٦
د اشرفخان هجری ديوان ٦٦
دايسفالحکيم داستان ٦۷
د پښتو ادبياتو تاريخ ۲، ۱۵،۱٤،
۱۹، ۲۳، ۲۷، ۳۰، ۳۵، تر۳۷، ۳۹
دپښتو اوسنی تذکري ۷۳
د پښتو پخوانی تذکري ٦۳،٤۷
دپښتو دادب تاريخ ۷۳
دپښتو عروض ۵۹
دپښتو قلمی نسخو کتلاگ ۷۳
دپښتو نثرتاريخی تطورات ۱٤
دپښتونخوا دشعر هار وبهار ٦۹
د تخنيکی اصطلاحاتو هنـدی او
انگليسی فرهنگ ٦۸
دحميدبابا ديوان ٦٦
دخدای مينه ۵۸
دخواجه محمد بنگښ ديوان ٦٦
دخوشالخان ختك ديوان ٦٦،٦۸
د رحمان بابا ديوان ۵۰،۵٤،۵۸،
٦٦،٦۸
دسالو ورمه ۱،۳
دشاه حسين ديـوان ۵۸
دعبدالقادر خان ختك ديوان ٦٦
دکاظم شيدا ديوان ٦٦
داللهيار ديوان ۵۸
دمحمدهوتك ديوان ٤۸،۵۸
دميانعيم ديوان ٤۳
دميرزاخان انصاری ديوان ٦٦
دنازو ديوان ۵۸
د۱۳۱۹ کابل کالنی ۲،۱۳،۱٤
ز
زين الاخبار ٤
ش
شکرستان افغانی ۷۲
شهزاده بهرام او گل اندامه ٦۸
ط
طبقات ناصری ٤،٦۸،۷۳
طلوع افغان ۵۳
غ
غرغښت نامه ۲۸تر۳۰،۵۸
ف
فوايدالشريعة ٦٦،۷۱
ق
قاموس (انگليسی په پښتو) ٦۸
قاموس (پښتو په انگليسی) ٦۷
قرآن کريم ۳۱
قصص العاشقين (شيهااوگلان)۵۸
قلمی جونگ ٦۵
ك
کليد افغانی ٦۵،٦۸،٦۹
کليد کامرانی ۲۰،۲۱،۲۳،٤۰،٤۱

www.libtool.com.cn

کلیله د منه (علم خـانهٔ دانش) ٦٦، ٧٢
ګ
ګلدسته ٦٦، ٧٢
ګلدستهٔ زعفرانی ٥٨، ٦٠
ګلزار مدینه ٧٢
ګلستان ٦٦
ګلشن روه ٦٥، ٦٨
ګنج پښتو ٦٨
ل
لباب الالباب ٤، ٥٧
لرغونی پښتانه ١٥، ١٦، ١٩، ٢٤ ٢٥، ٢٦، ٣٥، ٥٨
م
محاسن الصلوة ٥٨
مخزن افغانی ٣١، ٣٤، تر٣٦، ٤٣، ٥٤، ٥٨
مخزن الاسلام ١١، ٦٣، ٦٤، ٦٦، ٧١
معجم الادباء ٢٧
مناقب الشعراء ٥٧
منتخبات اشعار افغانی ٦٧
ن
نافع مسلمین ٥٨
و
وندر ٥٣، ٦٢
ه
هوتکیان ٦٢
ی
یوسف اوزلیخا ٦٦
یوه بی نومه قلمی مجموعه ٦٤

www.hutool.com.cn

## «٥» متفرق نومونه

آ
آریایی ژبی ٧
آریایی سرودونه ٥٩
آریایی سندري ٨
الف
اسلام (دین) ١٧، ٢٢، ٢٦، ٤١
انګریزی (ژبه) ٦٩
انګلیسی (هم ر،و: انګریزی) ٦٦، ٦٧، ٦٨
ایست اندیا کمپنی ٦٧
ب
بریتش موزیم ٦٣ تر ٦٥، ٧٣
پ
پارسی (ژبه) ٤، ٥، ٧، ٢٩، ٣٣، ٥٩
پښتو (ژبه) ١ تر٩، ١١، ١٥ تر ١٨، ٢١، ٢٢، ٢٤ تر٢٦، ٢٨ تر ٣١، ٣٣ تر ٣٥، ٣٧، ٤٠، ٤٢، ٤٥، ٤٦، ٥٠، ٥٢ تر٥٤، ٥٨ تر٦٠، ٦٣ تر٧٣
پښتو ټولنه ٥٣
پنجاب یونیورستی ٧١
ت
تاریخ ټولنه ٣٤، ٦٢، ٧٣
د
دافغانستان دخطی نسخو کتابخانه ٥٤، ٦٤
دری (ژبه، هم ر،و: پارسی) ٨، ٣٨، ٥٩، ٧٣
دسیتون آستین مطبعه ٦٦
دصابر مطبعه ٧٣
دکلتور اواطلاعاتو وزارت ٦٤
دګلبرت مطبعه ٦٧

ع
عربی (ژبه) ٥تر ٨، ٢٢، ٢٥، ٢٦،
٢٩، ٣٣، ٥٧،٣٨، ٥٩
ف
فارسی (ژبه، هم ر،و: دری) ٥٧
ق
قادریه طریقه ٣٦
م
مطبع مفید عام ٧٢
و
ویدا ٧
ویدی سرودونه ٧
هـ
هندی (ژبه) ٣٣

www.libtool.com.cn

• • •

# کار کوونکی

آپریټر: ښاغلی قادر علی «نادری» .
سرمرتب : ښاغلی محمدحسین«حسن زاده» .
ماشینکاران : ښا غلی محمـــدابراهیم اوښاغلی محمدعوض .
همدا راز دلینوټایپ دڅانګې آمرښاغلـــی عبـــدالصمـــد «امیـــری» او مرستیال ښاغلی عبدالحکیم ،او همښاغلی غلام محمد«تره کی»او ښاغلی محمدبشیر ته چی‌دچاپ پهبرخه کی‌یی‌زیات کړاوګاللی کورودانی وایم .
اوهمدا رنګه‌دصحافی اوزینګوګرافی‌دڅانګو زیاته توجه اوزیار دیادونی اومننی‌وړ دی.
«ح ـ ر»

B
1.237
RAF
4699

www.libtool.com.cn

# EARLY BIOGRAPHIES OF PASHTO PEOTS

By

*Habibullah Rafi*

Published by the
Historical and Literary Society
of Afghanistan Academy

1971

دولتی مطبعه